بسم الله الرحمن الرحیم

# بې موره

## دلنډوکیسو ټولګه

لیکوال : رفیع الله (روښن)

کال: ۱۳۹۰ هـ لمریز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | بې موره |
| لیکوال : | رفیع الله (روشن) |
| د چاپ نېټه: | ۱۳۹۰هـ لمریز |
| کمپوز : | پخپله لیکوال |
| ډیزاین: | رضا خان (ایوب زاده ) |
| د چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ټوکه |
| خپروندی : | د خوست ولایت مقام |
| د خپرونولړ: | لومړی |



هغه کتابونه چې سمسور ووبپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پر
لیکه کوي، نور څوک یې
پر لیکه کول اجازه نه لري

WWW.SAMSOOR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپلې درنې مور ته چې تل يې پخپله پښتنه غېږه کې له هېواد او هېوادوالو سره د مينې او عاطفې درس راکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښخودرویه غاټول وږمي

د پښتو ژبې نامتو صوفي شاعر عبدالرحمن بابا وايي: ((دا دستور
دی چې له درده زګېروي خېژي ـ کنه څه و درحمان له شاعرۍ))
رښتیا هم رحمان بابا یو واقعیت ته اشاره کړېده، چې درد نه وي
زګېروي نه وي، چې د زړه انګار تازه نشي نو له خولې اسوېلي نه
راووځي او چې دچا د زړه مانۍ او د احساساتو او هیلو نړۍ لمبه
نشي نو له سر څخه یې دود نه پورته کېږي.
خودا یوا ځې تراژېدي نه ده چې انسان د حال له کیفیت څخه د قال
کیفیت ته بیایي، بلکې د هر ځله خود طبیعت لوربیني او پر بشر او
دهغه پر چاپېریال دفطرت پېرزوینې هم دانسان احساس ټومبي
.معنا داچې د انسان عواطف ،احاساسات، جذبات، فکراو لید
لوری دشرایطو او حالاتو په زولنوتړلی او مجبور انسان آن د خپلو
احساساتو او عاطفې واکمن هم ندی، او شاعراو لیکوال خو بیا په
دې اړه ډېر ژر اغېزمن کېږي، دهغه زړه او ضمیر د شګو کمر دی،
چې دجوړولو او نړولولپاره یې کوچنۍ پلمه په کار ده، هغه له شګو
خیالي سلیماني قصرجوړ، دسرابو دېوال تري تاو اودبنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکلکوالي لپاره يې د خپل ذهن په کوره (داش) کې زرتنه سرب او فولاد ذوب(ويلې) کړي،اسمان يې ورته چت ،لمر، سپوږمۍ او ستوري يې ورته قنديلونه (فانوس) او د سپرلي په ګلورين موسم کې د طبيعت شين بخمل ورته تغر کړي، له کوه قافه ورته زبزبانه،بدرۍ جماله او ماسندره ښاپېرۍ راولي،د امنيت لپاره يې د دېوانو اوه کمربنده ترې تاو کړي، د ورېمو په لفت کې ترې اسمان ته خېژي او راښکته کېږي، خو څو شېبې وروسته يې چې کوم بل عامل د بې پوستکي بدن د غوښو بوټۍ وسکوندي نو د سترګو په رپ کې يې بيا د امانۍ نړولي او پرځای يې اوه طبقې جهنم انځور کړی وي. هغه متعادله ژوند نلري؛ د ژوند دوبۍ ترې سقراوژمی يې زمهريرشي،کله دومره ستر شي چې د زمان او مکان له قيده هم ووځي او کله بيا دومره کوچنی شي چې له ماشي هم ځان په شيشه يې خونه کې ساتي.

ددې کشمکش يو تن اسير،دخوف اورجاترمنځ راګېراو په عين وخت کې دميکدې اوبتکدې ذهير،ښاغلی رفيع الله روشن هم دی،هغه ته هم تقدير د شاعرۍ او ليکوالۍ خواري په برخه او د سرګردانۍ طوق پرغاړه اچولی دی.

دده دزړه په نرۍ د لمبوغرونه او د خيالي سل پوړيزو اسمانڅکو د شاعرانه مهندسۍ وړتيا ددې لامل شوه چې هغه په ډېر کم وخت کې انګشت نما او وځلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که نه،نه دده زماني عمر او نه يې هم ادبي عمر دومره دی ،ښاغلی روشن به د شل،يوويشت کالوځلمي وي خو داد ب او ليکوالۍ په ډګر کې يې عمرله تې خوره کوچني ډ ېرندی،مينه او اشتياق يې پرخپل ځای خوايله دوه کاله کېږي چې ده ته په ادبياتوکې د ګام ايښودنې عملي زمينه برابره شوېده .

روشن هم دنوي کول دډېرو ځلميانو په څېر په ستونزو(دهجرت په ديار )کې را وټوکېد ،په ستونزوکې را لوی شو او په ستونزوکې ژوند کوي،دهغه چاپېريال هم له ستونزوډک دی.

دده دکيسو په چينه کې دده دکلي او سيمې ستونزې داري وهي، ده هم همدا ستونزې را ټولې کړي ،دالفاظو په جامه کې نغښتې او تاسوته يې وړاندې کړېدي.

دده دکيسو سوژې د ده د ولس او دده د سيمې واقعيتونه دي،هغه چې ښايي دافغانستان په څېر وروسته پاتې او جنګ ځپلې هېواداو دافغانانو په څېر زړه ماتې ملت کې يې په اوړوکې دمالګې هومره هم رسنيو ته ورو نه رسېږي ،روشن دهمدې سوژوپه اوربل کې ګلان ايښې او دخپل ذهن په سنبالتون(ارايشګاه )کې يې سرڅنډه کړې دي ، ده دخپلې ټولنې دردونه اوو قعيتونه انځورکړيدي.

کـه څه هم دافغانستان په څېر دردېدلې ټولنه کې چې لاهم د ښکېلاک په پنجوکې ده او هره ورځ مو په ببلا ببلو پلمو سلګونه ځوانان او پېغلې ځوانيمرګوي، د سوژو کمی نشته خو د سوژو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخاب او سوژوته پام ورا وښتل ذهين ذهن غواړي ،اوروشن په دې اړه ډېرښه او ځانګړی استعداد لري.

ادبيان ،لنډه کيسه،واقعيت ،نه بلکې د واقعيت تمثيل بولي،خو د روشن کيسې له شک پرته له لږ مجاز تصرف سره ټولې واقعيت دي،دده د کيسو سوژې يا کورنی تاو تريخوالی،يانا سم دودونه يا نېستې او تنګ لاسي،يا د ښکېلاک او زبېښاک ظلمونه او يا روان سياسي ناورين دی.

که څه هم پښتانه اديبان د لنډې کيسې ژانر(صنف)نوی نه تجربه کوي خو له شک پرته په پښتنو په ځانګړې توګه په بره پښتونخوا کې د کيسه ليکلو فن لا ځوان دی،لاهم مشق او تمرين ته اړتيا لري،هيله ده چې د پښتو غزل په څېر د پښتو کيسې اننګوکې هم د کوم (حمزه)دوينو سره وځلېږي او زموږ د ځوانی پرمهال يې پېغله کړي، زه چې د پښتو کيسې د حرکت سرعت وينم د هيله مندی تر څنګ يو څه ټکنی هم شم ځکه چې د طالبانو په وخت کې چې د اقتصادي محروميت پير وو ، د اوس په پرتله لنډې کيسې ته پام ډېر وو ،که دا پام همدا سې پالل شوی وای،نو ښايي ډېر پرمختګ شوای وای،خو استعمارلا دا سې کانې رابانديې ونکړې چې اوس دې څوک کيسې يا شعر ليکلو ته وخت ورکړي.

((يو خوښايست په دنيا ډېر شو_بل د چاپان رختونو وکړل پساتونه))

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـه دلنـډې کیسـې مبلغـین او لنـډې کیسـې تـه بلـونکي چـې پـه اوونۍ کې به یې دوه درې کیسې لیکلې نن وینو چې ډالرو او پونډو دومره خمار کړي چې په کال کې یوه کیسه هم نه لیکي.

خوله نېکه مرغه ښاغلي روشن شعر او کیسې ته کار ویلی، تر او سه خو په پوره مینه او لېوالتیا دا کار کوي، هیله ده چې د نورولسګونو هغو په څېر ژر زړه ماتی نشي.

هر شاګرد ، استاد اولارښوونکي تـه اړتیـالري، هرڅوک بایـد وروزل شي، دهر چا دکار نیمګړتیا او نوښتونه باید دیوه استاد پـه واسطه وروښودل شي چې مبتدي(پیلوونکی )همدې لارښوونوته پـه پـام سره خپل مزل لنډ کړي خو یوبل حقیقت چې بایـد لـه لوستونکیو سره شریک کړل شي، دادی چې لـه روشـن سره هېڅـا هم دا مرستـه نـه ده کړې، تر مـا پورې چې ((خوریی، او ددفترهمکارمې هم دی ))، موږ دده د استعداد پـه روزنه کې ناغېړي او ناراستي کړېده، (ښایي لـوی لامل یې د چاپان رختونه ،بوختیاوې او دپونډ او ډالرولېونۍ مینه وي) ده تـه هېچـا نـه دي ویلـي چـې کیسـه څنګـه پیـل کـړه ،اتـلان اوکرکتران څنګه وروزه ،کیسه څنګه پای تـه ورسوه، تلوسه پکې څنګه ژوندۍ ساته اوغوټه یې څنګه پرانیزه، هغه خودرویـه بیابـاني غاټول دی ،که کیسې یې په تول پوره وي دده کمال دی اوکه فني او تخنیکي نیمګړتیاوې ولري نو زموږ تقصیر دی.

خودادوه نصیحتونه مې ورتـه ډېر کړي اوده کم پـه پـام کې نیولي چې په کیسه کې ډېر کرکټرونه مه را ګډوه ځکه چې پالـل یـې سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي،بل داچې له متن او الفاظو سره انصاف کوه،هڅه وکړه چې مفاهيم درنه تکرار او ليکنه اوږده نشي.
په هرحال کيسې يې د ېر ښې موخې ، ښوونيز او روزنيز پيغامونه لري، کيسه تربلې يې کيسه ييزه ژبه خوږه شوې ،ذوق او مينه يې تانده او ځپانده ده ،که څه هم بوختياوې يې ډېرې دي؛ خو داچې ځوان دی هيله ده په نږدې راتلونکې کې دده ډېرو برياوو ، علمي ،تحقيقي او تخليقي پنځونو شاهدان واوسو ،اخر د لغمان اوبيا د علامه الفت صاحب د کلي دی،دومره خو بايد د الفت افکار،اثاراو مزارهم پرې اغېزوکړې،ده ته د نېکمرغه،روښانه،له برياوو او خوښيو ډک سباوون په هيله.

محمد حسن حقيار
۵_۱_۱۳۹۰هجري لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دا الفت د ګلبڼ نوی ګل

قدرمنولوستونکیو:- دانقلاب کلونه دجنګ له غمیزوسره چې ټولنه یې له ډېرو ناخوالوسره مخ کړې، دبې ګناه خلکو شهادت، مها جرتونه،بې کوري ،فقر اوبدبختۍ یې هم له ځانه سره درلودې ؛خوله نېکه مرغه ښه استعدادونه یې هم وروزل، چې زمونږاوسني ځوانان یې ښې بېلګې دي چې دژوند په بېلابېلو اړخونوکې خپل لیاقت اومهارت ښایي ؛ یو له هغواستعدادنوڅخه هم ځوان لیکوال اوشاعر ښاغلی رفیع الله روشن دی، اروابناد پوهاند عبد الشکوررشادوایي:

زمانه چې پر مدار د کیـــــــــنې راشي
دکمال په منارو تکــــــــــــې بر پاشي
ډېر کلونه دي په کار چې په دې ملک کې
بیا الفت غوندې شېوا شـــــاعرپیدا شي

دا دحقیقت نه لرې خبره نه ده چې هیلې نه مرې د زمان په تېرېدو سره بیا بیا ځوانېږي دادی بیا نن د الفت صاحب په په باغ کې یوداسې ګلبوټی د غوړېدو په حال کې دی چې پښتو ادب ته به خپلو ځانګو کې ډېردهنر ګلان وسپړي دا دهنرډښکلا نوی ټوکیدلی ګل ځوان او ډېرد ښه استعداد لرونکی شخصیت چې راتلونکي لپاره د پښتو د ادب هنر په پنځونو کې ترې ډېرې هیلې کېدای شي ښاغلی رفیع الله روشن دی چې په ډېر لږ وخت کې یې د لنډو کیسو په لیکلو کې خپل هنري استعداد وځلاوه روشن د افغانستان د جنګ په لسیزو کې پیدا او لوی شوی ؛لکه یو ماهرعکاس دخپلې ټولنې دعیني شاهد په څېر انځورونه اخلي او ریالستیکې کیسې ترې جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دکسیو په لیکلو کې ښه استعداد لري پدې پوهېږي چې عنوان څنګه وټاکي شروع،منځ پانګه او بیا څنګه ورته د پای ټکی کېږدي چې دا دلیکوال هنرمعلوموي او دلوستونکي دتوجه وړ ګرځي، یو څه چې شاعران او لیکولان باید ډېر ورته پام وکړي هغه دادی چې لوستونکي لوستلو ته مجبورکړي؛ دا ټول هغه څه دي چې په لیکنو کې توازن ښه مراعت شي؛ ښاغلی روښن د خپلې د ټولنۍ فلکورسره بلداودټولنې په ناخوالویې ژورفکر کړی ؛هغه په خپله هره کیسه کې ټولنې او لوستونکیو ته په ساده ژبه ژور پیغام ورکوي، زه اکثرن د هغه لیکنې د نبټ په څپو کې لولمه او باور لرمه چې د ښاغلي مرحوم الفت صاحب په پل به قدم اخلي اودامې ورته دیوې خورپه صفت نصېحت هم دی، د لیکوال فکري استعداد د قدر وړ دی، چې دانقلاب په کلونوکې دخپلې ټولنې په ناخوالو یې فکر کړی او هغه حقایقو څخه یې پرده پورته کړې چې ټولنه اوډېری کورنۍ ورسره لاس او ګرېوان دي، که تاسې دا کتاب تراخره پورې ولولئ، کله به مووژړوي او کله به مو وخندوي؛ زه نه غواړمه ډېر څه ولیکم هغه څه چې باید ورڅخه یادونه وشي زمونږ پیاوړي لیکوال محترم محمدحسن حقیارصاحب پرې خپل نظر څرګند کړی دا د ویاړ ځای دی چې نن بیا د الفت صاحب په ګلبڼ کې یو داسې ګلبوټی زرغون شوی چې دپښتو ادب ته به ډېر د ښایست ګلونه وخپري اوپه اوربل کې به یې ورته کېږدي، زه پخپل وار ښاغلی رفیع الله روښن ته د زړه له کومې مبارکي وایم دده دلابریالیتوبونو په هیله تاسې محترم لوستونکي را بولمه د کتاب لوستولو ته.

دخورولې په مینه زرلښته حفیظ کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سريزې په پلمه

غوښتل مې چې د کيسه ليکنې ډګر ته د راوتلو او د خپلو کيسو د منځپانګې او سوژو په اړه له لوستونکيو سره د زړه خواله وکړم، خو ګومان کوم چې پر دې کيسو د ښاغلي حقيار ليکنې داتشه ډکه او دا اړتيا يې پوره کړه او پدې بوختـه نړۍ کې د تکرار المکررات لوستلو ته څوک اوزګار ندي نو ځکه ترې تېر شوم خو دا په ځان پور بولم چې له ډېر درانه ورور او د ادب د ګلبڼ له بلبل ګران اميرزېب (دراني) څخه د زړه له تله مننه وکړم ،کور وداني ورته ووايم چې تر هرچا زيات يې زه د لنډو کيسو ليکلو ته هڅولی يم، زما هره ليکنه او بې خونده کيسه يې په خوند او ډېره مينه لوستې،د کلمه کړې يې ده ، ليکوالۍ ته يې هڅولی او دخپلو خورو ورو کيسو راټولو ته يې اړ وېستی يم او که دده زيار او پام نه وای ښايي دومره ژر موددې کيسو ناوې د چاپ په ګانه پسوللې نه وای ليدلې.

له خپل درانه استاد ،ماما او همکار ښاغلي الحاج قاضي محمد حسن (حقيار) هم چې تل يې ماته د خپل پلار مينه راکړې او هڅکله مې دده په شتون کې د خپل پلار ربيلتون ندی احساس کړی، منندوی يم، زما هره نثري او نظمي پنځونه، دده له کتلو ورو سته خپره شوې .،ماته يې ډېرې لارښوونې کړېدي او کوي به يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له درنې خور زرلښتې حفیظ څخه هم ډېره ډېره مننه چې لوریینې او مینه ناک چلندیې په نااشنایۍ کې ورسره اشناکړم ، په بوختنه نړۍ ( کاناډا ) کې یې زما دکیسولوستلو ته وخت ورکړ او تل یې هڅولی او نازولی یم.

له ګران ورور رضاخان (ایوب زاده ) څخه هم ډېرمننددوی یم چې ددې کتاب په سرخنه کولو( ډیزاین )کې یې زحمت ووېست او کم ترکمه دې کتاب ته یې ظاهري ښکلا ورکړه.

له هغو لوستونکیو مخکې ترمخکې بخښنه غواړم چې ښایي ځینې کیسې یې په طبیعت ښې ونه لګېږي ځکه ذوقونه بېل بېل دي .دازمالومړی تولګه ده نیمګړتیاوې به پکې ضرور وي خو داپرتاسو چې بله هغه مې تردې ښه او ستاسو په ذوق برابره راشي نو ددې بریا لپاره راته همدااوس دلوی الله ج دربار ته ددعا لاسونه لپه کړئ.

دټولو کوروادان

رفیع الله روشن

۱۳۹۰/۱/۱۰ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټورخم څنځیر

کله چې دافغانستان له ازادۍ سره سم له پاکستان څخه راکډه شو نوبیا پاکستان ته نه وم تللی؛ زړه مې کېده چې یوچکر ولاړ شم مګر هېڅ چانس نه پیدا کېده، ډېر وخت کېده یوه ورځ په کورکې ناست وم چې د تره ځوی مې موږ کره راغی او یوه کارت یې راکړ کارت له پاکستان هریپور څخه راغلی وه چې موږ پکې سره دفامیله غوښتل شوي وو؛ له فامیل سره خو ټول ځکه نشو تللای چې له یوې خوا اوضاع خرابه وه او له بلې خوا سرکونه داسې وو چې تر ډوبه بېرته راتلې نو ددوارو خواوو دکرایې هومره پیسې به دماشومانو په درملنه، باندې لږېدلې ،مازدیګر وه په کورکې سره راټول شوو، مشوره موکوله چې څوک باید ولاړشي ،له ډېر جراوبحث نه وروسته پلار دګوتې په نیولو سره ماته اشاره وکړه اوویې ویل چې ته باید ولاړشې؛ زه چې ددې خبرې اورېدوته ډېرلېوال وم ،په اورېدو مې په زړه دخوشحالۍ ساړه راننوتل دډېرې زیاتې خوښۍ احساس مې وکړ لکه پلار چې راته یوغټ اوقیمتي شی تحفه راکړی وي، ډېر وارخطاوم ویل مې چې کله به داشپه سباکېږي ،خیرخوشپه سباشوه اوسهار له لمانځه نه وروسته سرک ته ووتم موټرراغی اوپکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښیناستم لاړم جلال اباد ته او له جلال اباد څخه د تورخم په موټرکې کېناستم ، په لاره کې مې د خوشحالۍ تر څنګ په زړه کې ډارهم راته ځکه چې له د ېنه مخکې کله پاکستان ته ګوښې نه وم تللی ، له بلې خوا به مې په فکرکې هغه دکلیوالو خبرې اوښتې راوښتې چې ویل به یې: د تورخم په ځنځیر کې پاکستاني پولیس افغانان ډېر تنګوي لنډه دا چې د ماسپښین دوه بجې وې چې د تورخم زاړه ګمرک تر څنګ له موټرڅخه ښکته شوو ، او د ځنځیر په لور پلې روان شو ډېر زیات بیرا و بارو په هغه وخت کې به د تورخم دروازه د ماښام په اوو بجو بندېده نو هرڅابه بېړه کوله څومره ژر چې امکان لري باید له ځنځیر څخه ځان په وخت واړوي کله چې ځنځیرته ورسېدم نو لکه دیولار ورکي په شان مې اخوا او دېخوا ته کتل په فکرکې به مې د کلیوالو خبرې یوشور جوړ کړی و ، په همدې سوچوا وفکرونو کې روان وم ګورم چې د دروازې په دې طرف کې افغانستان عسکر او په هغه طرف کې د پاکستان (عسکر )ولاړول د پاکستان پولیسو په افغانانو ډېره ناروا کوله سپکې سپورې به یې ورته ویلې اوزموږ د افغانستان عسکرو به ورته خندل ، و الله چې زه خوزموږ د عسکرو دې غیرت ته په تعجب کې شوم؛ په هر حال د نورو خلکو په شان مې خپله لاره لنډوله چې د چیشت په اوربدو مې داسې احساس وکړ لکه څوک چې راته دودربدلو وایې ، مګرمادا سې تصورورکړچې ماهیڅ هم نه دي اوربدلي او خپلو قدمونو ته مې ادامه ورکړه چې بیاد ماجره له غربسره یوځای په چپه اوره د یودرونند لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلګېدلو سره نژدې وه چې له خولې نه مې بې اختیاره چیغه ووځي مګر ځان مې راقابو کړ ګورم چې یو پاکستانی پولیس ده له پټکو او رټولو وروسته یې له لاسه ونیولم او کش یې کړم په دې وخت کې مې زمونږ د ټولنې په خدمتګار (پولیس ) په لوړ په نهیلي انداز وکتل، خو هغه پرته له دې چې راته وخاندي هېڅ هم ونکړل ، مګر زه دده د مسکا په معنی نه پوهېدم زه پاکستاني عسکر له لاسه ونیولم او ګوښه یې کړم ، راته یې ویل چې ژر شه او د چایو پیسې راکوه ګني درته خه به نشي، ماورته وویل اخر زما ګناه ؟خو زه په دې نه پوهیدم چې دا په هر افغان چه ددې ځنځیر څخه تېرېږي ددوی کلنګ دی نو راته ویې ویل هسې زمونږ وخت مه ضایع کوه او کنه نو (اې سې چو صیب) ته دې بیایم ماله ځان سره وویل چې زه هغه خوبه دومره ظالم نه وي کېدای شي چې پرې مې ږدي او ورسره روان شوم له ځنځیرنه په لېرې فاصله کې یوه غرفه وه او هلته یو تور سړی پکې په څوکۍ ناست و اخبار ته په کتلو یې سرټیټ اچولی وه او داوړې په سریې رقم رقم نشانونه په درویشۍ ټومبلي وو ، دغه عسکر چې زه یې دلاس نه کلک نیولی وم دده په مخ کې د سلامۍ له وهلو سره ودرولم او په اوردویې ورته څه وویل خوزه پرې پوه نشوم او له یوې بلې سلامۍ سره روان شو ؛ناست سړي په ډېر غرور سره سر له اخبار نه راپورته کړ او مخې ته ایښې د چایو پیاله یې راپورته کړه او ویې ویل خیر خو به وي کنه ځوانه چرته روان یې؟ زه چې ډېر وارخطا وم او وېرېدم نو د ځان د خلاصون لپاره مې د واده پر ځای د مړي کلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعمال کړه او ورته مې وویل صیب مړي ته روان یم په کړس کړس یې وخندل افغانان تول ډېر چالاکه دي یو شان دي هېڅ فرق نکوي غټېږي او که کوچني ایا ستا پلار ،تره اویا مشر ورور نشته چې ته مړي ته روان یې زه غلی ولاړ وم او لکه د خزان وهلې پاڼې پشان رپېدلم یوه شېبه دواړه غلي ولاړوو خو ما د اسکوت مات کړاو په ډېره سختۍ مې ورته وویل صیب زه به ولاړ شم چې ناوخته کېږي.له دې سره یې راته وویل زموږ د چای پاني پیسې راکړه او ورځه؛ ماورته وویل چې له ماسره خو پیسې نشته خو په ډېرو پټکواو ګوانښونو یې مجبور کړم چې پیسې ورکړم، جېب ته مې لاس کړاو دوه سوه روپۍ مې ورته ونیولې ، دا یې واخیستې او ویې ویل همدومره نورې هم راکړه چې هغه بل ملګري ته یې ورکړم ،ماورته وویل چې له ماسره خونورې نشته .له دې سره یې زما جېب ته لاس کړاو ټولې پیسې یې واخستې او روان شو ماته یې هم د تلو وویل ،له غرفې نه راووتم ګورم چې سړی مخامخ هغه افغاني عسکر ته ورغی کوم چې کله زه هغه پاکستاني پولیس ونیولم او ده ورته خندل او روپۍ یې ورکړې او یو بل ته یې لکه د انګریزانو په شان د ګوتو نیولو سره ټینګیو وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مرګ په ورځ

په ټوله لاره کې مې له ځان سره کرل- ربېل. د خيال په د نګو ماڼيو کې مې ځانته شاهي خونې ودانولې، رنګ رنګ کوچونه او غالۍ به مې پرې غوړېدلې ليدل؛ خو چې په رښتيا به مې ځان ته پام شو؛ نو زما خيال به تر امکان څو پوړۍ وړاندې تللی و. اندېښنو به وا خستم، هی هی ! په دې ۱۰۰۰۰زر افغانو تنخوا به ورته څه وا خلې؟. د موټر له هېندارو ها خوا د سړک تر څنګ نژدې کورونه، کروندې او پلې روان خلک مې د ډېر خوښمن احساسول؛ خو خپل ځان مې بيا تر هغو کم ګڼه، سترګې به مې له اوښکو ډکې شوې، مخ به مې د اسمان په لور ونيو، د الله تعالی دې لوی نظام کې به راته د تسليت نښې ښکاره شوې، چې په نړۍ کې خو يې دا هرڅه د انسان ګټې ته پيدا کړي؛ نو څه کمې دی د هغه لوی ذات په دربار کې د داسې غوښتنو پوره کول؛ خو څه مشکل کار نه دی.

خو کله چې به راته د (هغې) لخوا زما دې پوښتنې ته، چې کور مو چېرې دی؟ د(نه) ځواب راکول را په زړه شول؛ نو سمدواره به په نيولې پرېکړه پښېمانه شوم: نه، هېڅ هم ورته نه اخلم، ولې پر ما دومره اعتبار نه کوي، پوښتنې ته مې رډ ځواب راکوي او راته وايي چې ( نه اوس نه )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه نو کله ! د مرګ په ورځ !؟
دا دربېیم ځل دی چې زما د پوښتنې په ځواب کې ترې اورم( نه اوس نه ) فکر کوم دا لکه چې پر ما مسخرې کوي.
بیابه مې وویل:نه، تېروتې یم، زه هغې ته ګران یم. ته وګوره ! چې کله یې ځوروم؛ نو هېڅ هم راته نه وایي.
ومې خندل، څه ساده ! دومره نازونه خو باید وکړي ! اخرڅومره ښکلې ده؟ د خپل نوم هومره.
په همدې سوچونوکې راته هغه شېبې په ذهن کې انځورشوې، چې یوه ورځ مې ورته وویل: ته خو پښتنه یې؛ نوبیادې نوم ولې د (دری) ژبو دی !؟
په کړس یې وخند ، ولې دا خو څه ما پخپله ځانته ندی غوره کړی، چې ته دا سې خبرې کوې ! !
ورته ومې ویل: زه نور درته (مژګان) نه وایم !
- ښه نو څه راته وایې؟
- برېښنا !
- څه څه ! دا درته چاویلي دي !؟
حیرانه شوه اوماته یې همدا سې ژورکتل.
- و مې پوښتل: د څه شي راته چاویلي دي؟
- ویې ویل زما اصلي نوم برېښنا ده.
- ما وویل:زه له دې نه مخکې نه وم خبر او نه راته چا ویلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- یوازې پلار جان مې راته بربښنا وایي، نور په کورکې ټول راته مژګان وایي.
غوښتل مې چل پرې وکړم او کورپې معلوم کړم.
- کور مو چېرې دی؟
-اوس نه !
جدي شوم. ښه؛ نو کله !؟
- د مرګ په ورځ.
- افففففف بس د مرګ تروزخې نور درسره خبرې نکوم.
- څه ! له ما سره خبرې نه کوې !؟
- خود نو ، بل چا سره خومې د زړه خبرې نه شم شریکولی.
-هغې راته ښکته پورته کتل او ویې ویل اخرپه څه خبره ؟
- بس دی، ما ستا له ژبې بغیر د مرګ له ورځې بل څه وانه وربدل، ته تل راته همدا اپلتې وایې.
- اوهو نازولیه درته وایم یې !
- ښه نو ووایه، همدا اوس اوکنه نو...
- وترهېده ،کنه نو بیا څه کوې؟
غوښتل یې چې زما له خولې خبرې واوري.
ورته ومې ویل: ووایه کنه بربښنا ولې مې ځوروې !
له خندا شنه شوه ، په مکر جنه لهجه یې وویل: ولې داسې وارخطا یې ؟فکر مې په بله شو ، د سوچونو ټالونو داسې دروند وزنګولم چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږه شیبه کې مې هر څه هېر شول، نه پوهېدم، چې کوم ځای کې یم، د څه لپاره راغلی وم او چېرته ځم.
ناڅهانه د موټر ټایرونو کریکې شروع کړې، ټکان مې وخوړل، لړزې واخیستم، په موټر کې د ناستو خلکو په ژبو د خیر- خیر نارې پورته شوې.
زه چې د موټر دروازې ته څېرمه ناست وم، په بېړه له موټر نه راکوز شوم.ومې لیدل چې د موټرمخې ته یوه انجلۍ پر سړک نسکوره ده، سرې جامې یې پرتن او پړمخې پرته ده.
د مرستې په نیت ورټیټ شوم. راپورته مې کړه. د سړک غاړې ته شوم. د کېنولو په هیله مې له غېږې ښکته کړه، پوه شوم چې دمه په کې نشته. پړونی یې په غاړه کې تاو شوی پروت و، له سر نه یې سرې وینې بهېدې، غاړه یې کږه شوه مخ یې راواړوه. پښې مې سستې شوې، په سترګو مې تیاره راغله.
اوه زما خدایه دا خو بریښنا ده کنه ! !
هغې ارزو لرله چې خپله ژمنه سرته ورسوي، سلګیو ونیوه، شونډې یې د خبرو کولو په نیت ببلې شوې، په بنده- بنده ژبه یې وویل: زموږ کور په خوشحال خان شاداب ظفربلا .. نور یې سترګې سره ورغلې اوسریې څوړند شو خوهغه به اوس هم نه وه خبره چې دا زه یم کنه اوس به یې هم دا خبره نوای کړې،هغه بیاهم بریالۍ شوه او خپله ژمنه یې سرته ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه تصویر

کلـه یـې چـې پـه
لمړي ځل ولیـدل
اوزړونــــه یــــې
دیوبـــــل پــــه
ختیـارکې ورکـړل
،نوهغـــه وخـــت
شــــوکت پـــــه
بازارکې د سیمیساری دکان درلوده،یوه ورځ په دکان کې ناست وه چې دکان ته یوه نجلۍ ورننوته، نجلۍ څه، سمه حوره وه ! دده چې پرې پام شوه هغه دومره ښایسته وه چې هرڅه یې ترې هېرکړل اوپه ننداره یې شو ،هغه راغله اوپه شوکیس کې دننه غمي دارلاکټ ته چې ګردچاپېریې غمي ول اوپه منځ کې یې د زړه تصویر جوړشوی وه یې سره ګوته ونیوه.

داپه څودی؟ ،خوچاته یې وایې دی لاداسې په خیالونوکې نه وه ډوب شوی خدای خبر چې دخیال ښاپیریوبه کوم باغ حرم ته بیولی و ، نجلۍ ورڅخه پوښتنه کوله خوده هېڅ هم نه ویل اوغلی ناست و جینۍ فکروکړچې کېدای شي دی کوم تکلیف لري ،اوهسې په دکان کې ناست وي اصلاً دکاندارکوم بل څوک دی،خوده خپلې سترګې دهغې پرسترګوکې ګنډلې وې ،اخرهغه ترې روانه شوه غوښتل یې له دکان نه ووځي چې په شوکیس اینبې ناشکن پیاله یې دټکري په کومه شمله کې ونښته ،لاندې پرسمنټو پرېوته اولګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتسبود دانو پشان دانه دانه شوه، چې له کړنګ سره يې شوکت ټوپ کړاو دخيال له رنګينې دنيا څخه راووته ،نجلۍ وارخطا شوه راوګرځېده ،غوښتل يې د پيالې شيشې راټولې کړي خو شوکت ورته وويل نه نه مکوه ! !چې لاس به دې ژوبل شي هېڅ پروانکوي څه دانسان زړه خوندی چې بل به پيدا نشي،بله به واخلم هغې ورته وويل قېمت يې څودی چې دريې کړم ،ده ورته وخندل ددې قېمت ته نه نشې پوره کولی هغه دده سترګوته ځيره شوه چې هېڅ له دې څخه بل طرف ته نه اوړي نويوځل يې پخپل ځان هم يوچټک نظرتېرکړ،خودهغه په سترګوکې يې دځان لپاره ډېرڅه وليدل،دهغه سترګوله دې سره خبرې کولې خو خوله يې بنده وه،بخښنه يې وغوښته اورونه شوه ،هغه پرې اواز وکړ که څه دې پکاروي خوراشه چې دريې کړم ،هغې وويل نه هېڅ مې هم خوښ نشول،ده غوښتل چې له ځانسره يې وغړوي بيايې ورته وويل راشه پيسې درنه زياتې نه اخلم هېڅ ګټه درنه نکووم په خپل سربه يې درکړم،خوهغې څه ونه ويل او ولاړه،يوه اوونۍ وروسته بيا هماغه وخت و، چې دکان ته هماغه ښکلې ښاپېرۍ چې دشوکت زړه يې ښکارکړی وه راغله ، سلام يې وکړ شوکت هم ورته له خپل ځايه پاڅېده اوسم له واره يې ټوکه ورسره وکړه داځل خوبه څه نه ماتوې ! هغې بيا هماغه لاکټ ته اشاره وکړه شوکت ورته راواخسته هه دادی واخله هغې لاکټ په لاس کې واړوه راواړوه ،ښه ددې قېمت څوروپۍ دی ؟ددې قېمت ته نشې پوره کولی ،څه ! ! ولې دادومره قېمته دی څه !؟ هو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوستا په مخ کې هېڅ هم ندی هغې ورته وویل ته څرنګه خبرې کوې
زه وایم چې ددې قیمت څوروپۍ دی ،ولې مادرته په انګلیسې
وویل څه ! مطلب مې دادی چې هرڅوروپۍ وي خوتاته زما لخوانه
ډالۍ شو ،نجلۍ له غوسې سره شوه زه دچاډالۍ مالۍ نه منم اونه زه
دهغو نجوونوڅخه یم چې په ډالیوپسې ګرځي،وایه قیمت یې چې
دریې کړم دازما زیات خوښ شوی دی او کنه لاکتونونه دکانونه ډک
دي،هوخوپه دې لاکت پورې زما زړه تړلی دی اوداتصویرچې پکې
وینې دازما زړه دی او دهرچازړه په هرځای کې نه پیدا کېږي ،اوس
که څه ویل نه غواړې نوته کولای شې چې ولاړه شې ،هغې ورته
وویل ګوره ته نه زما ورور،نه دتره ځوی اونه هم کوم خپلوان یې ،ده
یې خبره ورغوڅه کړه ولې داضرورده چې که څوک چاته ډالۍ
ورکوي نوهغه یې باید ،ورور،دتره ځوی ،دماما ځوی اویاکوم نږدې
خپلوان وي ،ولې زه اوته خپلوان کېدای نشو !! هغې ورته وویل
ستامطلب څه دی ،هغه ورته وویل مطلب داچې زه اوته
دکاکااوماماله ځوی اولورنه هم ډېرخپلوان کېدای شو،ته لیونی
شوی یې چې داسې خبرې کوې ؟ولې یواځې لیوني دمینې خبرې
کوي ؟خیرپه هرحال کولی شم دنوم پوښتنه دې وکړم؟پښتنه ! !هغې
هم خپل زړه نشوقابوکولی ځکه چې شوکت هم یوښکلی ځوان وه
نوله ورایه یې هغه ته په سترګوکې مینه ښکارېده ،شوکت وویل
ښکلی نوم دی ،ښه ډېرصفتونه مې اوس مه کوه په شرمیندو کې
حالت یې وویل ته هم ښکلی یې ،خوله تانه نه یم ښکلی !! پښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانـه شـوه اوس دخـدای پامـان بیابـه ګورو ،اوهـو تـه خـودومره ژرزما پـه زړه پـوه شـوې اوس نودهلـک دژونـدهره لحظـه لکـه دکـال پشان تېرېده له دې نه وروسته يې په کورکې هم حالات بدل شول لـه ټولو سره به يې يوبل ډول چلندکاوه ،هېڅ بـه پـه کورکې نـه کېناستـه ،سهاربه لمانځه وخت ووتـه اوماخستن بـه راتـه .لـه چاسره بـه يې زيـاتې خبـرې نکولې ،اتمـه ورځ وه چـې سـپوږمۍ شـوکت تـه زنـګ وواهـه هغـه اوکـی کړبلـې !سلام ،وعلـيکم سلام ،اواز دنجلـۍ وه ،څوک خبرې کوې؟ واه واه اوس مې پېژنې هم نـه ! پېښتنه يم ! !اوه سلام ګرانې چېرته يې ! همدلته يم تاته نژدې يم ،خوماته ځای وښايه کنه چې درشم ،ښـه نو ......ځای .تـه راشـه اوزه انتظارکووم ،شوکت خپل دکان کوم بل ملګري تـه وسپاره اوپـه بېړه روان شوه کله چې ورسېده اوسـترګې يـې پـرې ولګېـدې نولـه زيـاتې خوښـۍ نـه يـې وروځې پورته پورته کولې.

زياتې خبرې يې وکړې ،شوکت ورته ويل چې زه غواړم ستاسوکورته څوک درواستوم ،خوهغې ورته ويل چې زمـا پلاربـه مې چېرتـه تاتـه درکړي ځکه چې هغـه دېرغـټ فکرلـري اوبل زمـوږ رواجونه دومـره سخت دي چې هغه ستا پـه وس اوتوان کې ندي ،هغه ورته وويـل چې زما تـه پکـاريې سـتاد پلار رواجونـه اور سـمونه مـې پکارنـدي ،هغې ورته وويل زه پوهېږم خو ، خوڅه !؟ زه نورهېڅ اورېدل نه غواړم اوپـه کـورکې ووايـه چـې سبازما کـورنۍ ستاسـومېلمانه دي ،نوځـه بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنګه کور کې وايم چې زما دغوښتلو په خاطر ستاکورنۍ راځي؟
خيررادې شي خوزه په کور کې هېڅ هم نه وايم.
سباشوکت خپله موراودتره ښځه دهغوی کورته واستول ،هلته يې هغوی سره دخپښۍ خبره ياده کړه خوپه ځواب کې يې ورته وويل چې موږ ته يوڅه وخت راکړی ترڅومشوره وکړو ،دوی ترې لاړل، هغو په کور کې له مشورې اومصلحت نه وروسته پدې سره سلاوکړه چې پښتنه شوکت ته ورکړي رښتياهم چې جوړې په اسمانونوجوړېږي.
دريمه ورځ يې دستمال ورکړ اوکوژده وشوه ،له څو مياشتو وروسته يې واده هم تيار شوه ،خولکه څرنګه چې پښتني شوکت وېرولې وه چې پلار به يې ترې زياتې پيسې او خوړه واخلي خوخوشبختانه چې هسې ونه شول او له شوکت سره يې ډېر احسان وکړ،ولور خوڅه چې حتی له پښتني سره يې زياته مرسته وکړه او زيات دکور سامانا دضرورت وړ شيان يې ورته واخستل او ښه په ډنګ اوډونګ يې دخپلې لور واده وکړ.
کله چې واده خلاص شو نژدې مېلمانه ولاړل او له لرې ځايه راغلي مېلمانه لا په کور کې ول ،دنکاح مراسم هم پای ته ورسېدل پښتنه دومره ښايسته وه چې نجوني يې هېڅ پرسيل نه مړېدې ،او هېڅ يې نه غوښتل چې خپلې کوټې ته يې بوځي ،ډېره ناوخته وه چې پښتنه څو پېغلو له متهو ونيوه اوخپل تخت ته يې بوتلله ،له څوشېبو وروسته شوکت هم په انګړکې رابښکاره شوه دتره

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماماګانو ځوېبغلو لوړګانو پرې یو څه ریشخندوواهه او کورته راغی موربې ورته راغله او پرتندي یې ښکل کړ او خپلې کوټې ته ولاړ ، پښتنه لکه دګلانو په منځ کې چې برق لګېدلی وي ناسته وه ، شغلې یې کولې ، شوکت خپل واسکټ او څادر په کوټ بندکې وځړول او د پښتنې خواته راغی ، دهغې پراوږه یې لاس کېښود دنوي ژوند اونوي کور مبارکي او ښه راغلاست یې ورته وویل ، پورته یې کړه اوله ځانسره یې په پالنګ کېنوله خو پښتنه شرمېده هېڅ یې نه ویل ، شوکت ورته ویل ګوره پښتنې ! زما داسې نه خوښېږي چې لکه دبوت په شان به راته ناسته یې او هېڅ به نه وایې. ته پوهېږې چې ددې ساعت لپاره ما څومره سوالونه خدای ته کړي دي او تل مې ترې ته غوښتې یې او اوس به ته راته ګونګه ناسته یې داسې امکان نلري ته باید له ماسره دومره خبرې کړې چې زه پرې موړ شم ، پښتنه مسکه شوه سترګې یې وزېښلې او ډېر په زوریې بېرته کړې په خپل ځای کې وخوځېده لاس یې خپلې چېپې اوږدې ته وغځاوه خپل دغاړې بیک یې خلاص کړ ، دی ورته متوجه وه چې اوس به څه کوي ، پښتنې له بیک نه یو شی رواخست او د شوکت مخته یې په لاس کې زړوند ونیوه داهغه لاکت وه چې له برکته یې نن شوکت او پښتنه په یوه پالنګ سره ناست دي او ددواړو ژوند یې سره پخپل نري تارو تاړه ، نو پښتنې لومړی په لاکت کې دزړه تصویر او بیا خپل زړه ته لاس ونیوه او ویې ویل پوهېږې ! نن دوه زړونه یو کېږي !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوالي

په خپل مات اوزوږ لاس ګاډي کې يې په داسې حال تکيه وهلې وه چې لاس ګاډی يې دلاسونو په واسطه درولی و اوټاير(عربه) يې په هواوه، په تورو ،خيرنو اوچاودو ، چاودو لاسونو کې يې له نانوای څخه رااخستې ډوډۍ داسې کلکه نيولې وه تابه ويل چې څوک يې ترې اخلي، په خولې يې ورڅخه کپونه (مړۍ) شکولې ګوله به يې چې په ستوني کې بنده شوه نو غاړه به يې اوږده اولنډه کوله اوبه هم نوې چې په وچه ګوله پسې يې غړپ کړې وای له ده سره نورواړه هلکان هم ول ،خو هغـــــوی دده په شان مايوس اومانېجن نه وو.

اخوا او دې خواته يې هم کتل ترڅو که کوم څوک باروالا راپيدا شي او باروړسره وي چې پرده يې ترکوره اويا هم دموټرو ترتمځايه پورې يوسي،زه پورې غاړه له سرک څخه ورته مخامخ ولاړوم اودی مې دسترګولاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځاره کله به مې ځان يو طرف او کله بل طرف ته کړ، ترڅو دده
را باندې فکر نشي او پوه نشي چې زه ده ته متوجه يم.
ترښايسته ځنډه مې دده معصوم هلک ننداره وکړه
،خو ما هم بله چاره نه درلوده بايد تللی وای پخپل
کارپسې روان شوم، سودا مې وکړه، سودا زياته وه او نه مې
شول کولای چې پخپله يې کورته دننه کړم نو مې له ځان
سره همغلته په ښارکې پرېکړه وکړه چې، که
زما تر وررسېدو پورې هغه هلک وه نو له ځانه سره يې اخلم
يو څو روپۍ مزدوري به ورکړم او سودا به را سره کورته دننه
کړي، همدا سې وشول کله چې زه بېرته همدې ځای ته
راورسېدم ګورم چې دی لاهماغسې د تېرپه شان ناست دی
خو دا ځل يې سر د لاس ګاډي په ديوال پورې لګولی وه
او دغم او اند ېښنو په سو چنو کې د خوب نړۍ ته تللی وه.
له ډېرو ر څخه مې دودرېدو هيله وکړه، را غلم مخې ته يې
ودرېدم خو دا چې موټر راسره کرايه ټکسي وه نو نه مې شول
کولای چې دده په تندي کې دغم او اند ېښنو کرښې ولولم
او ځان پرې پوه کړم، ورنږدې شوم لاس مې ورته په اوږه
کېښوده، واوره ! لدې سره ژر را پورته شو سترګې يې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومنبلې ، ماته وايي ! باردرسره دی ! ،چېرته يې وړې ؟دده پـه داسې وړو خو مجبورو خبرو مې لـه ستر ګواو ښکولارې وکـړې،زړه مـې خـراب او سـتوني مـې بند شـو دخبرو تـوان راسـره نـه وه لـه لاسـه مـې ونيـوه راځـه ،هغـه ماتـه حيـران ،حيران کتل ښه نو چېرته ځو ؟ غاړه مې تازه کړه راځه په دې مــوټرکې ســوداده هلتــه بــه يــې زموږ کورتــه دننــه کــړې اويو څوروپۍ به درکړم ،ژرېې پرځمکه پرتـې ربړې څپلـۍ چې څوځايه يې په ټوټه باندې تړلې وې په پښو کړې ،راځه چـې ځو ،پـه مـوټرکې کېناسـتو ،زه دده دې حالاتو سـخت وځورولم ،خودی ماته زيـات متوجه وه غوښتل يې يوڅه راته ووايي ،بېرته به يې سرټيټ کړ،اخريې حوصله ختمـه شوه او وه يې پوښتل ته ولې ژاړې ؟څه چل شوې دی !؟تـه خودخدای فضل دی هرڅه لري لوکس بوټان ،پـاکې سـوتره سپينې جـامې ،موراوپلار،وروڼه او خويندې بـه هـم لـرې نوبيـاولې نااميـده يـې !!؟ کـه ژاړم نوبايـد چـې زه وژاړم ځکه چې له دوخخه يوڅه هم نلرم .دهلـک خبروحيـران کـړم په يوه شېبه کې يې هرڅه رانه هېرکړل مـاچې دده بې وسۍ اوپـه ده کـې بيـادده شـجاعت اونرتـوب تـه وکتـل نوزيـات

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښ شوم ویل مې چې کاشکې چې له دې شجاعت سره خودې دابخت دومره سپېره نه وای،ما یې پر سرلاس راکش کړ،نه هسې مې ستاملګروته چې هلته له تا سره ناست وو یوخه طبیعت خراب شو ،په کړس کړس یې وخندل اوورسره متصل یې له سترګو څخه یودوه ګاټې اوښکې په خلاص ګریوان کې راپرېوتې په چاودولاسویې سترګې وچې کړې اوپه موسکې لهجه یې وویل ماویل چې داڅه خبره ده داخو څه زموږلمړی ورځ نده چې جوالي توب کوو ،په دې وخت کې کور راورسېده اودده خبرې په نیمه کې پاتې شوې ،سوداموله موټره راکوزه کړه ،ډرېورمې رخصت کړ،هلک یوه پنځوس کیلویې بوجۍ چې اوږه پکې ول رانېغه کړه ،واړه اوتنکې لاسونه یې ورته له ملانه راتاوکړل ترنامه پورې یې راپورته کړه ماته یې ویل مخکې شه کوم کورته یې دننه کړم ماهم ورسره دغورېوغټ ټیم له کونډې څخه راونیو مخکې شوم کورته دننه شولوځای مې ورته وښوده ،بوجۍ یې کېښوده اوله سترګو مې پناه شو ما ټیم کېښود ترڅوله دروازې ورپسې راوتم ده هغه نوره سوداهم راورسوله داچې دکورلارلږمخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بره وه او لړشان پېچومی وه نو هلک خوله خوله شوه ،لمن یې راونیوله ترخوپرې خپل د مخ او تندي خولې وچې کړي خو هغه هم په اوړو سپېره شوې وه ،لاس یې راتاوکړ او ترڅنګلې پورې په لستونې یې خولې پاکې کړې ،ماسوداوکتله پوره وه، دی پرځای دې چې لماڅخه خپله حق الخواري وغواړي همداسې روان شو زه به ولاړ شم ،مخ مې وروګرځاوه هلک له دروازې نه په وتلوکې و چې اواز مې پرې وکړ،ودرېږه خپل ځای ودرېده ورغلم په اوږه مې لاس ورته کېښود ،ایا ته هروخت همداسې کوې له چاڅخه خپل حق نه اخلې اوترې ځې؟ وی ! نه زما هېرشول ! پرتندي یې خولې روانې وې بیا یې مخ دلاس مټ پلو ته واړوه خپل تندی یې پرې راکش کړ، جېب ته مې لاس کړ یو د پنځوس افغانیونوټ مې ورکړ،هلک ژر خپل مخکې جېب ته وکتل چې هغه هم سوری وه له ځانه سره یې څه وویل ما فکروکړچې کمې به مې ورکړې وي ،ولې کمې دي نورې خوروپۍ درکړم؟نه ډېرې دې راکړې، ماویل چې له ماسره خوماتې پیسې هم نشته چې تاته بقایه درکړم که ترمارکېټه پورې راسره ځې نوهلته به یې درته ورې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکه باور راباندې کولی شي نو همدلته به يې درته راوړم،
نـورمې نـودده صـداقت او شـجاعت لـه سـترګويو ځل
بيااوښکې رواني کړې ،سلګيوواخستم ،لاس مې تـرې
راتاوکړ غېږې ته مې رانږدې کړ،هلک ځان رانه لرې نيوه
!نه ګوره زما کالي خيرن دي اوستا سپيني جامې به هم
درته ناپاکه کړي ،نورمې هم په غېږکې ټينګ کړاوښه
شـېبه مـې لـه ځانـه سـره جوخـت نيـولی و ،دده پـه
ګرمواوښـوکومې پـه خپلـه سـينه لونـدوالی حـس
کړسلګيوواخست، ،بېرته مې پرېښود ،پوښتنه مې ترې
وکړه ښه نو اوس دې راته نوم وښايه ،دکوم ځای يې ،پلار
دې څه کارکوي،بل وروررلرې....؟
درلوده مې خواوس نه ،نوم مې جواد دی ،پنځه کاله کېږي
چې پلار مې مړشوی ،هغه دسرطان په ناروغۍ اخته وه
اويـو بـل وروررمـې درلـوده چـې لـه مانـه مشـروهغه هـم
پروسږکال ايران ته دمزدورۍ لپاره تللی و چې هلته په يوه
سـاختمان کـې ددرېـيم منـزل لـه خـوازې څخـه راپرېوتـه
اومړشو چې د ېروخت يې مړی هم مورته چانه راکاوه ،اوس
مـې پـه کـورکې يـوه بـوډۍ مـورده چـې هغـه هم ناروغـه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د مرګ په بستر پرته ده خو دا یې راته ونه ویل چې د کوم ځای دی دا چې زه یې هم ښه وځورولم نور د پوښتنو وس هم راسره نه و ورته مې وویل چې دا پیسې ټولې ستا شوې او که کمې مې درکړې وي نو راته ووایه چې درېیې کړم، څه ټولې زما شوې ! !؟ ماته خو خلک د شلو رو پیو نه زیاتې نه راکوي د وا سکټ جېب ته مې لاس کړ هغه د ستمال چې په همدې ورځ یې ماته په کور کې راکړی وه ،ورکړ، دا واخله پکـــار ېږي دي، هلـــک د ســـتمال واخســـت ،روان شـــو خو د تللو په وخت کې یې له ځان سره څه وویل ،ماته تلوسه پیدا شوه بیا مې ورته غږ وکړ تا څه وویل ،هلک رنګ وواهه فکــــــــــــرېږي وکړ چې ما به دده خبره اورېدلې وي نه هسې ماویل؟

تا څه ویل ماته به یې حتماً وایي ،هو هغه نن چې له کوره راوتم نو مورمې راته وویل چې زویه که کومه روپۍ کاردې وکړ نو له ځانه سره یوه ټوټه یا دستمال راوړه چې دا سر مې راته زیات خوږشي نو پر هغه به یې ترم ما وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه دا به مې مورجانې ته ورکړم او په پيسو به نورڅه
واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جعلي پڼځوسي

نن بيا دهرې
ورځې پشان
دلمر له راختو
سره له کوره
راووتل ،نری
نری يخ شمال
لړېده ،ځمکې

هم پر خپلو سپينو جامو چې له واورې څخه يې جوړې کړې وې دخلکو سترګې بريښولې ،خلکو په خيرات کې ورکړې زړې او اوړدې کورتۍ ګانې يې اغوستې وې او دخپلو دندو په لور رهي شول،ددوی دواړو دنده يوه وه يوځای به يې کارکاوه خو په يوه ځای کې نه !

ددوی وظيفه داوه چې له سهاره ترماښامه به يې لاسونه دبل چا پرووړاندې دسوال په خاطرغزېدلي وو.

درنولوستونکيو تاسو به هم په دې فکر کې ياست او په ذهنونو کې به مو دا پوښتنې اوړي راوړي چې دا بدبخته څوک وو ،ولې يې نوره مزدوري او خواري نکوله چې دسوال اوګدايۍ مخه يې نيولې وه ! !خيرزه يې درته وايم دادواړه ((رشيد ))او((سعيد ))هغه بدقسمته اودخوارې برخې خاوندان ورونه وو ،چې دعمرونو په شپږ کلنۍ او اوه کلنۍ کې ديتيمۍ هغه سپيره څپېره دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمخونولګېــدلي وه ،چــې دوی يــې دســوال هغــې کنــدې تــه وروغورځول چې راوتل ترې مشکل څه چې حتی ناشوني دي.
ددوی پلاردوه کاله مخکې په يوه ترافيکي پېښـه کـې خپـل ژونـد لـه لاسه وکړاو څومياشتې وروسته يې مېرمن بل ورورپـه نکـاح کـړه اوپردوی له همغې څخه راپه دېخوا دښوونځي ،مدرسـې اوجومـات دروازې وترلـې شـوې ،اوس نـودوی تـه دوه کـوچنۍ خوينـدې اويـوه مـور ورپـه غـاړه وو ،سره لـدې چـې مـوريې اوس دبـل چادسـرتاج وه خوتش پـه نامـه سـاتنه يـې ددوی پرغـاړه وه ،لـه همـدې وخـت څخـه راپـدېخوا دورځـې پنځـوس ،پنځـوس افغـانۍ پـه دواړو ورونـو کـره شوې که به لدې پيسو څخه يوه انه هم کمه وه نـو ديـوغم لـه پاسـه بـه پرې بل غم جوړ.
نـن بياترناوختـه پـورې وګرځېـدل خـو پـه دواړو يـې ايلـه نهـه اويـا افغانۍ پيدا کړې وې وخت هم پرې ناوخته وه دشپې لـه تيـارې څخـه هم وېرېدل اودتره لـه ډاره هم کورتـه نشـوای تـلای ،يوبـل تـه مخـامخ ودرېدل سعيدرشيدته وويل که لاړشو کاکاخوبه مو لـه کـوره وشـړي ،وبه مو وهي او......
ددواړوسترګې له اوښکوڅخه ډکې وې حيران حيران يې کتل اونـرۍ نـرۍ شـونډې يـې يـخ رېږدولـې ،ددواړودپوزوسـرونه داسـې سـره اووښـتي وو ،تابـه ويـل چـې سـور رنـګ يـې پـرې وهلـی دی ،دوی پـه همـدې اند ېښـنوکې وو ،چـې يوسـړی يـې ترڅنـګ ورېـد اوددوی پـه معصومو څېرو کې دډاراوپرېشانۍ علت يې ورڅخه وپوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی هم په ژړا وسلګیو کې ورته قصه بیان کړه سړي جبب ته لاس کړه او د پنځوس افغانیو دوه نوټونه یې را وویستل ورېې کړل او دواړه یې پرتندي ښکل کړل او ترې روان شوه .
دوی هم په یوه شېبه کې هر څه هېر کړل او د سندرو په زمزمه کولو سره د کور په لور روان شول ، کورته چې ورسېدل دواړو خپلې پیسې ترة ته ورکړې او مخ ته یې د اسې ودرېدل لکه مجرمین چې په محکمه کې د قاضي مخې ته ولاړ وي ، تره یې میده پیسې ، (چینج ) و شماره او بیا یې دواړه پنځوسیان را واخستل ښکته او پورته یې ورته وکتل ، درشید نوټ یې په ګوتو کې ومروړه او پرمخ یې یوه سوزوونکې څپېړه ورونښلوله ، پخپل ځای ودرېده رشید یې له غوږه ونیوه ټکان یې ورکړل ړوند خوبه نه یې ، سل ځله مې درته ویلې چې څوک پیسې درکوي نوټ ته سم ګوره چې اصیل ده او که جعلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شګوفه

د ژوند د اوولسم سپرلي، لمر وړانګويې د حسين مخ ګل غوټۍ سپړولې، چې د رويبارانو تګ راتګ ورکړه پيل شو، ډله ډله خلک به له خپل کلي او نورو لېرې ځايونو نه به په جرګو شپه او ورځ راروان وو، خود شګوفې د کورنۍ ځواب به منفي وو، ويل به يې چې لايې لور کوچنۍ ده او هغه بايد خپلو زده کړو ته داوم ورکړي، په دې وخت کې شګوفه د ښوونځي په نهم ټولګي کې زده کړيالـه وه، لايې دژوند دملګري په اړه فکر هم نه وو کړی، خو تقدير او قسمت داسې څه دي چې هغه د انسان په هېڅ راز مجبورۍ فکر نه کوي، دهمدې سپرلي په پای کې شګوفه يو ښکلي او با استعداده ځوان ته کوژده شوه، حال دا چې دهغې زړه نه وه او په دې دوستۍ نه وه خوښه، داسې نه وچې هلک يې خوښ نه و، هغې په دې عمر کې هېڅ نه غوښتل چې واده وکړي ولې چې لايې ځان کوچنی باله، په دې وخت کې مشال هم په يوولسم ټولګي کې وه، هغوی دواړو په يوه محله کې ښوونځي لوستل، يو د ذکورو او بله دا ناثو په لېسه کې وه، داچې شګوفه ښکلې، لايقه او ارامه انجلۍ وه نو د مشال هم ډېره خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وه ،او لـه ځان سره يې پرېکړه کړې وه چې کـه د خداى پـاک رضاوه نو له شګوفې سره بـه واده کوي، خو هغـه ډېر جدي هم نـه و، لکه د نورو خلکو او ځوانانو په شان چې يو څه يې خوښ شي نو بيـا يې چې په هره بيه وي دلاسته راوړلو هڅه کـوي او لاسـته يې راوړي ،که هغه پـه زړه بدوالي او دښمنۍ هم تمامـه شي،مشـال لـه دولسم ټولګي نـه فـارغ شـو ،او شـګوفه لا يوولسم ټولګي تـه تـازه بريـالۍ شوې وه چې واده يې وشو، وروسته له واده بيـا هم هغـه لـه ښوونځي او زده کړو نه چـامنع نـه کـړه، خپلو زده کړوتـه يې ادامـه ورکولـه، لـه همدې ښوونځي څخه فارغه شوه، کله چې دا فـارغـه شـوه نـو خاونـد يې ورته وويل چې اوس بـه دواړه د کـانکور پـه ازموينـه کې يوځـاى ګډون کـوي ولـې چـې هغـه غوښـتل دواړه يـو پـوهنځى وواېـي، شګوفې ورسره د يوځاى ازموينې ورکولو ومنله خو دمشال انتخـاب پوهنځى دهغې نه وو خوښ،هغې غوښتل طب وواېي او يـوه ډاکټـره شـي ،همدا سې يـې وکړل،د خـداى پـاک مهربـاني وه دواړه دخپلـو خوښـو پوهنځيو تـه بريـالي شـول،دخپلوزده کـړو ترڅنـګ يـې خپـل کورني ژوند ته هم په سمه توګه توجه کولـه ،د کـورنۍ نـور غـړي يـې هم نه پرېشانه کول ، شګوفې دخپل خسـر اوخواښې سـره ډېـره مينـه لرله ، دهغوى به يې ډېر عزت کـاوه ،دانـو اوس د۲۷کلونـو وه چې لـه طب نه فارغـه شـوه، لـه فارغېدونـه وروسـته پـه خپلـه منطقـه کې يې معاينه خانـه جوړه کـړه، داچې دوى ښـارته ډېرنـږدې اوسېدل، کلـى اوکور يې هم ډېرګڼ مېشتـى وو ،نوښه ګذاره يې روانـه وه،دواده يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه کاله تېر وو چې دوی دواړه له خپل ښکلي ماشوم ځوی( وصال )سره دیوه دوست کورته په مېلمستیا روان وو ،چې دلارې په اوږدو کې یې موټر له بل موټر سره ټکر وکړ ! ! په دواړو موټرو کې د مشال په ګډون ځلورتنه ځای پرځای شهیدان شول، شګوفه او وصال هم ټپیان وو ،مړي او ټپیان روغتون ته ورسول شول،له تداوۍ اودرملنې ،پنځه ساعته وروسته شګوفه په هوښ راغله د لیونوپشان یې اخوا د ېخوا ته کتل ، ژر یې په ځان یوځغلنده نظر تېرکړ،ګوري چې دواړه پښې یې په ګچ کې دي اوترڅنګ یې نازک وصال هم چې له سره یې سپین بنداژ تاو کړ شوی و په بل چپرکټ ببهوښه پروت و ،دځان ګرد چاپیر ، یې نور ناروغان هم ولیدل، چې له خولې یې یوه تېزه چیغه ووته مشاله ! ! له دې سره پرې ډاکټران راټول شوو ،لاسونه او پښوې ورته ټینګ ونیول، خوهغې ډېر بدحال کاوه ،په وارخطایۍ سره یې وپوښتل مشال څنګه دی اوهغه چېرته دی؟ډاکټرانو ورته وویل هغه ښه دی ، اوس راځي ، په دې وخت کې یې په (سېلاب ) چې د مشال دتره زوی و سترګې ولګېدې ، چې ژاړي، هغه چې ولیدل شګوفه په هوښ راغلې، نو یې خپلې اوښکې پټې کړې ، مخ یې ترې واړاوه ،دهغې په زړه کې بیا وېره پیداشوه،اواز یې پرې وکړ سېلابه ! مشال څه شوایا هغه ښه دی !؟هولالامې ښه دی،له ژړانه په ډک ستوني یې وویل.
شګوفه پوه شوه چې هرومرو څه خبره شته نو یې ورته وویل چې هغه ماته راولې له دې خبرې سره سیلاب ترې روان شو ،دې ډېر بد

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال شروع کړ، نژدې ؤ چې ځان له چپرکټ څخه لاندې وغورځوي ژر سیلاب رامنډه کړه ، ویې نیوله دې پرې همداسې منګولې لګولې او مشال مشال یې وایه،ټول واټ یې په سر اخیستې وه او ناروغان یې هم په عذاب کړل، نور نو د سیلاب حوصله ختمه شوه ،په ژړاکې یې یوه ویروونکې چیغه یې پرې وکړه مشال لا لا مې نور ژوندی ندی هغه مړ شو!نا !!!!احمقه ته دروغ وایې د سیلاب په مخ یې وارونــــــه وکـــــړل او پـــــه چپرکـــــټ نســـــکوره شـــــوه.
وروسته له یوې نیمې میاشتې شګوفه له روغتون څخه خارج شوه، اوس یې پښې هم روغې وې،خو په زړه کې یې چې د مشال مینې کوم سوری کړی وه هغه به هېڅ وخت جوړ نه شي د هغې د بدبختۍ ورځې نورې پیل شوې،له خپل ماشوم څوی سره به سهار له کورته وتله او ماذدیګربه په وخت راتلله،دکتنځای (معاینه خانې)ترڅنګ یـــې پـــه یـــوه نـــژدې روغتـــون کـــې هـــم وظیفـــه واخســـته.
د خاوند د مرګ یې اوومه میاشت وه چې یوه ورځ چې شګوفه له وظیفې ستړې اوستومانه راغله نو یې مشر لېور ورته راغې او په نیمه نیمه یې داسې پوهه کړه چې، هغه غواړي له دې سره نکاح وکړي. دهغه په دې خبرې سره شګوفه په خپل ځای کې ودرېده، له ډېرې غوسې یې په ژړا پیل وکړه ،خپل لېور ته یې ډېرې سپکې سپورې وویلې ، ته شرمېږې نه چې داسې خبرې کوې؟زما خولاتراوسه د خاوند تخته وچه شوې نده اوتابدبخته بیا زما په نکاح کولو هم فکر وکړ داسې هېڅکله هم نشي کېدای، ورته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل چې دا خبره بل ځاې ياده نشي نو د دواړو په ګټه به وي او کنه نو ښې پايلې به ونه لري، خو بيا هم نصير دواړه ښې په يوه موزه کي اچولي وی او هماغه خپله خبره يي کوله، خو شګوفي ورسره په هيڅ شکل نه منله تر څو يې خبره سپين ګيروته ووته، د شګوفې ورونو د خپلې خور په ګټه د قضيې خلاصېده غوښتل او نصير په خپله ګټه، لنډه دا چې جرګه راوغوښتل شوه او دواړه خواوې سره کښېنول شوې.شګوفې جرګې ته وويل زه د خپل نفس او ځان په هکله د هر راز پرېکړې او تصميم نيولو صلاحيت لرم او د اصلاحيت اواجازه ماته شريعت راکړيده او کولای شم چې په خپله خپل انتخاب وکړم، خو زه نه غواړم له داسې يو شخص سره چې ۲۰ کاله عمر ولري او ددې تر ځنګ درې نور ودونه هم ولري نکاح وکړم، زه خو د نصيرلالا د لور پر ځاې يم نو زه څنګه هغه سره نکاح وکړم؟ نصير ورته وويل چې داد پښتو کار دی او زه غواړم چې خپل شرم په خپل کور کې خوندي کړم ته زما د ورور کونډه يي او زه بايد له تا سره نکاح وکړم دا چې نصير ډېر مالداره سړی و، نو جرګه مارو ته يې ډېرې پيسې ورکړې وې، چې په خپلو غلطو او نا سالمو دليلونو او منطقو يې داسې فيصله وکړه چې شګوفه اوس د نصير دوی د کور عزت ده، او بايد نصير سره نکاح وکړي خو هغې ورسره نه منله.جرګه ختمه شوه هر څوک په خپل کار پسې ولاړل،ښېګاه ته د نکاح شپه وه، ملا راغی نکاح يې وتړله، شګوفه هم خپلې کوټې ته يوړل شوه ،کله چې ښځې دناوې له کوټې نه ووتلې،هغې دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتړله ،تشناب ته ننوتله هغه دروازه يې هم په ځان پسې قفل کړه، په تشناب کې دخارويو دحلالې لويه چاړه چې په چرمي پوښ کې وه په تيرکې راځړېدله ، هغه يې رانښکته کړېوه په هماغه ځای کې له خپل تکري نه دځان لپاره دارا چولی وه، چاړه يې له پوښ نه وېستې وه ،او دپښولاندې يې ښراغ پايه ايښې وه کله چې نصير خپلې کوټې ته راغی نو ګوري چې دروازه تړل شوې ده، ځو ناريې ورپسې وکړې چې شګوفې ! دروازه خلاصه کړه ، خو دروازه بنده وه ،نصير په غوسه شوه،دروازې ته يې لغته ورکړه ،دکوټې دننه خوانه قلپک راوخاته، کوټې ته په غوسې سره ننوته خوشګوفه په کوټه کې نه وه ،ژربې دتشناب په لور وکتل ،هغه دروازه هم کلکه وه، دروازې ته يې زور وکړ خو خلاصه نه شوه ، هغه يې هم په لغته ووهله ،چې له لغتې سره نصير دتشناب په منځ کې په ډنډ وينو کې ودرېد ګوري چې شګوفې ځان راځړولی او چاړه يې په ګېډه کې بنده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهيلى

په ثلورم ټولګي کې موزده کړې کولې دژمي سخت موسم و  يخې هوا هم خپلې منګولې داسې کلکې نښلولې ولې چې دخلکوله ځيګره تېراوبېروتله په هغه وخت کې دمعارف وزارت هم دومره امکانات په لاس نلرل چې لکه دلغمان ـ ننګرهاراوځينې نورو وروسته پاتې ولايتونوته يې په ښونځيوکې بخاريواو دسون مواد واسانتياوې برابرې کړې واى.

په ټولګي کې اول نمره وم يوورځ نګران راغى اول ساعت موقران کريم وه استاد مودرس ووايه کوم کارورته پيداشوه دصنف څخه دوتلوپه وخت کې يې ماته مخ راواړه  اوتاکيديې راباندې وکړ  چې په شاګردانودرس تکراروه ،ورانىۍ ته يې پرېښږدې

داستاد له وتلوسره سم زمونږ يوټولګيوال چې ظاهره شاه نومېده په سندرواوزمزمو  پيل وکړ  ظاهره شاه زمونږ هغه همصنفى و  چې تل به يې په شونډو موسکاه خوره وه هغه پراخه  اوله مينې ډکه ټنډه لرله،خولږ شوخ وه، زه په دې نيت څنګ ته ورغلم ترڅودى ارام کړم اودرس ته يې توجه راواړوم دهغه ماته فکر  نه وه ما غوښتل چې و

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ووېروم نومې وويل چې لاس به دده له مخ نه په ډېرسرعت سره تېرکړم زماد لاس شمال به دده په مخ ولګېږي اودی به خپل درس ته متوجه شي خوافسوس چې د ظاهره شاه په نصيب کې به زما له لاسه ديوڅوشېبولپاره د څپېړي درد وه اوزماپه نصيب کې به هغه طولاني اولاعلاجه درد اواندېښنه وه او وي به چې ترنا معلومه وخته به مې د زړه غوښې خوري، زمادلاس ورسېدل وو اودهغه مخ را اړول، چې يو ترنګ مې ترغوږوشو اودهغه له مخ څخه مې سره بڅرکي دالوتوپه وخت کې ترسترګوشول چې ددې څپېړې دهغه په مخ له لګېدوسره مې دزړه په سريو سخت ګوزاروشو او په بدن مې لړزه راغله ده په داسې حال يې سترګې زماپه لورراواړلې چې غبرګې اوښکې يې په لمنې پرېوتې يومخ يې سپين اوبل يې سوره وه ماترې بخښنه غوښتل پيل کړل خو ده زماپه خوله لاس کېښود اوله خندا سره يې يوځای وويل کومه خبره نه ده زه نه يم ژوبل شوی هېڅ پروانه کوي په ټولګي کې داسې خاموشي خوره شوه لکه دشپې چې په هديره کې مزل کوې؛ يوازې دخپل تنفس اوازاوربدل کېده يوځل مې بيادعزرپه انداز مخ ورواړوه خوهغه بيا هم ځان ګرم ګاڼه همداسې وختونه تېرېدل چې نهم ټولګي ته ورسېدو ظاهرشاه داقتصادي مشکلاتوله امله له ښونځي سره مخه ښه وکړه اوديوې ګولې حلالې روزۍ د په لاس راوړلوپه لټه کې شو خدای ج مهربانه دی هغه(ج) وايي چې تاسې حرکت وکړئ نورموپه چاروکې برکت زه اچوم يوکال ورسته يې ټکټر(ترکتور)واخيست په سرکې يې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلونکی نیولی و خووروسته یې خپله یادکړاومزدوري به یې
وربانديې کوله

ښه یې ساعت تېروه یوورځ خبرشوم ،چې ظاهرشاه ډېر شدید ټپي ده
اود کوما په حالت کې دننګرهارپه عامه روغتون کې دی دخبرپه
اورېدو سره مې ظاهرشاه داسې په سترګوراغی لکه درې کاله
وړاندې چې په ټولګي کې وو دپېښې په اړه مې ډېروپوښتل
خوخلک هم ډېر نه وو خبر چې څه پېښه شوې، بېرته مې زړه ارام شوه
ماویل چې ځینې وخت خلک ډرامې هم جوړوي، خوکاش چې دا په
رښتیاهم کومه ډرامه وای ظاهره شاه هم رښتیا په همدې شرنوشت
ککړشوی و هغه دشګو یولوی کمرلاندې شوی وو داوړې شپې
ورځې وې یوچاته یې په ټکټرکې شګه وړله مزدورانوته یې ویلې وه
چې تاسوشګه بارکړئ اوزه به دهغه کمرلاندې سیوري ته دمه وکړم
څودقیقې وروسته یوهلک چې له دوی سرېې کار کاوه چیغه یې
کړېوه چې هلې استاد مړشو له دې سره خړې دوړې داسمان په
طرف پورته شوې لوی کمرلاندې پرېوتی و، ظاهره شاه وروسته له
پنځلس دقیقوله شګوراویستل اوروغتون ته ورسول شو
پس له څلورومیاشتوبستري کېدو له روغتون څخه خارج شوه
ډاکټرانویې پلارته ویلې وو چې دوخت په تېرېدوسره به ورو وروښه
شي خوزما دژوند ترټولو بد اونه هېرودونکې خاطرداده چې هغه
اوس ددرې کالوپه تېرېدوسره هم په دواړو پښوفلج اوپه یودرې
ټایره بایسیکل باندې ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ظاهرشاه چې همېشه به يې په خوله مسکااوزمزمې خورې وې
تل به يې نوروته خوشحالي ورکوله،اوس يواځې اويواځې سپينې
اوښکې چې دسترګوله کونجونويې لارې کوي خپلې دژوند ملګرې
بولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کــلـيـو الـــه

تل راته همدا يوه خبره کوې چې ،زه ستا نه يم خوښ،او هسې په خوله راته وايې چې مينه درسره لرم،ته خو يوځل ماته داموقع راکړه چې زه خپله مينه له تاسره رښتيا ثابته کړم او که ته تل همدا سې غلط فهمي کوې نو دا بايد هم ومنې چې هر پيوند په اعتماد ولاړ وي،او چې اعتماد تر منځ نه وي هيڅ هم سم او مکمل نشي ثابتېداى،نه پوهېږم ولې مې زړه ددې په مينه خام وه او خندا يې راته لباسي ښکارېده او هيڅ باور مې پرې نه شو کولاى،خودې به هر وخت همدا هڅه کوله ترڅوځان زما په وړاندې صادقه وښيي،خو ما دا وخت نه ورکاوه.

ما به ويل داد کور کلي نجونې دي، کله هم له کور په دې نوم ندي وتلې چې له يو چا سره دې په سيل ا وچکر ووځي،او بيا مينه خو تهمت،تهمت دى،دا به چېرته ددې خبرو توان او حوصله ولري،

نو مې يوه ورځ ورته وويل: راځه چې په دې هرڅه غټه تيره کېږدو ، زه او ته د غريبو کورنيو څخه يو ،له ما او تاسره دا خبرې خوند نکوي،ته کـه مې ورسره وکړه بل ته کليوالـه انجلۍ يې ،مخ يې راواړاوه،ايا يو آځې د خانانو او مالداره خلکو زامن بايد مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي،ایا یواځې هغه خلک چې په ښارونوکې ژوند کوي دمينې لایقان دي، ایا دغریبولپاره یواځې او یواځې بې عزتي،دارام ژوند ورنه اخستل،دمالدارولخواپرې خندل او ریشخندونه وهل دي؟ایا غریب هېڅکله هم داحق نلري چې خپل دژوند ملګرې پخپله وټاکي،اوکه داپه کوم کتاب کې راغلي وي نو راته يې وښايه،اوکه چېرې وېرېږي نو سم راته ووايه،زما له طرفه پوره مطمئن اوسه اوداهم درته وایم چې که هرځای کې ځان په کوم مشکل کې بند ووینې نو که یوځل هم وروسته وګورې نو مابه حتماً درپسې ولاړه وګورې.

زه ستا په خاطر هرڅه کولی شم،خوته زما لپاره هېڅ قرباني نشې ورکولای،خویوه خبره درته حتماً کولای شم،اوهغه داکه چېرې زما واده له تاسره ونه شونوزه بیا یواځې یوه لارلرم ا وهغه دهم ځان وژنه ده،هسې هم ته وايې چې مینه دغریبوخلکوکار ندی،خوداځان وژنه اوځان سوزونه بیا دمالدارو کارندی،ایاتاچېرې اورېدلي چې دکوم خان او بډای سړي لورځان سېځلی وي؟نه هېڅکله هم نه ،تل داتېکه دغریب او بېچاره په کور راپرېوتې وي،اوقرباني ورکوي،ولې چې ستاپرخبره چې غم،درد او کړاوخویواځې غریب ته پیدادی.

نوره رانه روانه شوه،په تلوکې یې وویل:ته اوس هم وخت لرې زه له ځان سره حیران ولاړپاتې شوم ،بلکه ورځ زموږکورته دڅه شي لپاره راغلله،زماله مورسره په خبرو بوخته وه،زهم په کورکې وم خولږ ناروغ وم،دېرناروغ هم نه وم هسې پښه مې لږ تاوه شوې وه،مور مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورتـه وويـل:زه پخپلـه درتللم، خـونن زهيرنـا روغ ؤپښـه يـې اوښـتې وه،دهغه لپاره مې د چينې غاړې لـه پتهې نـه د ارهنډې پـانې راوړلـې ترڅويې ورتـه ګرمې كړم او پـه پښـه يـې ورتـه وتړم،نوپـه همـدې سـبب مې ونـه كړای شـو چـې درشم،دې مـې ژې مورنـه پوښـتنه وكړه،دزهيـر پښه اوښتې ده !ولې ډېرخوبه ژوبل نه وي؟

نـه هسـې هغـه خوتـاتـه معلوم دی،چـې غـټ سـړی شـو خـولا اوس هـم دماشوماتوب خويونه كوي،پرون يې په غره كې پښه تـاوه شوې وه ، بيـامې هغـه شكسـته بند تـه بوتـه ،هغـه وويـل چـې پښـه يـې اوښـتې ده،پرځای يې كړه ورته.

مـاددوی دوا ړوخبـرې اوربـدې،خوځان مـې غلـې كـړی و ،هغـې زمـا مورته وويل ښه نو اوس هغه چېرې دی؟

مور مې ورته وويل په كوټه كې دی.

ښه نو زه ورځم يوځل يې ګورم.

همداسـې دكـوټې پـه لـور راوانـه شـوه،ماژر ترڅنـګ اينبـی كتـاب راپورتــه كړ،اوځـــان مـــې پـــر مشـــغول كـــړ،ددروازې ټـــك ټـــك شو،ماوويل ځوك يې راځه.

څه كوم چې داخل ته درځم.

ژرپه خپل ځای كې كېناستم،ملينا ! ته يې راځه كنه لېونی نـو بېـرون څه تـه ولاړه يې؟راغلـه ولـې تـاچېرې كتـل چـې پښـه دې واوښـته،ته همداسې يې تل هواته ګورې،ماورته وويل تا بيا اپلتې پيل كړې؟

هغې وويل اپلتې ويل خو اوس زما عادت ګرځېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماورته وويل ښه داهرڅه پرېږده غواړم يو راز درته ووايم ،خوګوره چاته به وايي نه،هغې وويل ښه وايه څه دي،بيادې کوم پلان جوړ کړی دی،ماورته وويل:ستاسودکورشاته هغه لوی خوړ چې دی،هلته مې پرون يونوی دام وليد چې چا دسيسيو لپاره غوړولی وه،اوله ځانسره مې پتېيلې ده چې بېګاته يې راټول کړم،په کړس کړس يې وخندل، اوس دې غلا هم پيل کړې،ماورته وويل چې ډېرمې خوښ شو،ويل يې ښه زه اوس ځم کله چې تللې نوزه هم درسره ځم.

مارته وويل اياته ليونۍ شوې يې؟ته څنګه لماسره ځې،که څوک مووويني نوبيا ؟هغې وويل نورې خبرې پرېږده خوچې ځانته ولاړ نشې.

بېګاته زه په څه بهانه له کوره ووتم،او دخوړ په لور روان شوم،په مادملينا خبره هسې باک وګڼله چې ويل يې زه هم درسره ځم،سپوږمۍ به هم دلس يوولسو شپووه،په خوړ کې غلی غلی روان وم چې ددام ځای ته ورسېدم،نومې عجلتاً ددام په ټولو پيل وکړ،نيمايي دام مې ټول کړی و، چې ترڅنګ مې دتيږې دلګېدو غږواورېد،ځای پرځای ودرېدم سکوت مې اختيارکړ،لږه شېبه وروسته مې بياخپل کارته ادامه ورکړه،ماويل کېدای شي دا به زما وهم وي،بله تيږه هم راواره شوه،متصله ورپسې بله هم ولګېده خو زه پرې نه لګېدم،نومې زړه وښويده،منډې ته مې ځان جوړ کړ،چې اواز راباندې وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منډه نکړي چې ښېښه به دې خوږه شي، داملیناوه،او په ناست او ازله خندانه شنه وه، په غوسه شومه ورته په لړه شېبه کې مې ټول بدن په ښولولوند شو.

ورته مې وویل ته خو په رښتیاهم چې لېونۍ یې که په دې وخت کې موږ ځوک وګوري نو څه به وایي؟

څه به وایي خو وایي به کنه چې دام یې پټوه او خندا شنه کړه.

سترګې مې ورباندې برګې کړې ،ژړلاړه شه کورته ،کنه زه درنه خفه کېږم.

ویې ویل نن زه کورته نه ځم،نن غواړم چې دا سپوږمۍ زما او ستا دخبروشاهده پاتې شي،نن به راسره ښې ډېرې خبرې کوې او اخري فیصله به دې راته اوروې،زه درته نن هېڅ هم نه وایم غواړم ټولې له تانه واورم،ولې چې مادرته خپله پرېکړه ویلې ده،او زه باور لرم چې به زه دالوبه ګټم.

دهغې فیصله داوه چې که چېرې موږ واده ونکړ نو هغه ځان وژني،خومادا هم نه شول زغملی،ترډېره دلته دلویولویوتیږو په منځ کې لکه دلېونیوپشان ناست وو ،او په خپ او ازموخبرې کولې،اخر مې په ډېرعزرله دې ځایه پاڅوله او کورته مې ولېږله زه هم دخپل کور په لور روان شوم ،کله چې خپل بستر ته ورسېدم او پرېوتم نوله ډېروسوچونو وروسته خوب له ځانسره په یونامعلوم سفر روان کړم،نه پوهېدم په کوموځایونويې وګرځولم،اخر داچې په یوه ځای کې يې په لویه شخړه واړولم،شخړه هم دهغه دام له خاوندسره منځته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغله چې مايې دام پټ کړی و ،هغه له ماڅخه خپل دام غوښته او ماخپل جرم نه مانه اخر ترې په تېښته شوم،داسې يې ستړی کړم،چې نور له منډې پرېوتم،پښو مې کار نه کاوه،يو وخت د هغه سړي لاس زما ګرېوان ته دراسېدو په حال کې وه چې د تمانچې فيرمې واورېده،له دې سره د هغه سړي د ټنډې سرې وينې زما په مخ راوالوتې،او پرېوته،شاته مې وکتل ګورم ملينا تمانچه له لاس داسې ولاړه ده کله بل فير چې هم کوي،يو ټوپ مې وکړ چې نژدې وه له کټه پرېوځم، راويښ شوم دلمرو ړانګې،د کړکۍ له لياري د کوټې په منځ کې لوېدلې وې،ګورم چې مور مې او ملينا دواړه کوټې ته راننوتې،ويل يې ته لا تر اوسه ويده وې؟

نه نه د پروخته پاڅېدلی وم، ملينا د مسخرې په ډول وويل څنګه دی اوس خوبه دې پښه دردنکوي؟

ماوويل نه اوس ښه ده.

مورمې هغې ته وويل لورې !ته کښېنه او زه چای تيار وم،او ډېره ژر راځم،هغې ورته وويل مورجانې که څه هم کارمې ډېرزيات دی خونن به ستا په لاسونو پوخ شوی چای حتماً څښم.

مور مې له کوټې ووته، او دې په ماپورې خندل پيل کړل،خو ما ورته وويل ملينا ته لما سره په رښتيا مينه کوې؟

زه په رښتيا له تا سره مينه کوم.

څه مينه !ای لېونيه مينه خويواځې مالداره خلک کولی شي زما اوستايې له مينې سره څه ،ماورته ويل زه له تا سره واده ته تيار يم،په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وخت کې مې مورپتنوس پـه لاس کـوټې تـه رانـنوتـه زمـا خبره يـې لکه چې نيمه اوربدلې وه،زهيره بيا څه ته تيار يې؟
رنګ مې پک وتښتېده،خبرې رانه هېرې شوې، ښه وچې ملينا پـه ماباندې مخکې شوه او ويې ويل:مورجانې دچايو خوراک تـه نـور نوڅه دی نور څه کولی شي درې وارو يوه لويه خندا وکړه او دچايو پـه ښبنلو موپيل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمګړې مینه

فاروق به شپه او ورځ د هغې په فکر او ژورو خیالونو کې ډوب و، دا سې لکه دیو چا څخه چې ډېر قیمتي شی ورک شوی وي، صحربه چې را پاڅېده سترګې به یې داسې سرې وې لکه ټوله شپه چې یې په نشه کې تېره کړې وي.په پوهنتون کې به له نورو ملګرو لېرې او بېل ګرځېده له هېچا سره به یې خبرې نکولې ملګري یې هم ډېر پرېشانه وو، له ده څخه به یې چې هر څومره دده د پرېشانۍ دعلت پوښتنه وکړه ده به ورته حل نه وایه او ټول غمونه به یې په خپل زړه تېرول.
سپوږمۍ هم د خپل نوم په څېر ډېره ښایسته، نازکه او له صمیمیت څخه ډکه نجلۍ وه.
سپوږمۍ او فاروق دواړه په یوه کلي کې اوسېدل، له لومړي ټولګي څخه تر لسم ټولګي پورې د ټولګي اول نمره او دوهم نمره وو، دوی به د رسونه ډېر په مینه سره ویل او ډېره مینه یې یو له بل سره کوله،فاروق به چې کله ټولګي ته داخل شو نو لومړی به یې د هغې څوکۍ ته کتل، که سپوږمۍ به په ټولګي کې نه وه نو داسې فکر به یې کاوه چې هېڅوک هم نشته او کله به چې سپوږمۍ وه نو یو بل ته به یې په بندو شونډو یوه د مینې موسکا وکړه،ددواړو مینه یو د بل په زړه کې داسې ننوتې وه لکه د انسان په رګونو کې وینه،دواړو به

(c) ketabton.com: The Digital Library

داختر او رخصتیو په ورځو کې یو بل ته ډېرې ښکلې تحفې ډالۍ کولې.
فاروق او سپوږمۍ ژمنه کړې وه چې کله له دولسم ټولګي څخه فارغ شول دواړه به سره واده کوي او هم به دواړه په یوه پوهنتون کې لوړې زده کړې کوي او یوه پوهنځۍ به انتخابوي، خو کله چې له لسم ټولګي نه فارغ شول د سپوږمۍ پلار هغه له ښوونځي نه ایساره کړه، ځکه چې اوس سپوږمۍ هم پېغله او هم ډېره ښکلې وه، له ښوونځي څخه د سپوږمۍ په ایسارولو فاروق ډېر خفه او نا ارامه شو او د هغې پلار ته یې ډېره سپارښتنه وکړه چې ښوونځي ته یې پرېږدي خو هغه ورته وویل چې نور نو ماته پښتو دا اجازه نه راکوي چې پر سپوږمۍ تعلیم وکړم، سپوږمۍ هم ډېره خفه او غمګینه شوه، خو بیا هم فاروق به ورته تسلي ور کوله چې زه به ستا ارمانونه پوره کووم، فاروق له همدې لېسې څخه تر فراغت وروسته پوهنتون ته بریالی شو خو اوس د هغه هم پخوانۍ مزه نه وه، دی به کله کله د سپوږمۍ خوا ته په پټه ورته، په وروستۍ کتنه کې یې با لاخره پرېکړه وکړه چې د فاروق کورنۍ به د سپوږمۍ د غوښتلو لپاره هغوی کره ورځي، د فاروق مور او پلار د سپوږمۍ دوی کور ته د هغې د غوښتنې لپاره ورغلل د فاروق پلار د هغې پلار ته وویل چې موږ را غلي یو چې د سپوږمۍ مخ زموږ کور روښانه کړي.
د سپوږمۍ پلار یې بې له ځنډه خبره ور غوځ کړه ((بس شاه محمده بس ! نه غواړم چې د سپوږمۍ د کوژدې په اړه څه واورم زه غواړم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ مدو ته ورکړم او زما ورور هم همداسې غواړي نو زه نشم کولای چې هه خفه کړم ځکه چې هغه ماته یوورا مخکې هم له غوږه تېره کړېده))

دفاروق پلار او مور د سپوږمۍ د پلار په داسې پرېکنده ځواب ډېر خفه شول،دهغوی لخوا په دې منفي ځواب فاروق لاډېر خفه شو ، آن ساډوبې پرې راغله.

شاه محمد چې د خپل ځوی حالت ولیده نومجبور شو چې بیاهم ځوځله ورشي مګر ددوی هلوځلو کوم ځای ونه نیوه،سپوږمۍ هم ډېره خفه وه،پلارته به یې تل ویل چې زه ستاله وراره هغه چرسي ،لیوني اولوفرسره واده نشم کولای هغه زما نه دی خوښ،مګر دهغې پلار دواړه پښې یوې موزه کې ننوېستې وې،او ویل یې که مدو اوس لیونی دی خدای به یې ښه کړي.

مدو داسې یو بې سواده لوفر اونشه یي هلک و چې په شپو شپو به په پردیو حجروکې اسېده،اونشې به یې کولې اوکله به په مرادرو ډېراړنونو کې پروت وو.

له همدې امله سپوږمۍ هم ترې نفرت کاوه اوویل به یې چې زه یوه تعلیم یافته نجلۍ یم اوهغه یو بې سواده نشه یي،اوچټل هلک دی ،زه نه غواړم چې خپل خوږ ژوند له یوه نشه یي سره تریخ کړم.

په دې خبروکې تقریباً یوکال تېر شو د سپوږمۍ تره د مدو یو څه دوا وکړه هغه لږښه شو بلاخره د سپوږمۍ او مدو دکوژدې ډزې واوربدل شوې،دواړه کورنۍ خوشحاله دي خو سپوږمۍ ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېشانه په څو ورځوکې يې سر تر شفاخانو ،زيارتونو او ملايانو ورسېد مګر هېڅ فايده يې ونکړه.
فاروق په پوهنتون کې وو او خبرنه و ه چې ددمينه اوس دبل چاشوې ، تل به يې دفکرونو اوسوچونوبېړۍ له سمندر څخه دوتلو لار نه شوه موندلای، بله ورځ سپوږمۍ مدوته واده شوه،خو هغه له واده نه وروسته بيا په نشو اخته شو ،او کور يې دوباره پر ړنګ شو ، سپوږمۍ په دخپل مخ رڼاته توري شپې سباکولې اولکه شمع به ويلېده.
فاروق په پوهنتون کې دخيال په وزرو الوتی و ،ډول ډول سوچونه يې کول چې يو چا ورته ليک ورکړ،دسپوږمۍ دنوم په ليدو وترهېد ،ليک يې په لړزاندو لاسونو پرانيست ،لايې پوره لوستی نه وو ،چې يوه چيغه يې له خولې نه ووته،هغه اوس د سپوږمۍ لخوا په ليکلې ليک له مدو سره دهغې پرواده خبر شو نور يې ونه شوه زغملی ، لېونی شو ،اخوادېخوا يې منډې پيل کړې، د ليليې دوهم پوړ ته وخوت اوځان يې لاندې و غورځاوه، هلکانو ورمنډه کړه اوتر څو يې چې روغتون ته رساوه نو روح يې دمينې رښتونې څښتن ته سپارلی وه.
هلکانو دفاروق مړی  کلي ته ورساوه لاپه لاره وو ،چې کوڅې ته نږدې يوه بله جنازه هم راورانه دوی،له يو چا يې وپوښتل هغوی ځواب روکړ چې مدو مړ دی دوی ورته وويل چې ولې هغوی ځواب ورکړ چې نشه يې کړې وه او په يوه وياله کې پروت وو ،دشپې پرې اوبه راغلې وې او وژلی يې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګ ته په تمه

رفیع الله روښن    WWW.SAMSOOR.COM    بې موره

(c) ketabton.com: The Digital Library

درنو لوستونکیو دادهغې بې وزلې ،ناچارې او درسمونو په ګرداب کې د راګېرې افغانې مېرمنې د خولې خبره ده چې له سهاره تر ماښامه لکه د هېواد د نورو ډېری ،خویندو ،میندو پشان یې سترګې د ځمکې او لاسونه یې د خلکو په لور غزولې نیولې وي او له خلکو څخه د خپلې کورنۍ لپاره خیرات غواړي.
مېرمن مې ځکه ورته وویلې چې ،واده یې شوی دی، خو په ډېر افسوس باید ووایم،چې اوس په خپله هم خاوند ،هم مېرمن،او خوانبې او خسرده.
کله چې به د ښار په طرف ولاړم نو دابه مې حتماً لیدله چې دافغانستان بانک او سرینا هوټل تر منځ د غزېدلودوه سړکونو په یوه څنډه کې به یوه شلېدلې ټوټه مخې ته غوړولې وه، او خپله به په خاوروکې ناسته وه.
څوځله مې ولیده ،خو دې به له چاڅخه په خوله څه نه غوښتل بس یواځې د لاس په غزېدو به یې بسنه کوله،څوځله مې له ځان سره وویل چې راځه پوښتنه ترې وکړه، چې ولې په دومره ځوانۍ کې په دې ناوړه عمل(سوال )کولومجبوره شوې ده.
خو هېڅ جرئت مې نه شو کولای،ویل مې هسې نه چې بد ګمان وکړي ،نه شي چې زه ورته کوم فکر کوم هسې ونه خېژي ،او زما له خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلط مطلب واخلي، بیا به هغه هم بل شرم وي، خو زړه مې بل څه ویل.
ډېره موده وروسته یوه ورځ له لغمان څخه کابل ته راغلم، د اوړي موسم وو، نژدې لس بجې وې چې دې ځای ته را ورسېدم، ګورم چې دې په همدې وخت کې ځانته ځای برابروه او کناستله، په داسې حال کې چې ګرد او دوړو فضا نیولې وه، او یو خړ حجاب یې په ونو، دېوالونو او ځمکه غوړولی وه، بې له کوم سوچ نه مې پرې اواز وکړ!
خورجانې! که بده نه درته معلومېږي نو یوه پوښتنه درنه کوم؟
نجلۍ چې په یوه تور حجاب کې یې ټول ځان نغاړلی و، زما په لور راوکتل، چې مخ یې هم نه ښکاریده، د لږ شېبې لپاره چپ شوه بیا یې وویل:
څه وایې؟
د څه وایې په ویلو سره هرڅه رانه هېر شول، حیران شوم چې اوس څه ورته ووایم، کله مې ویل چې راځه ورته ووایم چې نه هېڅ هم نه، بیا مې وویل چې اوس خو به حتماً بل څه فکر وکړي، زړه مې د زمري کړ، ورته مې وویل: زه چې کله په دې لاره تېرېږم تا وینم چې په همدې ځای کې ناسته یې، خو یو څه چې زه ډېره اند ېښنه ورته لرم، هغه دا ده چې یو خوته راته ځوانه ښکاري، که څه هم ما ستا مخ نه دی لیدلی، خو ستا له لاس څخه داسې برېښي چې عمر دې ډېر زیات نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لپاره چې په قهر نه شي ، ورته مې وويل زه يو ژورنالېست يم، کېدای شي د ځان او سوال کولو ته د اړکېدو لامل دې راته ووايي؟
نجلۍ په ناست اواز وويل زه ولاړ شه او خپله مخه دې کوه.
پوه شوم چې نه غواړي خبرې راسره وکړي، نو مې له ژورنالېستکي هنر څخه کار واخست، هغه وخت چې به موږ ته استاد درس وايه،نو ويل به يې چې: (کله هم له چا سره غواړئ مصاحبه وکړئ نو کېدای شي له داسې اشخاصو سره هم مخ شی ،چې هغه د مصاحبې لپاره وخت درنکړي او يا هم ستاسو سوالو ته له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړي نو په دې صورت کې به له داسې تاکتيکونو څخه کار اخلی او داسې خبرې به کوئ تر څو هغه له تاسو سره انټرويو يا مصاحبې لپاره حاضر شي).
نو مې ورته وويل: ګوره زه نور کوم مقصد نلرم ، يوائې غواړم ستا په حال پوه شم، او له تا سره څه خبرې وکړم، ستا د ژوند په اړه او ستا د اخبرې بيا زه په اخبار مجله کې هم خپروم ،نو کېدای شي داسې څوک پيدا شي چې ،له تا سره مرسته وکړي او له دې بد حال څخه به وژغورل شې، دا اخبار او مجلې بيا ددولت ډېر لوړ پوړي چارواکي او نور خلک تر لاسه کولی شي، نو کېدای شي څوک خدای پاک مهربانه کړي.
نه پوهېږم څنګه يې خبرو ته غاړه کېښوده،راته يې وويل: داډېره لويه کيسه ده خو زه له تانه دا پوښتم چې زه دلته دا څو مياشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشوي ، چې راځم تراوسه هېڅ هم له مانه داسې پوښتنه نده کړې نوتاته څنګه داسې احساس پیدا شو ؟

ماورته وویل: خیر دادهرچا خپل کار دی،ماډېرپخوا غوښتل چې له تاسره خبرې وکړم ،خوهېڅ مې ښه نه ګڼله،هغې راته وویل دا لوی سرک دی،نوکېدای شي داتلونکي او راتلونکي لارویان پرموږ شک وکړي ،ولې چې په دې کې هر راز خلک وي،نوزه نشم کولای چې په داسې حال کې درسره خبرې وکړم.

ما ورته وویل کومه د تشویش خبره نده ،زه یو خبرنګار یم که ته اعتراض نه لرې زه به ستا خبرې په ټایپ کې واخلم،او ستاغږ به له ځان سره ثبت کړم،اصلاً خوزما تلوسه دې ته وه چې هر څنګه وي باید ددې په حال خبر شم،نوپه دې صورت کې به هېڅوک هم کوم شک ونکړي،راسره یې ومنله،ماهم ژر له اوږې نه بایک را کوز کړ او ټایپ مې ترې را واخست ،ددې خولې ته مې نژدې کړ،ښه نو اوس راته ټوله کیسه وکړه.

له خبرویې داسې معلومېده چې ښه تعلیم یافته انجلۍ دې، ولې چې هره خبره یې ښه په تول تللې اودقت سره کوله ،هغې وویل: نو مې ورمه ده،کورمې په ښېنحصار کې دی ،زه مې پلار په ډېر کوچنیوالي کې، د ماما ځوی ته ورکړې وم،هغه وخت چې زه لا د څلور کالو په عمرکې وم، زما ماما په فرانسه کې ژوند کاوه، کوم وخت د چکر لپاره افغانستان ته راغلی و، نو پلار ته مې یې ویلي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې وړمه دبه د زاهد لپاره راکوې، زاهد زما دهمدې ماما ځوی دی، چې هغه وخت هغه هم کوچنی و.
زما پلار هم بې له دې چې فکر پرې وکړي ،اوزما ننني ژوند په نظر کې وساتي، ورته ښه کړي وو.
هغې وویل چې ډېره اوږده یې نه درته وایم، څلورکاله وړاندې مې واده وشو ، چې عمر مې شپاړلس کاله وو ،حال دا چې هلک زما سره په واده کولو نه وخوښ،خود خپل پلار په مخکې یې څه نه شول ویلای، له ما سره به یې په کور کې له پلار او مور نه پټ تل شخړې کولې،وهلم به یې،تل به یې راته ګواښونه کول چې طلاقوي مې،تر دې چې څو ځله یې زما د وژلو هڅه هم وکړه،یونیم کال دمخه مې ماما (خسر )چې دزړه حمله پرې راغله مړشو ، کله چې هغه مړ شو ،نو زما خاوند ماته په کور کې د ټولو په وړاندې وویل:چې نوره نو زه تا نه شم زغملای،اونه غواړم پاتې ژوند له تا سره تېر کړم ته خپل کار کوه او زه به خپل،مور یې هم ورسره ملګرې شوه، له څو میاشتو وروسته، یې زه په بار بار د پلار کورته وشړلمه، خو بېرته به راغللم، په کور کې به پلار هم راته ویل،چې ته له هغوی سره وخت نه تېروې، هغوی پر تاهېڅ نه دي ملامت،نوره زما کورته مه راځه په ځای ددې چې هغه زما پوښتنه کړې وای داسې خبرې یې راته کولې.تېرکال دنوي کال لمړۍ ورځ وه چې خاوند مې راسره جنګ وکړ راته یې وویل چې نوره ته پوهه شه او دادې کورته خونه ځې خو دادی زه درته کور پرېږدم او له کوره ووته،دري څلو ښتمه شپه یې وه ،چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپې په دولس بجو د کور موبایل ته زنګ راغی، خوابنې مې ځواب ورکړ،زه هم را بیداره شوم،خوابنې په غوږونو یو څه درنده وه، نو یې لوډ سپیکر ان کړ،پوهه شوم چې اواز د زاهد دی ،مورته یې وویل زه یم، زاهد زه اوس په ایران کې یم،ورته یې وویل چې اوس موبایل،ورمې ته ورکړه،هغې ماته لاس را اوږود کړ،ټلیفون یې راکړ،ما ورته سلام وکړ،هغه پر ځای د دې چې زما د سلام ځواب راکړې وویل،نورې خبرې پرېږده غوږ شه چې زه څه درته وایم.نجلۍ بیا غلې شوه خو خبروته یې بېرته ادامه ورکړه هغه راته وویل چې ته له همدې شپې نه پر ما طلاقه یې ،که ته وغواړې نو له هر چا سره واده کولی شې، زما له لاسه موبایل پرېوته ،د ماما ښځې مې موبایل او چت کړ یوه مکر جنه غوصه یې پر هغه وکړه او نور یې بند کړ،ټوله شپه مې په ژړا تېره کړه، سبا مې ستونی بند وو. بله ورځ مې په کور کې خوابنې راته وویل چې نور نو داسې وخت نه تېرېږي،ته باید د کور لپاره هرڅه برابر کړې،په لوږه خو هم نه شو کېناستی،اخر تر دې چې زه یې دې لعنتي کار (سوال کولو )ته اړوبستم.هغې په داسې حال کې چې له سترګو یې اوښکې روانې وې او سلګیو یې خبرې قطع کولې وویل، کله چې زه له کوره راوځم نو داسې فکر کوم لکه د اغزیو په انبار چې خېژم، خوځه وکړم مجبوري مې ده،ډېر تعلیم زه نلرم چې چې په کوم ځای کې ځانته نوکري وګورم، اوس خو چې په هرځای کې د وظیفې په خاطر ورشې نو لمړۍ پوښتنه یې داوي چې په انګلیسي او کمپیوټر پوهېږې؟خو زما نه کمپیوټر یاد دی او نه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګلیسي.کله کله خو وایم چې راځه ځان ووژنم خو بیا وایم چې دا دنیا خو مې هسې هم خرابه شوه، په دې کار سره به مې هغه دنیا هم خرابه شي او د دنیا او اخرت مختورنه به شم، خو دا سوال کوم چې خدای پاک پخپله مرګ را کړي، هغه په دې ځای کې بیا سلګیو ونیوله، ښه شېبه یې وژړلې، اوښکې یې وچې کړې او زیاته یې کړه وروره ! زه هره ورځ مرم باور وکړه کله چې سهار راوځم نو زه مړه کېږم خلک یو ځل مري خو زه بد نصیبه تل مرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګټه به زما وي

په دفترکې يې ټول وېرولي وو، کوم شخص به چې د حاضرۍ له ټېم څخه لږ هم ناوخته راغی نو په حاضرۍ کې به يې خانه قيد او کسر معاش به و ،ددې تر څنګ به يې په مامورينو بې ځايه پټکي او غوصې هم کولې ،نوله همدې امله به هر مامور هڅه کوله چې له خپل وخت څخه هم يو څو دقيقې دمخه راشي ،په همدې نږدې ورځوکې زه هم ديو ملګري په واسطه په همدې دفترکې دمامور په صفت مقررشوم ،په دفترکې به ټولو ملګرو ددې له لاسه شکايت کاوه، ويل به يې چې ډېره بداخلاقه ده او هېڅ دچا مراعت نه کوي؛ دا په دفترکې داداري رئيس وربېره وه ،او سني رئيسان خو په مياشتو مياشتو وظيفې ته نه ورځي ،زموږ د دفتر سرنوشت هم په همدې ډول و ،رئيس صاحب به ډېر وخت نه و ،ما خولاتردې دمه ليدلی هم نه و، کارونه به يې همدې نجلۍ پر مخ بېول که څه هم چې دا زموږ پشان يوه ماموره وه ،يوه ورځ په ښارکې ډېر زيات ترافيکي ازدهامات وو ،لارې بندې وې يو څو دقيقې وروسته ورسېدم ،له سلام او ستړي مشي وروسته مې جيب ته د قلم لپاره لاس کړچې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاضرۍ کې لاسلیک وکړم ګورم چې یوه خانه مې په سره قلم قید شوې یوخومې په لاره کې زړه شین شوی و اوبل مې دلته فکر ډېرخراب شو په چورت کې ولاړوم؛ چې دې خپلې توري چشمې(عینکې) له سترګو پورته اودلنډ پیچک پرسرېې بندې کړې ،په خوله کې له ژاولو څخه یې دوه پرلپسې ټکان وو ېستل اومخ یې واړوه ،زه هم بې له څه ویلو په خپل ځای کې له یوه سوړ اسوېلي سره کښېناستم.

ځوورځې په منځ کې تېرې شوې بله ورځې چې دفترته راغلم ګورم چې داپخپله هم په خپل سیټ نه وه .له ملګرومې وپوښتل چې چېرته ده هغوی وویل تر اوسه خونده راغلې ساعت ته مې وکتل دساعت دساعتګر عقربه په اتو او ددقیقو عقربه په دولسوولاړه وه یعنې پوره اته بجې وې پاڅېدم او ددې دواړه خانې مې قید کړې ،ټولو ملګرو ویل ښه دې ونکړل ،اوس به څه حال کوي ،شل تېرې وې له اتونه چې بې له ټک ټک او سلام څخه لکه مچۍ شعبې ته راننوته .له هرڅه نه مخکې یې په شعبه کې په مامورینو یو ځغلنده نظرتېرکړاوبیاخپلې څوکۍ ته ورغله له کښېناستوسره سم یې په خانه سامان یوطوفاني غږوکړ ((صابر !)) صابرله اوازسره سم دشنوچایو یوه پیاله له دوه چاکلیټوسره په یوه قاب کې ورته په میز کېښودل (اینه قربان ) اوروان شو ،دې دغاړې دتوربیک ځنځیرکش کړ جګړې لب سرین یې په نریوشونډوتېر راتېرکړ، سپرۍ یې هم استعمال کړه ،دچایو په کپ یې سرې شونډې ورښکته کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوکـوچنی غـرپ یـې ځنـې وکړ،حاضـري یـې ځانتـه راکـش کـړه ،دربموټ تکمـه یې کېکارلـه دامـروز ټلوېزیـون چینـل یې ونیـوه پـه تلویزیون کې دا هندي سندره چالانه وه ((چاهاهی توجکو جاونګا هردم ))ددې اورې هم ورسره په خوځښت راغلې ، بیایې د مېز پر سر ابنی شین قلم راپورته کړ حاضري یې پرانیسته د معمول سره سم یې قلم پر خانه ورټیټ کړ خو ناګهانه یې ټکان وخوړ او په خپل ځای لکه دکیچه مار ودرېده ((این کدام آمر نو سرمامقررشده که حاضری من راقید کـرده است ))ټول مامورین لکه خزان وهلې پاڼې رپېدل او هېڅ ځواب یې نه وایه بیایې سترګې راوو ښتې ((فکرمیکنم همه ی تان کر هستیند )) پـه خپـل ځای ودرېدم. داکارماکړی ((بری تـو این صلاحیت راکی داده؟))
ماوویل قانون !او قانو له هغه څه نه عبارت ده چې په امر،معدون ،رئـیس ،ملازم ،قوماندان او عسکر ټولو یوشان تطبیقېږي او ما داکار هم قانوني کړی دی اوبیاخوته هم زما پـه شان یوه ماموره یې ته دکوم صلاحیت له مخې مورېدناوخته ،یانه راتګ پـه صورت کې غیرحاضروې؟له خپل ځایه راروانه نه شوه او مخې ته مې ودرېده ((مـن را خـوب بشـناس نـام مـن رویـا اسـت ومشـهور بـه غـوره ))څه !غوره !!؟دغوري په اورېدومې ذهن اته کال مخکې ولاړلکه یوڅه چې راپـه زړه شي ،لـه دې سره یې ګوتـه رانیغه (بلې غـوره !) دګوتې لـه نیولوسـره یې لـه مړونـد سره پـه هغـه داغ چې اتـه کالـه مخکې یې له ماسره د پنځوس زره جُنبشیو پیسوشـرط پـه اینښـودلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره خپل لاس سوزولی وه زما نظر شو .له ډېر کوښښ سره سره مې ځان قابو نشو کړای لاس مې وروړاندې کړ لستونی مې ورپورته کړ. (این چی بی نزاکتی است )اوروانه شوه زه هم په خپل ځای کېناستم او په یوژور فکر کې شوم .دوی یو وخت زموږ همسایه ګان وو .له چارېکاروخخه راغلي وو .پلار یې په ننګرهار کې یو نظامي صاحب منصب وه .خو خدای بخښلی څه موده وروسته شهید شو .او دوی یې تره کابل ته راوستل .ددې مور به زموږ کورته ډېرې ډېرې پخولو لپاره راتلله دا به هم تله راتلله او لوبې به مو کولې نژدې پنځه کاله مو همسایه توب وکړ ما به هر وخت مورته ویل چې چې داجنیۍ به راته غواړې داچې ډېره شوخه وه نو په کور کې به یې (غوره )بلله .خو موربه مې راته ویلي زویه داخلک ډېر خانان دي څمکه .جایداد .موټرونه او سرایونه لري موږ خو حتی یوه غوا هم نلرو چې شیدې او مستې یې وخورو .دې هم له ما سره ډېره منیه کوله موږ به چې کله لوبې کولې ما به ویل (ګټه به زماوي )دې به ویل (برد ازمن خواهد بود )د پنجشنبې ورځ وه د دفتر د ولس بجې رخصت شو . کله چې مامورین وخوځېدل نو ما هڅه کوله چې له ټولو نه وروسته ولاړشم .همداسې وشو چې ټول ملګري ووتل نو زه هم روان شوم او چې خواته یې ورسېدم نو ورنږدې شوم ورته و مې ویل: (ګټه به زماوي ) لکه په ځنګ کې یې چې بم انفجار وکړي یو ځېزیې وکړ ودرېده برندې برندې یې راوکتلې له دې سره مې خپل لستونی پورته کړ او هغه داغ چې اته کاله پخوا همدې په خپل لاس دلرګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرانګارليکلي وو ،چې (محبت ګناه نيست) ور وښود ښه و چې په دې وخت کې شعبه کې څوک نه وه بې اختياره يې راباندې راودانګل غوښتل يې چې غېږ رانه را تاوه کړي خوډېر ژر بېرته شوه سجادتو ! !؟اوغلي ودرېده ماوويل هوزه (نی من قبول کرده نميتوانم)له دې سره يې له سترګو څخه دمرغلرو ددانو په شان اوښکې رواني شوې (اينه توبردی ومن باختم ) خدايه شکر که دوستم بعدازديرديدم له لاسه يې ونيولم اودکورپه لوريې روان کړم.
ډېرکشمکش مې ورسره وکړ خوويې نه منله اوله ځانسره يې بوتللم، کورته چې ورسېدو ددروازې زنګ يې وواهه دروازه خلاصه شوه ،دننوتلوهيله يې وکړه زه هم داخل شوم ،دننه په کوټه کې يې کېنولم مورته يې غږ کړ (مادرجان ) يوه بوډۍ کوټې ته راننوته ښه ورته ځيرشوم خو اوس هغه پخوانۍ پشمينه نه وه مخ يې ګونځې کړې وې په غوږو کڼه شوې وه دکاکا صالح هجران دا هم دمرګ تر کومې رسولې وه ،ځای ته مې رانه وسته ،غوره يې غوږ ته ورنږدې شوه مادرجان(سجاد است امو که درلغمان همسايه ی مابود )چې سجادبچيم تو ! !؟له دې سره يې زړه ته رانږدې کړم دموراودکورنۍ دټولو غړيو احوال يې راڅخه وپوښت کښېناستو ،غوره ولاړه دغرمنۍ يې تياره کړه لاسونه مو پرې مينځل په دسترخوان سره راګرد شو ،په دې وخت کې يوه ښکلې انجلۍ چې نژدې ددرې کلونو په عمربه وه ترخوامې کښېناسته ،غورې ته مې مخ وروارړوه دا ښکلې کوچنۍ خوماونه پېژنده ،غوره غلې شوه اوپرتېنده يې خوله راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل يې يو څه وواېي خو موريې مخکې شوه سجاد بچيم نواسهء من رادېدی ،څه لمسی ! !؟ مرې مې په ستونې کې بنده شوه ومې ټوخل خو ژرغوري دابو ګيلاس راته ونيو ،غړپ مې ترې وکړ ګيلاس مې په دسترخوان کېښود ،غوري ته مې وکتل خوهغې نه راکتل او ټکری يې سترګو ته نيولی وه چې په دې وخت کې کوچنۍ ماشومې چيغه کړه پدرجان پدرجان ! !يوځوان چې ببرو ښتان يې درلودل اودچرسوډک سګرټ يې دګوتو په منځ کې نيولی وه خونې ته راننوته ترسلام اوروغبړ وروسته له مورې سره په دسترخوان يوځای شو ،دغوري مور زه ورته وروپېژندم ،ماته يې مخ راواړوه شهاب دامادم وپدرسونياجان له دېنه وروسته غوري وويل شهاب پسرکاکايم وشوهرمن ،زماچې په تندي دښولوسپلابونه روان وو ،اوپه زړه مې داسې وه لکه په داش کې چې وي يوتريخ درد مې وکړ،هغه درد چې داظهار لپاهر يې زه ټکي نلرم،ومې ،ويل ډېر ښه،ددسترخوان ترټولومې صبروکړ داسې ولکه په اورکې چې ناست يم کله چې لاسونه ومينځل شوو ،دسترخوان ټول شوه ومې ويل

اوس که ستاسو اجازه وي زه به ولاړشم ،غوره زماپه طبيعت پوه شوه تردروازې راسره راغله له لاسه يې ونيوم راته ويې وويل چې داددې مجبوريت وه که له شهاب سره يې واده نه وی کړی نو تره به يې دوی له کوره وېستي وواوداچې مابله لارنه لرله نوله شهاب سره مې واده ته غاړه کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ما ونشو کړای هغه وژغورم

روزي ګل هم زموږ د هېواد يو له هغو ځوانانو څخه دی، چې د دوه ويشت کلن ژوند ، هر پړاو يې په غم او خفګانونو کې تېر شوی دی، تل يې سترګو داو ښکو په ډنډونو کې لمبلي دي، خو سره له دومره لوړو ، ژورو بيا هم ټول هغه صفتونه په کې وو ، چې له يوه ځوان سره ښايي او ښه پرې ښکاري، يو چې زما ډېر خوښ دی هغه دادی، چې پنځه وخته لمونځ يې په جماعت سره وو ، په کلي کور کې له ټولو خلکو سره دده د ښه سلوک او نېک کردار صفتونه په هر ځای کې کېدل.

ښکلې دنګه ځواني، سپين رنګ، سو چه ږيره ؛ خو ما هېڅکله هم دده پر تن نوې جامې ونه ليدې او نه مې هم کله دده پر شونډو مسکا وليده، تل داسې ښکاريده لکه په يوه لويه ستونزه کې چې راښکيل وي؛ ما پخوا نه پېژا نده ، څو مياشتې کېدلې، چې موږ ددوی کلي ته راکډه شوي وو ، کله مې هم دی د نورو ورځو مخالف په سترګو نه شو ، کله چې به زه دماخوستن جمعې ته ولاړم نو دی به مې ليده ، يوه ورځ مې وغوښتل چې ويې پوښتم، اوس ورسره لږ بلد شوی هم وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې ویل څه یې کووم هسې نه بده یې وګڼې.

بله ورځ تصادفي د جمعې ورځ وه؛د سهار نهه، لس بجې وې چې زمونږ د کور شاته ، پټيو ته ورتاو شوم ګورم چې يو کس په يوه پوله د پښو په سر ناست دی او سر يې د ځنګنو په منځ کې ورټيټ کړی دی،خدای شته ومې نه پېژانده؛خو ورسته مې چې غاړه تازه کړه ، ده هم سر راپورته کړ ګورم چې روزي ګل دی.

له هماغه ځایه مې ورته سلام وکړ، و رته مې ویل اشنا څرنګه یې؟

وعلیکم سلام،شکر دی ښه یم.

ټوکه مې ورسره وکړه خوندونه خو ټول تا واخستل، د شنو غنمو په منځ کې ناست يې او خدای خبر،د کومې نجلۍ په يادونو کې د خيال پر وزرو الوت کوې.

هلک په داسې حال کې، چې زه هم ورته راورسېدم زما په طرف راوکتل،په يوه شېبه کې يې رنګ سور شو سترغلي يې وپړسېدل له دواړو سترګو څخه يې دوه کولولي ښکې په رنګړی ږيره کې راورغړېدې اوخلاص، ګرېوان ته يې کوزې شوې.

خوله يې ببرته کړه،هو ! د نجلۍ په يادونو کې خو وخت تېروم ،خو ته څه پوهېږې !؟

بيا يې شونډې مرۍ مرۍ شوې، سترګې يې سره وزبېښلې د دواړو لاسونو په لستونو کې يې اوښکې وچې کړې ، سرې سترګې يې زما په سترګو کې وګنډلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو زاما تلوسه اوتنده لکه د سحرا ديوه مزل وهلي ،ستړي او ستومانه تږي پشان چي سمندر هم ديو جام اوبو په اندازه ورته ښکاري او دخپلي تندي دماتېدو لپاره يي کمي بولي، ورو ، ورو زياتېده.
په زړه کي مي د ډېري تودي اونوي پوښتني را وټوکېدي،دده چټي ځواني او ناهيلۍ ته حيران شوم، نور نو د حوصلي په بوخڅۍ کي هېڅ راسره پاتي نه شول.
ترڅنګ يي کېناستم ،په اوږه مي لاس ورته واچاوه،ومي ويل:
اشناڅه درپېښه ده چي داسي ناهيلى يي ايا مئين خوبه نه يي؟
اوکه داسي ده چي ته مئين يي خو پلار اومور دي نه دي راضي؟
نه داسي نه ده، زه او مينتوب؟!
ښه نو بيا څه چل شوى دى، ولي داسي غم او اندېښنو اخستى يي ،زه چي تل تاګورم نو ماته په زړه کي د ډېري خبري راګرځي ته خو ځوان يي،هرڅه دي په وس اوتوان پوره دي،نوبيا ولي ؟
اهــ ! !داسي يوسوړ اسويلى يي وکېښ چي له ورايه پکي دغمونو کاروانونه ښکارېدل، هماغه ستا لومړۍ خبره ده چي د يوي نجلۍ په يادونو کي وخت تېروم،خو هغه جينۍ چي لمايي دژوند خوښي،دارام خوب،خواړه او خوندونه وړي دي، زما معشوقه نه، بلکي زما يواځينۍ ايک يوه خور وه.
څه ! !؟ايا هغه چا......مطلب مي دى چا اختطاف کړه؟
نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو څه شوه چې ورپسې داسې پرېشان یې، کیسه راته وکړه که زه د دې مشکل په حل کولو کې مرسته کولی شم نو چمتو یم.
هلک وویل اوس او به له ورخه تېرې دي، هغه وخت چې د مرستې و ،نو هېچا راسره ونکړه.
پنځه میاشتې وړاندې ما په ښار کې په یوه کور کې د صفا کار په توګه کار کاوه، کله چې مازیګر کور ته راغلم، نو خور مې د ناروغۍ په بستر پرته وه، سبا مې روغتون ته یوړه له ټستونو وروسته معلومه شوه چې خور مې د پښتورګي په ناروغۍ اخته ده، په روغتون کې مو بستر کړه، یوه ورځ وروسته ډاکترانو راته وویل چې خور مې باید عملیات شي. ما ورته وویل خو عملیات یې کړی نو ګورئ ورته څله؟ ډاکتر وویل دا عملیات دومره اسان نه دي، ما ورته وویل ولې هغه څنګه زه پونه شوم ؟ تاسو راته امر وکړئ چې زه هماغه شان وکړم ، ډاکتر اول ..... بیا تري دخبرو ځای سلګیو ونیوه ،بیا یې زیاته کړه زما خبرنو جامو او شلېدلو څپلکو ته وکتل او بیا یې را ته وویل چې پدې باندې ډېر مصرف کېږي،ما ورته وویل څومره مصرف پرې کېږي؟
ډاکتر غلی شو ،خو زه بیا پرې وردمخه شوم وو ایه څو روپۍ پرې مصرف کېږي؟
هغه وویل:څلویښت زره افغانۍ!!
څ ،څ څلویښت زره افغانۍ !؟
هو همدوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتېرداهم وویل: که په دريو ورځو کې يې عمليات وشو بچ کېږي
کنه ژوند يې په خطر کې دی، زما سر راباندې وګرځېده په سترګو
مې تياره راغله دپوال ته کېناستم
او خدايه اوس به څه کوم ،ژر مې فکر پرځای کړ ومې ويل چې له دې
نه هېڅ نه جوړېږي بايد يو څه وکړم ، چې دخور ژوند مې وژغورم،
بيامې وويل نواخر داڅلوېښت زره افغانۍ به ماته څوک راکړي،
خير خدای مهربانه دی ،ولاړ به شم او له نېک نه به مې يې وغواړم
بيا به يې په تنخوا کې ورکوم.
ژر له روغتون نه ووتم ټکسي مې ونيوه،ولاړم په هغه کور کې مې
چې کار کاوه ورغلم او خپل نېک ته مې خپله ستونزه چې پکې
راګېروم بيان کړه،اوبيامې ترې دمرستې غوښتنه وکړه، چې پيسې
راکړه بيا به يې درته په تنخوا کې مجرا کوم.
هغه دمسخروپشان راباندې وخاندل ،په ډېکه يې ووهلم ،ويې ويل
يو اخې ته دومره هوښيار يې او که بل وړور هم لري؟ستا ټول درې
زره افغانۍ معاش دی او ته له مانه په يوه ځل څلوېښت زره افغانۍ
غواړې، ته اول هغه شپږ زره افغانۍ راکړه چې تېره مياشت دې د
پلار د ناروغۍ په بهانه رانه اخستې وې.
ما ورته ويل هيله کوم له ما سره مرسته وکړه کنه زما خور به مړه شي
ه ه ه ه هلک ښه په تېزه تېزه وژل بيا يې وويل: هغه ډېر په بې تفاوتۍ
سره راته وويل: خو مړه دې شي کنه نوزما يې پرې څه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې نهيلى روان شوم. څو نورو دوستانو ته لاړم خو هېچا ماته لاس را نکړاو دې ژورې کندې ته له پرېوتويې نجات رانکړ. بېرته تش لاس روغتون ته ولاړم.

خورچې مې وليدم نوهمدايې راته ويل: لالا ! ما وژغوره، ما وژغوره، زه مړه کېږم ! ! مابه تسلي ورکوله نه خورې په تابه هېڅ هم ونه شي، زه خويم کنه ،خداى پاک به مهربانه شي.

د هغې هغه مجبورې خبرې زما هېڅ نه هېرېږي ،د هغې....او يوځل مې بيا په روغتون پرېښوده. پلار مې هم ناروغ په کور کې پروت و ،بوډۍ مورمې له خور سره په روغتون کې وه.

سبا ته بيا لکه د ملنګ په شان په ډېرو کورونو وګرځېدم خو هېڅ څوک داسې پيدا نه شو چې زما د سوال په کچکول کې يو څه خير واچوي،هرچابه ويل چې ته به بيامور ته څه راکړې.

نور نويوائې د خداى پاک له دربار څخه د رحم کولو او خورته مې دغيبي شفا غوښتو نه بغيرمې هېڅ په توان کې نه و ،د روغتون په لور رهي شوم، چې ناڅاپه د لارې په اوږدو کې زېب چې تر لسم ټولګي مورږ دواړه همصنفيان وو، په مخه راغى، زما خو هېڅ پام ورته نه و، خوده راباندې اواز وکړه روزي ! څنګه داسې دغم کاروان په مخه کړى يې؟ خداى دې خير کړي، کيسه مې ورته وکړه،هغه وويل چې که نور هېڅ نه وي ،نو ولې ته خپل پښتورګى نه ورکوې،د انسان چې يو پښتورګى روغ وي هم ژوند کولى شي،دلته بيا افوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغی،ما روته وویل: ای کاش، چې زما پښتورګي دواړه روغ وای ، ماخو هم تېرکال دهمدې ،بد مرض اپرېشن وکړ.
زما اوښکې یې راوچې کړې، په ډاډ سره یې راته و ویل :
که سونیا ستاخور ده خوزه دې هم وروریم ، چې ته د خور په خاطر هرڅه تیاریې، نو ایا زه نشم کولای د خور لپاره دومره قرباني ورکړم؟ راځه !زه خویمه کنه ،چې ته هېڅ غم ونکړې ، زه ورته خپل پښتورګی ورکوم،له لاسه یې ونیوم ،کش یې کړم، راځه سستي مکوه، چې وخت نلرو.نه پوهېدم چې له ډېرې خوشحالۍ تر روغتون پورې څنګه ورسېدم، کله چې لاړم ، ډاکټر مې پیدا کړ، ورته مې وویل، ډاکټرصاحب،ماخو پیسې پیدانکړې، چې دخور ژوند مې وژغورم، دا ورور مې حاضر دی ،چې هغې ته خپل یو پښتورګی ورکړي، ډاکټر موږ دواړو ته حیران حیران کتل،غوښتل یې څه وایي خوزه پرې ور دمخه شوم، ډاکټر صاحب داسې کېدای شي؟
هو کېدای شي.
زېب ورته وویل: چې امکان لري نو بیا ژر کوه ګوره مه اقدام وکړه، زما ګېډه څیرې کړه او د خور ژوند مې وژغوره.
ډاکټر چې سوچ او فکر په مخه کړی وه وویل راځه راپسې.
ډاکټر مخکې زه او زېب ورپسې شولو ،یوه اتاق ته یې بوتلو چې ټوله شیشه یې وه خوشیشې یې په سپین رنګ سپینې شوې وې، ډاکټر مؤظف شخص ته وویل: ورکړه ده ته د ناروغ جامې، هغه همداسې وکړل، کله چې زېب جامې بدلې کړې د هغه جامې یې ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکړې، نوريې دی په تذکره کې ثملاوه،او روان يې کړ، زه هم ورسره روان شوم. داسې يوې کوټې مخې ته چې ددروازې په سر يې ليکلي وو، Apportion room ودربدو ،زه پو شوم چې دا عمليات خانه ده ، دلته ماته ډاکټر ويل ته نشې کولای داخل ته ولاړ شې، په دې وخت کې زېب زما په لور مخ راواړاوه، ويې ليدل چې زما په سترګو کې اوښکې دي، را اوچت شو ، په غېږ کې يې ونيوم،کله چې ده زه په غېږ کې ټينګ کړم ، زه سلګيو پسې واخستم، ده راته وويل:
ای ليونيه ! ! ساده کېږه مه، ولاړه شه او سونياته تسلي ورکړه،چې انشاء الله ډېره ژر به ښه شي، نوريې دی داخل ته دننه کړ، زه د سونيا د اتاق په لور زېږ زېبښلی رهي شوم، هلته مې په دروازه کې ولاړې خاله ګکې ته وويل، مورجاني !دسونيا پيوازې ته خو اوازوکړه، هغې هم اوازوکړ: سونيا !ايا د سونيا پيواز شته؟ !داچې مور مې ډېره بې خوبه شوې وه نو سترګې يې سرې سرې وې چې راووته ، چې ويې ليدم نو ، ويې ويل: زويه هغه دې ډېر يادوي، سونيا تاغواړي، له پيره دارې نه مې اجازه واخسته ، داخل ته د ننه شوم، خورمې چې نوره له خبرو او کېناستلو وتې وه، په اشاره راته څه وويل، خوزه پرې پو نه شوم ، هغې زما نه دواړه لاسونه چاپېرکړل ، او په سلګيو بې پيل وکړ، زما هم ژړا نه ټينګېده،خو د نورو ښځو له شرمه مې هېڅ په تېزه نه شوژړلای، دې ته مې تسکين ورکړ،ورته مې وويل: وګوره دادی ، زېب تاته خپل پښتورګی درکوي، ته به ببرته روغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، په تاهېڅ هم نه کېږي، خودالکه چې له خپل ژوند او مرګ نه خبره وي، په ماته ګوډه ژبه يې راته د زېب له عمليات نه د بچ کولو وويل، خوما ورسره ونه منله، هغې به اول خپل ځان ته لاس ونيوه بيابه يې سترګې پټې کړې، خوزه پرې پوهېدم چې وايي ، زه نه پاتې کېږم او هغه مه پرېږده چې خپل ځان نيمګړی کړي، او پرمايې همداسې حملې کولې، چې هغه مه پرېږده، نور يې زما په زنګون خپل سر کېښود ، لکه د اجل پرښته چې لا د مخه په ورسی کې ناسته وي ، او د همدې شېبې انتظار کوي، چې زه يو ځل له سونيا سره وګورم اونور يې رانه واخلي، هغې زما په زنګانه سلګۍ پيل کړې، چې ډاکټر پښتورګی په لاس اتاق ته راداخل شو ، خو داد سونيا اخري شېبې وې ،نور يې سر زما له زنګون نه پرچپرکټ پرېوت، زماله خولې يوه چيغه ووته ،نور په ځان نه يمه پوه شوی، کله چې په هوښ راغلم نو زه او زېب په څنګ په څنګ چپرکټونو کې پراته وو ، زېب ته سيريم چالان وو او پرما چې حمله راغلې وه نو همداسې پروت وم ، زېب لا هماغه شان بې هوښه وه، چې ما خېز کړل او سونيا په طرف مې وځغاستل خواوس هغه چپرکټ چې هغه پرې پرته وه خالي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# I Love you

سپلاب اوس په ملي اردوکې دتورن رتبې ته رسېدلی و، له خپلې وظیفې سره یې بې کچې مینه درلوده هغه ډېرزړور اوباهمته ځوان وو،زده کړې یې تردولسم ټولګي پورې کړې وې.

نوپلار اومور یې غوښتل چې دسپلاب په غاړه دواده امېل وویني یوه ورځ یې کښېناوه او ورته یې په نیمه نیمه کې یاده کړه چې زویه هرکور دماشومانو په شورماشور ښه ښکاري.

دخدای فضل دی ته هم ځوان شوی یې اوخوردې هم پېغله ده هغه متل دی وایي چې: خورلور پېغله شوه نوبیا یې په کور کې ساتل پکارندي ،سپلاب دخجالت په فضا کې ورغبرګه کړه ،مورې ستا اودپلار مې چې څنګه خوښه وي هماغسې وکړئ.

مور یې دسپلاب درضایت خبره پلار ته وکړه هغه ورته وویل ګوره دسپلاب مورې !په دې کې دهلک خوښه او انتخاب ضرور دی دخدای فضل دی زما دوه ورېرې په کور کې پېغلې دې، یوه ستاخورزه پېغله ده او زه داباورلرم چې نه صادق ماته نه وایي اونه مجید ،خوداداوسنۍ زماني هلکان دې هسې نه بل څوک یې خوښه وي ؛مور یې هم ورسره ومنله بېګاته چې سپلاب کورته راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

موريې ورته د پلار خبره ياده کړه خو هغه ورته وويل تاسو ته يو ځل ماوويل چې ته او پلار مې پوه شه او کار مو ،مګر موريې بيا پرې ټينګار وکړ ،چې که څوک د ې خوښه وي نو راته يې ښايه سپلاب پوه شوه چې موريې نه پرېږدي بالاخره له مشورو وروسته يې شازيه چې د خاله لور يې وه په ګوته کړه شازيه ډېره د ساده فکر خاونده غلې او بې کبره نجلۍ وه .

د سپلاب پلار او مور د شازيې دوی کور ته ورغلل او د هغې پلار ته يې د ښېښنۍ خبره ياده کړه صادق چې ډېر هوښيار او په دوستۍ مئين سړی وه او د خپلې لور لپاره يې سپلاب يو مناسب هلک وګاڼه نو بې له سوچ او فکر کولو يې بسم الله کړه او د ستمال يې ورکړ دواړو خواو يو بل ته مبارکۍ وويلې او خولې يې خوږې کړې ، په ډېره کمه موده کې د سپلاب او شازيې واده وشوه.

له واده نه نږدې مياشت وروسته سپلاب له کابل نه بل ولايت ته تبديل شو. ولاړ او په مياشت کې به يو وارد څو ورځو لپاره کور ته راته خو کله نا کله به يې ټيليفون کاوه کله به چې شازيې ته خسر موبايل ورکړ نو سپلاب به د هغې د ځورولو او غوسه کولو لپاره ويل **I love you** دې به ورته وخندل ما تا ته څو ځله ويلي دي چې ما ته دا د کافرو خبرې مکوه خو ته يې چې نه منع کېږې !.

او په خندا به يې خدای پاماني وکړه ،شازيه به له ځانسره مسکه مسکه کېده او ويل به يې چې دا به لا څه مانالري چې دی يې راته هر وخت وايې او خاندي ،ډېر وخت تېر شو خدای (ج) د سپلاب د مور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار سوال قبول کړاو سپلاب ته يې يو زوی ورکړ ماشوم لا دڅو میاشتو وو چې(نیااونیکه) یې په خندا اولوبو بلدکړیوه،سپلاب به هم خپل زوی پسې ډېر خفه کېده دومره نازبه یې ورکاوه چې دهغه يوه اوښکه به يې په ډېر قیمت هم نه پرېښوده چې تویه شي .

داخل سپلاب له ډېر ځنډ وروسته کورته زنګ وواهه له ټولو سره یې خبرې وکړې هغه هر وخت له شازيې سره تر ټولو وروسته خبرې کولې کله چې شازيې ټیلیفون واخیست ،له سلام او پوښتنې وروسته یې ورته وویل کورته کله راځې ؟داوار خودې ډېر زیات وخت وشوشهزاد درپسې ډېر زیات پرېشانه شویده ،شهزاد خوهسې بهانه وه په اصل کې خو...... ،سپلاب ورته وویل درځم خو په یو شرط چې ته به راته وایې I love you شازیه په خنداشوه داخه خبره ده چې ته پرې دومره مئین يې او دومره ورته خوشحالېږې.؟ ماخو یو وار پرې يوه کړه اوکنه والله که دادانګرېزانو خبر راباندې وکړې.

یوه ورځ وروسته په هغه ځای کې چې سپلاب وظیفه لرله ډېر شدید جنګ ونښته ډېر دملي اردوعسکر او مخالفین پکې مړه اوټپیان شول ،جنګ دشپې ترناوخته پورې دوام وکړ سپلاب له خپلو نورو سربازانو سره په مېړانه دجنګ په میدان کې جنګېده دملا اذان وخت و چې سپلاب دیو دښمن دګولۍ ښکارشو اوډېر سخت ټپي شو ،مړي اوټپیان دجنګ له میدان څخه وېستل کېدل اوروغتونونوته رسول کېدل ، دسپلاب چې ټپونه ډېرژورول دکابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دامنیت شفاخانې ته په طیاره کې راوړل شو، سهار اته بجې وې د سېلاب پلار چې لمسی یې په غېږ او د حوېلۍ په سوفه ولاړ وه فکر وړی و، چې د رېنجرد ټایرونو اواز یې د فکر لړۍ وشلوله او غږ یې کړ هغه دی لکه چې سېلاب راغی ! مور او خوریې د دروازې په لور منډې کړې شازیه چې شرمېده په خپل ځای کې کراره ناسته وه او غلې غلې خندېده، چې په دې وخت کې د کور په لوری و عسکر چې مخابره یې په لاس کې وه راروان شو، د سېلاب پلار چې خپل زوی یې تر سترګو نشو نو ورووته او د سترې مشي په وخت کې عسکر ورته په غوږ کې د سېلاب د ټپي کېدو او روغتون ته د راوړلو وویل او پو یې کړ چې په کور کې څه ونه وایې،له همدې سره بې واکه شوه او لمسی یې له غېږې په خاورو کې ولوېده، خور او موریې بېرته د کور حوېلۍ ته رامنډې کړې او د شازیې په غاړه کې لاسونه واچول، لکه چې خاورې مو په سر شوې، د دوی په کړیکو نور همسایه ګان هم راټول شول، خو عسکر وویل: ګوره کاکا موږ چې څو مره ژر روغتون ته ورسېږو خه به وي، د سېلاب پلار له پولیسو سره په موټر کې کېناست او موټر روان شو؛ شازیه او خاله (خواښې) یې ورپسې لوڅ سرونه او یېلي پښې پیاده منډې کړې کله چې روغتون ته ورسېدل او په سېلاب یې نظر ولګېده چې وچې شونډې، ژېړ رنګ، او په وینو لېت پېت پر چپرکټ پروت دی شازیه یې په سینه ړنګه بنګه ورپرېوته له هغه سره نور د خبرو وس او توان نه وه ګوتې یې د شازیې په وېښتانو کې ننوېستې، سترګې یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګوکې ورونښومبلې او په ډېر کوشش یې همدومره وویل **I love**
**I. I** اوله یوې غټې سلګۍ سره یې سترګې پټې شوې
له همدې سره دشازیې له خولې یوه ببدربغه چیغه ووته
**I love youuuuuuuu .I love youuuu.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې موره

په بېره روان و ،غوښتل یې ژر ځان کورته ورسوي ،چې په رڼا کې خپله مېرمن روغتون ته یوسي، ځکه چې کلی یې ډېر لرې او سړک یې خامه وه د مازیګر له لمر پرېوتو وروسته به موټر نه پیدا کېده. تمځای ته په رسېدو سره وروستی موټر له اډې څخه ووت ده چې ولیدل پر موټر سورلۍ لکه د شاتو په ګبین چې مچۍ نښتې وي داسې نښتي وو، نو ناهیلی شوه ، اقتصادي هم ډېر ضعیفه وه ، جېب یې هم دا مشوره نه ورکوله چې دربس موټر دې ونیسي او کلي ته ځان ورسوي ،نن په دفترکې نوکري و نو باید چې تر ماښام اوو بجو پورې په دنده پاتې شوی وای ،خولایې وخت نه وه پوره چې له کورنه ورته زنګ راغی او د ښځې د ناروغۍ یې ورته وویل،وارخطا شوه په جېب یې ګوتې ووهلې ایله پکې ۱۲۰ افغانۍ وې ،بله لارنه وه،نو له یوه همکار نه یې دولس سوه افغانی قرض واخستې اوهیله یې ترې وکړه چې ترڅاکلي وخته پورې دده پرځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار وکړي، له دفتر څخه ووت هغه ته يې وويل که سبا را نغلم نو ګوره چې پام دي وي اورئيس صاحب ته زما دمشکل ووايې ،زه به هم ورته زنګ ووهم،له خفګان نه يې رنګ تک تور واوښت له ځان سره يې کرل ،رېبل ښه اوس څنګه وکړم که پدې روپيو موټر نيسم اوکلي ته ځان رسوم نو بيا به مې مېرمن روغتون ته په څه شي راولم ،په کلي کې خوهم کوم روغتون نشته ،نومجبوريم چې ښار ته يې راولم۔ له بلې خوا پرلپسې زنګونو هم پرېکړې کولو لپاره وخت نه ورکاوه، حيران ولاړ وه نور نو دماښام تياروهم خپل څادر پرځمکه غوړول پيل کړل۔ناګهانه لکه دليوني پشان روان شو ،له ځانسره غورېده اودسرک توره ليکه يې ونيوله ،بس ځم په پښو باندې ځم ! اوس خوراسره ټکسي هم نه ځي ،ډرېوران هم وېرېږي چې کوم ځای کې يې غله ونه شکوي ، خير راځه خدای لوی دی،خپله لاره يې لنډوله ،چې بيايې دبغل په جېب کې مبايل په لړزه شوه ، ژر يې داوکې بټنې ته زوروکړ، دادی اوس در....نورمبايل دچارج دختمېدو تالی ووهله ،اوبند شوه۔مبايل يې په جېب کې ورخطاکړ اوپه قهريې وويل: ته بدبخته هم بايد په همدې وخت کې بند شوی وای؟ نور نو دامکان ټولې لارې ورته بندې شوې بغيرله دې چې له خپل همت څخه کارواخلي هېڅ ممکنه لار نه وه، له نيم ساعت ،څلوېښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقيقو مزل وروسته ددوی دولسوالی پرلور ببل شوي خام سړک ته ورسېد په خامه سړک یې دڅپلیوڅښهار خاته پرمخ روان وو ،په تیاره کې دنه لیدو له امله یې څو ځله دپښو دګوتونوکان له تیږوسره وجنګېدل ،خوبیاهم ده په درد اوسوخت کې خپل مزل ته ادامه ورکوله ، اندېښنې اخستی وه ،خدای ته یې سوالونه کول چې پرښځې یې ورحمېږي ، هغه پرده ډېره ګرانه وه ،ولې چې یوخوډېره ښایسته وه ،دهمزولو په ښځوکې به هرچا دباوردښځې صفت کاوه ، اوبل داچې ډېر دبې وسۍ په شپو او ورځې کې یې کړېوه ،دژوندډېري سختې شپې اوورځې یې ورسره تېرې کړې وې ،اوتېرولې یې،بله ترټولو مهمه خبره داوه چې پوره لس کاله یې اولاد نه کېده نو دالومړی ځل و ،چې باور پلارکېده ، اودې ماشوم ته په کورکې ټول لوی اوواړه ډېرهوسېدل ،اوخپل ډېرامیدونه یې وپورې تړلي وو ،په لاره کې به کله کله دخوشحالۍ نه په خنداهم شو، یووخت یې شاته وکتل ،ګوري چې دموټررڼایې ترستر ګوشوه ،چې دده په لور راروان دی،بیایې خدای پاک ته په عذرونو پیل وکړ ،چې کاشکې دموټروان رابانديې زړه وسوځېږي ،اوله ځانسره مې پورته کړي، موټرورته رانژدې شوه ،دی هم ورته دسړک په منځ کې ودرېده او داسې حرکات یې ورته پیل کړل ، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـوال اوزاری چـې ورتـه کـوي ،اومـوټروان پرخپلـې مجبـوری وپوهوي،اولـه ځانسـره يـې پورتـه کـړي ،مـوټر ورتـه ودرېـده ، ژر دډرېـور طرف تـه ورپـه منډه شو ،استاده چېرتـه ځئ؟ مياګانو تـه ددوی کلی دمياګانو له کلي نه دوه کلي وړاندې وه ،ويـل يـې چې زه خو ترهغې ځايه چې ورسم ،بياخولاره ډېره لنډېږي ،نوبې لـه دې چې اجازه واخلي په مخکې سيټ ورننوته ،اوډرېورته يې مخ کـړ استاده ځـه لخيـره.موټرحرکت وکـړ، پـه شـاتـه سيټ کې دوه نور کسـان هم ناست وو ، يوه له ده څخه پوښتنه وکړه ،وروره څنګـه پـدې ناوختـه کې پياده روان يـې خيريت خوبـه وي ؟ده ورتـه وويـل هوخيريـت دی هسې ناوخته شوه راباندې په ښارکې پـه يـوه شخصی دفترکې دنده لرم، په خبروخبروکې يې ډېرمزل وکـړ، نور نو دمياګـانو ترکلي پـورې دوه کيلو متره لاره پاتې وه چې ،دوروستـه سيټ نه يې تمانچـه پـرسـر کېښودل شوه او د ونه ښورېږي اواز يـې واورېده، موټر ځـای پرځـای ودرېده ، دوروستې سيټ دوهم نفر راکوز شو راغـی، دی يـې لـه مټ نه ونيوه له موټرنه يې ښکته کړ اودجېبونو پـه پلټلو يې پيـل وکـړ،ده چې هرڅومره زاری اوفريادونه وکړل ، داچې هغـوی يـې يـوائې اواز وانه ورېده بلکې،څوپرلپسې سوکان اولغتې يې هم وواهه ،ګنکرېـه ،خدای د ې ددې دفتر ببخ وباسي چې تـه پکـې کـارکوې ،ايلـه همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديارلس سوه اوشل روپکی؟ ! ځه ورک شه احمقه، پيسې اوموبايل
يې ترې واخستل ،دتللو په وخت کې يې بيا په خوله يو کلک سوک
ورکړاو ترې روان شول دی دخولې او بدن په درد اخته شو خوله يې
له سرو وينو ډکه وه خو بيا يې هم خپل کوښښ جاري ساته ، نور نو په
کليو اوبانډوکې يوه وېروونکې خاموشي خوره وه. ټول خلک
دخوب نړۍ ته تللي وو ، له شل پنځه ويشت دقيقو مزل وروسته
دخپلې کوڅې په لور وګرځېده ، کور يې دکوڅې په اخر کې و ،داچې
شپه ډېره تياره شوې وه او اواز هم ډېرلېرې تلو ، نو دچيغو او ساندو
اوازونه يې تر غوږوشول، غږي يې سست شول ، پښو يې کار
پرېښود ، په زړه کې ورتېره شوه لکه چې له ښځې نه خلاص شوم !
داسې شو لکه هېڅ ساه چې پکې نه وي، ځان يې په کش کولو کش
کولو ،دخپل کور تر دروازې پورې ورساوه ، ددروازې له ټېل
وهلو سره پرېوت ، په کورکې چا ددروازې کړپ واورېده ځو کسانو
يې پر لور راوځغاستل ، باور چې له خولې اوپزې يې وينې روانې
وې اوسپين کالي يې تک سره اوښتي وو ، بېهوښه پروت وه ،ژر يې
له انګړ څخه کټ راووړ ،پورته يې کړ، اوبه يې پرې وپاشلې ، په
کور کې خلک ډېر را ټول شوي وو ، څوک له قدري نه راتاو وو
او څوک له باور نه ، يو قيامت جوړ شوی، لږشېبه وروسته باور

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې ورپولې ،په هوښ راغی ګوري چې حوېلۍ له خلکوډکه ده، خیز یې وکړ ، څه چل شوی دی ؟ ! چې په دې وخت کې یې مور ورته په غېږکې کوچنی ماشوم وا چاوه او چیغه یې کړه دادی ستا اودهغې د واده نښه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رضاعي خور

کورموپه پاکستان کې وه، يوه ورځ کورته روان اوم چې په لاره کې مي وراره له لاسه ونيوم، له لارې نه يې ګوښه کړم ما ورته وويل شېرازه ته !دلته څه کوې ؟زه چې ځوکورته، شېرازلږغلی شوله تاسره مې يوڅه کارو ، ښه وايه څه کاردې و؟

دومرضروري خبره هم نه ده، پوه شوم چې د شېرازه په زړه کې يوڅه شته خودويلوجرئت يې نکوي، له لاسه مې ونيو ليونيه وايه کنه ولې غلی يې؟ مه شرمېږه هرڅه چې وي ښه ډاډه يې وايه چې څه دې ويل؟ شېرازيومسکاوکړه نه داسې څه نه شته !ښه نوبيا څه چل شوی ده؟

هلک دخولې مزي وشکول:ياره کاکا زه خويې بلکول ليونی کړی يم، وايم هسې دانسان په جامه کې حوره ده، بس ،سترګې ،وروځې ،بانه اوغونډه زنه خويې په زرګرجوړکړې دي دقران کريم حافظ هم ده اوس ويوهېدم چې ولې نه نظره کېږي ،والکه (هلکه)دادچين ماچين خاپېرۍ ځوک ده چې ته يې دومرشيدا شوی

وايم کاکا دهېڅ ډول خوبۍ کمی پکې نه شته. ښه نواوس دې دا دجنت حوره رامعرفي کوې اوکنه زماخودې ورته تلوسه کړه، ژريې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته وایه، شېرازیوځل بیا ستونی تازه کړ ژبه یې په شونډو تېره کړه لاس یې اوږود کړ هغه ژېړه دروازه وینې چې د ترپال پرده ورته پرته ده ؟ هو د قدوس خان کوردی ښه ښه نالایقه (زردانه) یادوې هو هغه خورښتیا هم ډېره ښایسته او لایقه نجلۍ ده الله دې پرده وساتي
شیرازځانته ګوته ونیوه، یو وار دې یې خدای زما کړي بیا به ته ګورې چې زه یې څنګه ساتم وایم لاس به یې په لمده کاسه رانه ونه لګېږي خانه سامانه به ورته نیسم !دی لادهغې د ښکلا په ستاینو بوخت وو چې ماته د زردانې او شېرازوړ کتوب رایاد شو په رښتیا هم له یو بل سره یې ډېر مینه درلوده او همېش به یې یو ځای لوبې کولې، خو دا چې دوی سره په وړکوالي کې بیل شوي و ،اوس شېراز هغه نه پېژند له چې زردانه ده، ماورته وویل ،وراره ! څنګه زړه دې نه دی چې بیګاته دې زه او پلار د قدوس خان مېلمانه شو ؟ او زردانه ترې ستالپاره وغواړو !
ـ نوزه دلته په تاپسې د څه لپاره راغلی یم، په خندا شو لکه چې ته مې ډېر خوښېږې وایم چې زړه مې درنه توردي ،په برېتو کې یې راته وخندل او غبرګه یې رانه تاوه کړه، ښه راځه چې اوس ځو کورته هرڅه به خدای سم کړي، دواړه زموږ کورته ولاړو د چای څښلو څخه وروسته شېرازپورته شو ، ښه نو اوس زه ځم او بیګاته به دې په تمه یم ته به مې د پلار جان سره دا خبره حتماً یادوې.
ـ وایم یادول څه کوې همدا نن شپه به ورځو ،په کړس کړس یې وخندل د خدای پا مان ستا په تمه ! بیګاته یې زه کورته ورغلم سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنښېناستو شېرازلکه دبربړکۍ په شان تاوېده چای یې راوړ ، والکه ماخوچای څښلی و ، داهغه چای نه ده چې تاڅښلی ده دابېل چای ده پیاله یې ډکه کړه اوغلی کښېناست، مایې دپلارسره خبره یاده کړه هغه راته وویل چې تراوسه خوشېرازماته هېڅ هم نه دي ویلي ،اونه هم موږ په دې خبره کوم فکر کړی دی.

ماورته ویل لالا ! ماته خویې ویلي دي کنه ،که ستازوی دی، خوزما هم وراره دی.

_ هوداسې خوده، نوزه خوبه ستا وربنداري سره مشوره وکړم کنه، وایم وربندار مې زمادخبرو نشي اوښتی ،څه چې ځوو ،رانېغ شو ، والکه غفاره ګوره په هروخت عجله مکوه ،وایم راځه چې نن دستمال رانه وړم، هېڅ امکان نلري، دواړه له کوره را اووتو اود قدوس خان کره ولاړو هلته چې ورسېدو قدوس خان موپه خوراورینه ټنډه هرکلی وکړ اوحیران و چې په دې دخت کې موڅنګه ورپېښنه وکړه ناست وو مامې لالا ته اشاره وکړه هغه هم ټکنی شو قدوس خان ته یې مخ وروا ړوه چې مونږ دلته دیو خبرې لپاره راغلي یوه خوهېڅ جرئت نه شم کولی چې درته یې ووایم قدوس خان ډېر ښه سړی وو ،ویې وویل چې دومره دې رابانډې باورنه درلود نوبیا په تورشپه راتلې دڅه لپاره ساده سړیه داسې فکروکړه چې یواځې ناست یې اوله ځان سره خبرې کوې هرڅه چې وي، لالا مې په بنده بنده ژبه ویل موږراغلي یوچې تاسوته دښیښي لاس درکړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادوستي ومونوره هم ټینګه شي، قدوس خان په خپل ښوی سرلاس راکش کړه

یوشیبه غلی شو ،دیوې شیبې لپاره چوپتیا خوره شوه داسې لکه هیڅوک چې په کوټه کې نه وي خوددې خاموشۍ لړۍ د بره ژر وشلېده قدوس خان غاړه اوږده کړه ،ویې ویل سمه ده موږبه مصلحت وکړو ، بیابه تاسې ته احوال درکړو ،ماغوښتل چې یوڅه ووایم خولامې راته اشاره وکړه اوغلی شوم.

ـ ښه نوموږبه بله ورځ بیا راشو اوس دخدای په امان، هغه ویل پاتې شئ شپه له موږسره تېره کړئ سباته به ولاړشي ، نه موږدرنه ځوچې کورکې به ټول انتظارباسي ،دخدای په امان ،بله شپه بیا ورغلو ،خو داځل مو وربندار هم له ځانسره بوتلله، خبرمو سره یاده کړه هغه وویل ماته شبراز معلوم دی چې د ښه هلک دی تعلیم یافته هم دی اوالله دې نورهم ورته نېک وښیي، موږپه دې ښېښې خوښ یو، یودم مې ترې لاسونه تاوه کړه مبارک موشه ! !دشیرینۍ دقاب څخه مې خوداني چاکلېټ اونقل راواخستل واخلئ،واخلئ خولې موخوږې کړئ، قدوس خپل زوی ته اوازکړو زو یه ورشه اودستمال راوړه هغه دې هم خیریوسي بس په یوترپ کې یې په غوري کې ایښی دستمال راوراساوه وماته یې ونیوه ما هم ترې واخست، اولالا ته مې وکتل اودتلو اشاره مې ورته وکړه، هغه راته ویل دومرتلوارمکوه غفاره لږساړه خوره، کله چې دباندې راووتو ماویل که ستاسو اجازه وي زه به یوخودتمانچې ډزې وکړم ،قدوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان مخ راواړوه دادخوښی کاردی هېڅ پروانه کوي زه کوم اعترض نه لرم، له کوربهرمو ډزې پيل کړې ما تيار له ځان سره يو څودانې دلس وروپــیـ‌وال پټـاس هــم اخســتـي وو، دا ټــول مــې لکــه دماشـومانوو الوزول، اوکورتـه ورسـېدوهغوی ټـول پـه انتظـارکې ناست وو ،داموڅومره ناوخته کړه مورېخومولـه انتظـاره مړه کړو څه مووکړل؟

ما وغوښتل چې شيرازيوڅه وڅوروم ،ځان مې لږ شان پرېشانه کړ اودکښېناستلوسره مې يوسوړاوصوېلي ووېست ،تکيه مې ووهله دشېرازرنګ پک والوته ،ټولوماته کتـل اودځواب لپاره يې شېبې شمارلې چې په دې وخت کې لالامې پخ وهل اوچيغه يې کړه مبارک موشه اودستمال يې دټولوپـه مخ کې وغورځاوه ،مبارک،مبـارک، مبـارک پـه يواوازشـروع شـول، شـېرازلـه ډېـرې خوشـحالی څخـه لـه سترګو اوښـکې راتوې شوې، اوماتـه پـه غـاړه کې راپرېوت ،وايـم غفارکاکــا زنــدااباد، شُــغلې پــرې ورخپــز کــړل ای بــې شــرمه ! !ژنداباددخولې پېښې يې ورته لکه ديوې ماشومې پشان وکړې، مور يې شېرازپه تندي ښکل کړه هغه يې هم لاسونه وربنکول کړل، مـاهم ټولوتـه مبـارکي ويلـه اواجـازه مـې تـرې راواخسـتله، دخپـل کورپـه لـورروان شـوم، د دوه درې مياشـتوپه تېرېدو سـره واده تيـار شوه، دکلې پـه کوڅوکې سره، اوشنه ټکرې ښکاره شو چې دواده کورتــه لــه هــرې خــوا پېغلــې، زلميــان اوزړې روانــې وې ،دواده لومړی(دنکريزو ) شپه ښه پـه درزاودروزکـې تېـره شـوه دکورلـه دننـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه د پېغلو په لاسونو د دریاګانو او چمو اوازونه اوربدل کېدل او د باندې د غېتو د وه سره ډولونو اوازونه او د ځوانانو اتڼونه او د پېښو دربا اوربدل کېده، سبا چې د ډوډۍ مراسم ختم شو او مېلمانه خلاص شول ،نو د تخت شانې وخت شو ټولو مېلمنو او د هلک خويندو ورونړو او خپلوانو ټولو رنګينې جامې اوغوستې وې شاه اوناوې یو ځای ودرول شول او یو بل ته یې په ګوتو کې ګوتمې ورکولې(چبله بدلي) چې په دې وخت کې ناڅاپه یوې زړې بوډۍ غږ وکړلږصبر وکړۍ !!

ټول حیران شول ددې په لوري ستر ګو شیبلۍ ورمخامخ کړي ، دارا غلله او ددې ټولو ښځو له منځه دناوې او شاه ترخوا ودربده.

ویې ویل: زه نن یو خبر کووم ددې په خاطرچې په اخرت کې مې غاړه بنده نه وي هغه دا چې ما دې دواړوته په ماشوم توب کې شيدې ورکړې ! دې اودواړوزما تیونه رودلي دي،دشبراز رنګ والوته بې واکه، شوه له لاس يې ګو تمه په پرمځمکه پربوته، خپله هم په کټ کې راچپه شو او واده ته راغلي خلک پرې راټول شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بدنصیبه

ماذدیګر دفتر نه له روخصتېدو وروسته دکور په لور روان وم زمونږ
کلی له ښارڅخه ښایسته لېرې دی، له موټر څخه کوز شوم اودکور
په لور رهي شوم کوڅې ته په رسېدوسره سم ګورم چې دخدای (ج)
بخښلي سرور اکا لور زېبا په چیغو اوکړیکود کور له دروازې څخه
کوڅې ته راپربوته اوپه سپېروخاوروکې یې ځان له ډاګه ډاګه واهه
له کور څخه هم دساندو اوژړاګانو اوازونه اورېدل کېدل، حیران
شوم له ځان سره مې وویل خدای دې خیر کړي دسروراکا ښځه ببو
لاله ترور خوبه نه وي مړه شوي ځکه چې هغه په دې ورځو کې ډېره
سخته ناروغه وه ،زېبا مې له لاسه راونیوله اوله خاورونه مې پورته
کړه ترې ومې پوښتل څه چل شویدی خوزېباته سلګیو وار ورنکړ
چې زماد پوښتنې ځواب راکړي ؛په دې وخت کې دکورله انګړ نه
دحمید دمور اواز چې له ژړا سره بدرګه کېده وویل حمیده زویه مور
دې درنه ځارشه کاشکې چې ستا پر ځای زه بدنصیبه خدای اخستې
وای میندې یې ورته زما پشان بورې شه بچیان یې ورته یتیمان شه
او .... نورې خبرې په ژړاکې ورکې شوې زما زړه په درزېداشو ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې څه ! ! حمید مړدی ؟ نه داسې نشي کېدای ! نورنوبېواکه شوم دېوال ته تکیه شوم خدایه حمید خوله چاسره دښمني هم نه لرله هغه خوکوچنی وو...په همدې سوچونو کې ډوب ووم چې په کوڅه کې دموټر رڼا راښکاره شوه له رڼاسره سم دامبولانس هارنګ په کوڅه کې لکه دطوفان پشان یوه انګازه وکړه او بې له ځنډه دحمید دوی ددروازې مخې ته ودرېده خلکو کټ راوړ او دامبولانس وروستۍ دروازه خلاصه شوه دوه نفره موټر ته وروختو ګورم چې حمید خوارکی په سرو وینو کې لژندپروت ده له لاس اوپښنونه مې دمه وختنه په ډېر مشکل سره مې له نورونفروسره جنازه له موټر څخه راکوزه کړه دکټ د اچولو په وخت کې زما لا س دحمید په ملا کې داسې ننوت لکه په یو ه کڅوړه کې چې لاس ورښکته کړې داهغه ځای ووچې پرچه پرې لګېدلې وه جنا زه مو کورته ننوېسته کټ په ښځو کې ورک شو، زېبا ځوارې بې سده شوه خوښځو به پرې اوبه واچولې هغې دخپلې مور په غاړه کې لاس ورواچاوه اوپه چیغو کې یې ورته وویل(( مورجانې اوس به تاته داروڅوک راوړې)) دکلې ځوانان تللې ول هدیرې ته اوقبر تیارشوی وه مړی موشپې ترشپې خاوروته وسپارله. حمید اوزیبادواړه هغه بد نصیبه خور او ورور ول چې دوه کاله وړاندې یې پلار سروراکا دسرطان دناروغۍ له امله مړ شوی وه، اودوی یې دتل لپاره له مینې بې برخې شوي وو دپلار له مرګ نه وروسته دمور اوخور ساتنه دحمید په غاړه شوه نومورې په دې وخت کې دلسو کلونووه او دښوونځۍ په دوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګي کې يې زده کړې کولې هغه ډېر ذهين،هوښيار اودښو اخلاقو
څښتن وو دښوونځي تر ځنګ يې ديني زده کړې هم کولې مګر دپلار
له وفات سره سم دې هرڅه ته دپای ټکي کېښودل شو، حميد به سهر
له کوره وته اوپه بازار کې به يې دکراچۍ پرسر بسکېټ ، ژاولې ،
اورلګيد اونور شيان پلورل چې په دې تر تيب يې څانته نفقه
برابروله په دې ورځ چې حميد غوښتل مازديګر کورته راشي چې په
دې وخت کې په سرک خارجيان تېرېدل چې حميددوی ته نژدې پرې
انتحاري حمله وشوه اوزيات شمېر ملکي وګړي پکې شهيدان
اوټپيان شول حميد هم په ټپيانو کې و شهيدان اوزخميان
شفاخانوته ورسول شوي وو، چې وروسته حميد هم په روغتون کې
ساورکړه. اوس نو زېبا سهار له کوره وځي سوال کوي او مور يې په
کلي کې دخلکو لوښې او جامې وينځي ،اوپه دې طريقې سره
خپلوځانونوته نفقه برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورنۍ وظیفه

تل به یې د نوم په اوریدو ډېر خوښېده او که به یې د چاله خولې د هغې په اړه کومه خبره واورېده نو د هغه شخص خوله به یې ګړوله تر څو یې په باره کې یو څه وغږېږي ،هغه پرده ډېره ګرانه وه مګر پرده یې هېڅ خیال نه راوړه ده به تل هڅه کوله چې په څه بهانه ور سره خبرې وکړي؛ خو د دې موقع وخت یې هم نه ورکاوه ،ځکه چې هغې هم ځان ته یو څوک ویلې ،یوه ورځ تصادفي دواړه وخته راغلي وو او په کلاس کې یو په بل پسې په څوکیو ناست وو ، خو استادلا نه وراغلی چې په دې وخت کې د تمیم د ټېلیفون زنګ پورته شو کوم ملګري یې زنګ وواهه ټیلیفون یې اوکې کړد خبرو په منځ کې تمیم غوښتل چې له هغه نه د چانمبر واخلي خو په دې وخت کې له ده سره قلم نه وه، نو دا وخت د ته له ولولې سره د خبرو کولو لپاره یو طلایي چانس و ،نو بې له سوچ او فکره یې پرې غږوکړ و بښه دلږ شېبې لپاره دې قلم راکړه یو نمبر پرې لیکم زما سره قلم نشته ،سره له دې چې ولولې ته غوصه هم ورغلې وه خو بیا یې هم قلم په تېزه ورګذار کړ تمیم چې نمبر ولیکه نو قلم یې د مېز په سر ټکوه د خدای پامانۍ وروسته یې په خپل جېب کې واچاوه ،کله چې استاد کلاس ته راغی او درس یې پیل کړ په شاګردانو یې اواز وکړ قلمونه او کتابچې مو د نوټ لپاره اماده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی ،ولوله چې قلم یې له تمیم سره وه اوبل قلم هم ورسره نه وه
حیرانه پاتې شوه چې له تمیم څخه خپل قلم په څه ډول واخلي ،تمیم
هم سرټيټ اچولی و اوپه دې تمه ناست و چې اوس به ولوله ترې په
خپل خوږ اونازک اواز قلم و غواړي اودده هغه ارمان چې له ډېره
وخته یې په زړه کې وه پوره به شي ،مګر ولولې دیوبل همصنفي په
واسطه ترې دقلم غوښتنه وکړه !! تمیم وکتل چې ولولې ترې
دراشد په واسطه قلم وغوښت نو ډېر مایوسه شو ،قلم یې ورکړ
استاد درس پیل کړ ،ددرس په جریان کې استاد دسباورځې لپاره
شاګردانو ته کورنۍ وظیفه په نښه کړه تمیم دشپې په کورکې
کورنۍ وظیفه لیکله چې په اخري کرښه کې ترې یو څه اشتباه وشوه
دا ورقه یې په همدې ځای پرېښوده اوپه بله ورقه کې یې کورنۍ
وظیفه ولیکله ،کتابونه یې ټول کړل هغه اشتباه شوې ورقه یې هم
دکتابچې په منځ کې کېښوده ،سباچې کورس ته لاړاواستاد راغی
نوله هرڅه نه مخکې یې کورنۍ وظیفه وغوښته ، ولولې ته وریه زړه
شوچې کورنۍ وظیفه یې هېره کړېده حیرانه وه چې څه به کوي ځکه
چې استادهم ډېر غوصه ناک وه تمیم چې ولوله ورخطااوترهېدلې
ولیده نو پوه شوه چې کورنۍ وظیفه یې نده لیکلې نویې سمدستي
خپله کورنۍ وظیفه راواخسته اودخپل نوم پر ځای یې دولولې نوم
ولیکه ،له استادنه پټه یې ورقه دولولې مخې ته وړاندې کړه اوخپله
یې پرېکړه وکړه چې هغه اشتباه شوې ورقه به ورکوي ،او ویې ویل
چې استادخو یې هسې هم ټکي په ټکي نه ګوري ،ولولې چې ورقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولېده نوله ډېره قهره تکه سره شوه خوژربي په خپل نوم پام شو چې دبل نوم پر ځای لیکل شوی و حیرانه وه چې څه وکړي ورقه وا خلي اوکه دا استاد رټلي اوخجالتوونکي خبرې واوري نوله ځان سره يې پرېکړه وکړه چې دا استاد له خبر ونه راته دا ښه ده چې وايې خلم همغه وه چې تميم ولوله دا استاد له خبرونه وژغورله کلاس په اخرکې ولولې له تميم نه مننه وکړه؛ خوتميم ورته وويل چې ما دا کار د مننې لپاره نه دی کړی ،خاص ددې لپاره چې استاد تاته دنوروشاګردانوپه مخ کې رټلي خبرې ونکړي.

دتميم په دې صميمانه اوله پېرزوينې نه ډکوخبرودولولې په زړه کې دځان لپاره ټول نفرت اوکينه په مينه بدل کړل له دې نه وروسته ولولې له تميم نه دهغې ورځې بخښنه هم وغوښته چې قلم يې ورڅخه دراشد په خوله غوښتی ؤ، تميم چې زړه يې له خوشحالۍ نه ټوپونه وهل په ډېر عادي اندازکې ځواب ورکړ (نوپرا بلم)

له دې نه وروسته به دواړه وخته راتلل اودکلاس تر شروع کېدوپورې به يې د ودکورس شاته په پارک کې په خپلوکې کنورسېشن (محاوره )کوله. کلاس نيمايي ته رسېدلی وچې دتميم دوی کور د څه مشکل له عمله له (قلع فتح الله ) څخه کوټې سنګي ته ګډه شو نورنوتميم نشوکولای چې له کوټې سنګي نه شهرنو ته دکورس لپاره هره ورځ راشي اولاړشي نوسبايي ولولې ته وويل زه نورکورس ته نه راځم ! ! څه نه راځې ! !؟ ولوله حيرانه شوه اخرخبره څه ده؟ ده ځواب ورکړ زموږکورله دې ځای نه لاړ اوپه کوټې سنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې موبل کور په کرایه ونیوه نو دا ځای له هغه ځای څخه ډېر لرې ده
او نشم کولای چې روزانه لاړشم او راشم  ولوله ډېره خفه شوه ،اوله د
ې سره تري تمیم روان شو ،خپل کورته نژدې یې په یوه کورس کې
داخله وکړه خوکله کله به یې دولولې پوښتنه کوله ،هغه هم اوس
کورس ته نه تلله ډېر وخت وشو چې ولولې او تمیم سره ونه لیدل ،یوه
ورځ تمیم کورس ته روان وه وکابلري یې پرانیستې وه لغات یې زده
کول چې په دې وخت کې دلارې په اوږدو کې یوه انجلۍ ورسره
د تېرېدو په وخت کې ولګېده دتمیم له لاسه کتابونه پرځمکه پرېوتل
نجلۍ همغسې دبربړکۍ په شان تیزه روانه وه او هېڅ خیال یې پرې
رانه وړ تمیم له ځانه سره څه وبنګېده او نجلۍ پسې یې وکتل
دنجلۍ لنډو پنجابي جامو ، نري دګولوبند په شان ګوچنی ټکری
او توره اوږده چونټکه چې په ملا یې لکه دمار په شان راځړېده،
دهغه دفکر مارغه له ځانه سره په هواکړ، کتابونه یې راوټول کړل
او په بېړه ورپسې روان شو خونجلۍ ورڅخه دجیټ په شان والوته ،
سوچونو پسې واخیست چې دابه څوک وي ،دچالوربه وي ،څه کاره
به وي ،چېرته به ځي او....په همدې سوچونو او فکرونو کې کورس ته
ورسېده کورس کې استاد درس وایه تمیم ناست په کلاس کې وه
مګر فکر یې په بل ځای کې و  استاد پرې څوواري اواز وکړ مګر
تمیم لکه چې دنشې ګولۍ اچولې وي هېڅ په ځان نه پوهېده له
رخصتېدو نه وروسته کورته ولاړ فکري پرځای نه وه ، سبا ته تمیم له
خپل وخت نه نژدې نیم ساعت مخکې دکورس په لور روان شو خونن

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ورځ نه ،نن د ی له هیڅ قسم پېښې سره مخ نه شو کورس ته ورسېده نبغ کتابتو ن ته یو کتاب یې راواخسته په لوستلو یې پیل وکړ دمطالعې څودقیقې وروسته تمیم ددروازې اوازواورېده سرېې له کتا ب نه راپورته کړ خو دروازه بېرته پورې شوه څه یې ونه لیدل ،بېرته یې په لوستلو پیل وکړ چې یووخت یې ساعت ته وکتل نوددوی کلاس په شروع کېدو وه ژر یې کتاب په خپل ځای کې کېښوده اومنډه یې کړه ددوی کلاس په دوهم منزل کې وه په ډېره چالاکۍ په زینه کې روان وه چې له پاسه پرې یوبل څوک دا سې راکوزشولکه بازچې په کوم مارغه باندې له ډېرې جګې فضانه غوټه وکړي تمیم ژر پاس وکتل په دې وخت کې هغه ده ته راورسېدله ددواړوسترګې یوپر بل کې ونښتې هک پک شول.

دهغې له خولې ووتل تمیمه !!ولولې ! !تمیم چې دولولې لنډوجامو ،اوږودقد ،توروا وږدوزلفوته وکتل نوپرونۍ صحنه ورته مخې ته ودرېده نوله ځان سره یې وویل چې هغه پرونۍ نجلۍ حتماً ولوله وه، ولولې ته ژر په کتابتون کې ناست هلک ورپه زړه شو چې سرېې په کتاب ورټیټ کړی وه پوه شوه چې تمیم وه دواړه لکه دبوتانوپه شان یو بل ته مخامخ ودرېدل اوله ستګویې اوښکې روانــــــــــــــــــــــــــــــــې شـــــــــــــــــــــــــــــوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وعده

کله چې زه له دوبۍ نه راغلم نو په کور کې د ټولو مزاج داسې څه بل شانتې وه، د هریوه په څهره کې یو عجیبه شان تغیرښکار کېده، ما به چې هرڅو مره وپوښتل چې ایا زموږ په کور کې څو کومه ستونزه نه ده راپیدا شوې؟ ټولو به ویل نه ته اوس دوبۍ نه راغلی یې هلته خو ټول خلک خوشحاله او ساعت تېري دي، نو تا ته دلته هرڅه بل قسم ښکاري ،ددوی په خبره به ما هم وویل چې کېدای شي، همداسې وي،ولې دا ځل زه له واده نه دوه مایاشتې وروسته تللی وم او یویونیم کال وروسته راغلم، یوه ورځ سهار وختي لاوده وم چې موبایل مې سرته چیغې پیل کړې،سخت قهر راغی ،ښه ته دې بېکاره ته وګوره دا وخت نو دزنګ وهلو دی ، لاس مې تېر کړل دبالښت تر شامې موبایل راپورته کړ، همداسې مې پورته خواته زور وکړ، موبایل مې هغه زموږ او ستاسې به اصطلاح کشکي وو، غوږته مې وړاندې کړ،ترڅو مې غږ وربا ندې کاوه ،چې هغه رابا ندې را مخکې شو.لالا مبارک شه زه کاکا شوم، او از د سرور و (زیشان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا شوی وه ) ټولو راسره په خورا مینه خبرې وکړې او مبارکۍ به یې هم راکولې، خوزه به شرمېدم د چا مبارکي مې نه اخسته، وخت تېرېده څو میاشتې وروسته یوه ملګري مې چې په افغانستان کې یې یوه N,G,O جوړه کړېوه، ما ته یې وویل چې هلکه راشه همدلته به لما سره په دې کمپنۍ کې اوړې را اوړې بل به کورته هم نږدې یې، ما هم ورسره ومنله نو راغلم خپل هېواد ته همدلته مې په خپل هېواد کې له هماغه ملګري سره په کارونو کې بوخت شوم، له داخل راتګ سره هرڅه بل شان وه، البته یواځې زموږ په کور کې ، خو تر ټوولو مې مېرمنه ډېره مانېجنه ښکارېده، ما به چې هر څومره ورته وویل او د دې د خاموشۍ علت به مې وپوښت خو هماغه یو ځواب به یې راته راکاوه او ویل به یې چې ته اوس بهرنی شوی یې او هرڅه درته بل شان ښکاري.له درې څلور ورځو راپد ېخوا یې په کړو وړو کې بېخي تغیر راغلی و ، د شپې لخوا به هم ډېرنا ارامه وه، تل به یې له کوچني زیشان سره خبرې کولې ، که څه هم هغه خو لا څو میاشتنی و ، په هېڅ هم نه وه خبر ،ما به ورته خندل ، ویل به مې ونجلۍ دا ته څه کوې؟ دا خو کوچنی ما شوم دی ، دی په دې خبرو څه پوهېږي ته پخپله ا رام وکړه؛ ولې چې ته استراحت ته هم ضرورت لرې،له کله نه چې زه راغلی وم ما دا ویده ونه لیده ، او تل به یې له همدې کوچني ما شوم سره خبرې اترې کولې، تل به خفه ښکارېده، یواځې به کېناسته او پاڅېده، ما څوځله ترې پوښتل، چې څه چل شوی دی؟ خو هغې به راته فقط دومره ویل چې هېڅ خبره نشته، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عـادي يـم، کومـه دتشـويش خبـره نشـتـه،دې بـه ماتـه ويـل چـې زه خوشـحاله يـم ، او ماتـه څـه مـه وايـه زه لـه هېچانـه ګيلـه او ګـزاره نـه لرم،دايي هم راته ويلي ووه چې کلـه يـو اځې وي، اوځوک ورسره نـه وي ، نو هيلـه ده چې ناڅاپي اواز پـرې ونـه کړم، ولـې چـې وېرېږي، عجيب خويونه به يې کول، زه هم يـو شـان تعجب کـې وم ،څو ورځـې نورې هم په همدې شان تېرې شـوې، يـوه ورځ لـه وظيفـې نـه پـه وخت راغلم ويل مې چې نن به دا هم له ځانسره واخلم او کـوم ځـاى تـه بـه پـه چکر ولاړشو ، کورتـه چې راغلم خويندو وروڼو راسره روغبړ وکړ؛ مېـرمن مـې ترسـترګونه شـوه ، دکـورنۍ لـه غړيـو مې وپوښـتل چـې چېرې ده، هغو وويل چې په خپل اتاق کې ده شميم زما په مـور پـلار، خويندو وروڼو هم ډېره ګرانـه وه، ډېرنازونـه بـه يې ورکـول ، پـه کـور کې داسې نه ښکاريده لکـه دا چې دکـوم بل کورنـه دلتـه راغلې وي، ولې چې پلار، مور او ټولې کورنۍ به زما خيـال هـم ډېر زيـات سـاته نو لـه همدې املـه بـه يې دا هم ډېره خوشـحاله سـاتله او دې مـې هـم دکورنۍ ، زما دخپلو ، خپلوانو او مېلمنـو ډېر عـزت او احتـرام کـاوه ،ولاړم اتاق ته دروازه بنده وه خو قلف يا ځنځير نه وه همداسې پورې کـړاى شـوې وه.پـه لړزېـدلو لاسـونو مې پـه داسـې حـال کـې دروازه ورخلاصـه کـړه ،چې غوږونـو مې دزړه دړزا بـې لـه کـوم مشـکل څخـه محسوسوله، هغه دکوټې په منځ کې يـو اځې ناسته وه، غوښـتل مـې غږ پرې وکړم ،خو جرئت مرسته نه راسره کوله، څوځله مې زړه راغټ کړ چې نوم ورته واخلم خبرې ورسره وکړم او په دې پلمه يې ځنګ تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورشم، خوبیابه مې وویل: نه ولاکه غږ پرې وکړم که وو پرېږي نو بیا ؟ هسې هم هغې خو راته ویلي چې په داسې وخت کې باید پرې یو ناڅاپه اواز ونکړم، بیابه مې وویل چې څه وهي خودې نه اونه ادم خوره ده، چې وبه دې خوري، راځه همداسې ورشه ،خوبیابه مې وویل هسې نه چې دا وو پرېږي، اوڅه چل پرې ونه شي، خیر خوونه شو ،نور مې نو زړه د زمري کړ، سترګې مې پټې کړې،یوځل مې په ستوني فشار راوړ، چې څه ورته ووایم، خو ستوني هم قسم وکړ، چې اواز به رانه ونه وځي، په دې کرلو ،ربېلوکې نژدې درې څلور دقیقې تېرې شوې، اخر مې ویل هسې نه چې ومې وینې ،بیابه بل ګمان رابانديې وکړي، بې اختیاره مې وویل، شمیم ! ! مخ یې راواړاوه ، له سترګویې اوښکې روانې اوتکې سرې وې، مخې ته یې دټوشي پیپرو قاغذي قطعې ایښې وه اوسمه ډېرې یې جوړه کړېوه، ځان مې زړور کړو خواته یې ورغلم، څه چل شوی دی؟ چې داسې تنها یې دې غوره کړېده، ایا زما له کورنۍ سره دې طبعه نه ده جوړه ، اوکه زما کومې خور یا ورور اویاهم بل چادرته څه ویلي وي خوماته یې ووایه ،زه به یې پو کړم ، له ځایه پاڅېده، لاس یې دسترې مشي په نیت رااوږود کړ، مایې هم لاس ونیو ،اوله ځانسره مې کلک کړ، پرې مې نه ښود اوښکې مې ورپاکې کړې، ورته مې وویل: ګوره شمیم ! ! نن چې هرڅه راته صفا صفا ونه وایې هېڅ امکان نلري، اخر چل څه شوی دی ، چې ته داسې کوي ،ګور داخوستا یوه ورځ نده اونه دې هم یوه اوونۍ ده، له کله نه چې ته دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورته راغلې یې ما ستا پرشونډو مسکا ونه لیده بغیر له غم خفګان او پرېشانۍ ایاله ماسره خوشحاله نه یې؟هرڅه چې وي هلته ژرکوه ماته یې وواېه، چې نور مې نو حوصله خلاصه شوه او هېڅ صبر نه دی راپاتې ،که په ماکې کومه خبره وي راته یې وواېه، که څه ناروغه یې هم راته یې وواېه او که کوم بل مشکل وي هم راته یې وواېه، داکومه داسې خبره ده چې تا دومره ځوروي ورځ په ورځې دې درنګ کې تغیر راځي، سم دګور مړی درنه جوړ شو تا ځانته په شیشه کې کتلي دي، نور درنه زه وېرېږم.په مکر جنه لهجه یې راته غلطوونکې خندا وکړه ،په سینه یې راته سوک راکړ غلی شه صنوبره یو خوته لاڅومره په خبروپسې ګرځې، غوښتل یې چې زه دا خبره هېره کړم ،نور څه ویل یې پیل کړل ،خوماهم ضد پیل کړ او جدي شوم ورته ، ورته مې وویل چې راته یې ونه وایې بله خبره هېڅ نه اورم، هرڅه چې وي نن به یې راته په همدې ځای کې وایې او هغه هم همدا اوس.کله چې پوهه شوه چې زه نه منع کېږم ترڅو راته خبره ونه کړي، نو یې راته وویل چې خبردرته کوم خو یوشرط لرم ، ما ورته وویل هرشرط ته دې تیار یم ، اوس راته خبره وکړه ، هغې وویل مرګ ته هم تیار یې؟څه !!!داته څه ډول خبرې کوې شمیم !!؟وګوره وو بېرېدې کنه؟

نه نه یم وېرېدلی خو ستا خبرې بل شان دي.کله چې بل شان خبرې نشي اوربېدلی نو بیا پوښتنه څله کوې؟خیر وایه ستا د خوشحالۍ لپاره مرګ ته هم تیار یم.و یې ویل نوبیا یوه وعده وکړه، زما زیشان

(c) ketabton.com: The Digital Library

به خوښ او خندان ساتي.هاهاها په کړس کړس مې ورته وخندل، ای هی تالیونې دې خدای لري.خو بېرته مې فکر سم شو ، کله چې شمیم دزیشان دنوم اخسته یو څه ټکنې شوه، ژبه یې بنده شوه. ما ورته وویل: زېشان خوښه دی کنه ؟هو نوماخودرته ویلي ندي چې هغه ناروغ دی ما ورته وویل چې انشاء الله داهرڅه به همداسې کېږي لکه څرنګه چې تاوویل، ښه نو اوس راته ووایه چې څه شوي دي؟ستونی یې له ژړا نه راډک شو ،سترګې یې پټې شوې، مخ یې سورشو ،ژړايې ایساره نکړای شوه ،دسلګیو سره غبرګ په داسې حال کې چې خوله یې زما په اوږه راخښه کړه وویل زیشان ، خوله یې بنده شوه بیایې هڅه وکړه زیشان، ماوویل: هو زیشان ولې په زیشان څه شوي دي؟ هغه خو هغه دی په خپل ځای کې پروت دی او ویده دی نوبیاولې؟ هلک مې په ویدو را پوره کړ له خوبه مې راويښ کړ. بیایې وویل: زیشان، نور مې ورته زړه راتنګ شوه له ځانه مې لرې وغورځوله ،په ډېرقهرمې پرې چیغه کړه؛ څه چل شوی دی په زیشان؟ !له ژړاسره سم یې له ستوني اواز راووته،کوچنی زیشان یې رانه واخست کلک یې په سینې پورې ونیوه دهغه په مخ یې خوله کېښوده ،ویې ویل دی وینې سرطان لري ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مجنون

سهار له ملا آذان نه مخکې به له خوب پاځېد په يوه اوږده لکړه کې به يې د مرغانو قفسونه راځړولي و، په هر قفس کې به درې يا څلور دانې لکه د بګرام او ګوانتانامو په زندانونو کې چې په يو نيم متر کوټه کې به دوه درې افغان بنديان پراته وه، او د کروندو په لور به روان شوه دده عمر پوښ و خو فکريې بيا هومره نه و، لمونځ يې د ثواب لپاره هم نه کاوه بس ټوله ورځ به دی و او مرغانو ته تيپچه وهل له سهار نه تر ماښام به يې مرغان نيول که چا به ورته ځان هم مړ کړ او څومره عزر او زاری به يې ورته وکړې خو ده په زړه سخت به ورته يو دانه هم نه ورکاوه .له هېچا څخه به يې په نيولو کې مرسته نه غوښته په خپله به يې نيول او په خپله به يې خوړل او جنګول، نور کار به يې نه و هر ورځ به يې د ميرمني جنګ او دعوی ورسره پورته وې خبرې به يې ورته کولې ځوانيمرګ شې دا مرغان دې ستا په سرماړه شي ، بلا وهلی يې چې څه خواري مزدوري وکړې هغه بې زبانه ښاروېو ته خو لږه ګياه ( واښه ) راوړه بس په تياره يې خوري او څښي. ټول کارونه به يې مېرمني کول بازار ته به په سودا پسې تلله، په پټيو کې به يې سري او تخمونه شيندل، ځمکې به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خړوبولي ، وايم ټول کارونه به يې کول ،زامن يې واړه و  د څه ګټې وټې نه وو مشران اولادونه يې لوښې وې ،تر څو يې چې زامن د څه خواری مـزدوری کېدل هرڅه د (( مېرمنـې ) ) پـه غـاړه و ، يـو وخت مجنون ماما يـو څو روپـۍ د همدې مېزانو لـه لارې لاس تـه راوړې وې جنګي مېزان به يې پلورل او روپۍ به يې ساتلې،ښايسته ډېرې روپـۍ يـې جمـع کـړې وې، خپـل لیـونی فکريـې پکـارا چولی و ،چـې راڅـه پـه دې روپيـو يـوه جوړه غوايـان (قلبـه يـان )روانيسـه داخپلـه ځمکـه بـه پـرې جـوړه کـړې اولـه بـل طـرف نـه بـه دمېرمنـې لـه ډېروخبرو څخه خلاص شي ، نوپې همداسي وکړل، يوه جوړه قلبايـان يې راونيول پـه خپله ځمکه کې يې يوې او منډاووګان کول قلبـه يـان يې ډېر شوخ وو او پـه قلبه هم پوره بلدنه وو ، ډېريې پـه عذاب کـړ يـوه ورځ يې پرې يوه (قلبه )کوله چې يـوه غـوايې پـه بـل بانـدې ښكر وار کړ له مجنون ماما څخه ګنده کړه شوه او دغـويې پښـه يـې ووهلـه ؛ده چې دغويې پښه وينې وليـده نو خپلـه غوصـه يې قابونشـوای کـړای فـوراً يـې جـېب تـه لاس کـړ يـو کـوچنی چـاقو چې هغـه بـه پـرې منې ،بادرنګ اونورې مېوې خوړلې لـه جېبـه راووېست او پـه غـويې يـې ښه دزړه له اخلاصه ګذاروکړ،دچاقو ټوله پلنګه يې دغويي پـه ورانـه کې ورننه وېسته اونـوريې ورتـه چوکـه ونيـولـه ښه يـې وواهـه ،دواړه يې بوتلل او دونې تر سيورې لاندې يې وتړل ،قسـم يـې وکـړ چـې يـوه کوده واښه به هم رانه ونه خورئ تاسولا تـر اوسـه دمجنون ضد نـدی ليدلی؛ پـه دې وخت کې يې کوچنۍ لـور ورتـه سـبانارې (دسهارچای

(c) ketabton.com: The Digital Library

)راوړ، که ګوري چه په غوبي يې پام شو ،چې په وينو سو ر پورده نوبې چاى توت دونې سيوري ته کېښود اوروانه شوه ،دپلار له وېرې يې منډه هم نشوه اخيستى ،خوکله يې چې له سترګو پناه شوه بوټونه يې په لاسوکې واخستل او په منډه شوه کورته چې ورسېده نوله ډېرې ستړيا څخه يې خبرې نشوې کولاى،موريې ترې وپوښتل چې څه چل شوى دى؟ داچې بچيانوبه يې پلارته باباويل نو په ستړې لهجه يې وويل بابامې غويى په چاقو وهلى دى ! څه !؟وى ډوبه شوم ، ټکرى په سرکړاو ييلې پښې له کوره ووته، يوه تارې ټوټه يې له ځان سره (دلته دود ) لپاره واخسته او روانه شوه پټې ته په رسېدو سره يې چې سترګې په غويي ولګېدې، چې له ډېر درده لکه دماريه شان تاوېږې؛ نو په سترګو يې توره تياره شوه سترګې يې پټې او خوله يې خلاصه کړه ،مجنون ماماته يې په سپکو سپورو پيل وکړ،مګرهغه پرې خيال رانوړ اوبېغمه يې خپل چاى نوشيجان کاوه، بله ورځ دمجنون اومېرمنې يې په څه خبره کشمکش پيدا شو مجنون ماما په هغې يو ګذار وکړ خوهغه يې ژوبله کړه هغه متل دى چې وايې :دزورور وهل اودکمزوري کنزلې مېرمنې يې ورته مخ واړاوه خداى دې ږيره په ټټر تويه کړه، خداى دې ووهه سپين ږيرى شوې، دلمسيانو خاوند شوې خوته له دې جنګ او دعوونه لاس پسر نشوې ،دوى دواړه اوس سره عادي وو ،جنګ او جګړې به ورته ساعت تېرى ښکارېده ،ولې چې په هغه ورځ چې ددوى چيغې به پورته نه شوې، نو خلکو به ويل چې نن يا مجنون اويا يې مېرمن په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور کې نشته، مجنون چې يو عصبي سړی وه نابېره له کوره ووت او د کلي په دلاک (نايي) پسې يې پلټنه پيل کړه پيدا يې کړ له لاسه يې راونيوه او په يوه ګوښه کې يې کښېناوه. هله ژر کوه له دې ږيرې مې خلاص کړه چې د فلاني دلور زړه يخ شي، دلاک ورته ښکته پورته کتل ،ورته يې وويل: مجنون ماما ته په هوش کې خو يې؟ دا ښايسته اوږده ږيره او پاکه خرېيل؟ ! مجنون ماما چې له ډېره قهره تور او شين اوښته وويل: ږيره ستاده او که زما وايم خبرې مکوه او چې زه درته څه وايم هغسې وکړه نايي مجبور شو او د مجنون ماما اوږده ږيره يې ورته پاکه خرېيله او روان شو ، کورته چې راغی بچيان يې پرې راټول شول وی ! ! بابا دا دې څه کړي ؟دی راغی او دهوېلې په منځ کې ودرېده ګوري چې مېرمن يې هم راغله او د مجنون شين مخ يې چې وليد ! ! مجنونه سردې وخورې په سپنه ږيره ليونی شوې ؟دا دې له ځانه څه جوړ کړي مجنون چې مرز يې په لاس کې وه او پورته پورته يې کاوه په تروه تنده يې ورته وويل هر وخت به دې يو متر ژبه راوبستې وه ږيره دې په تېرتويه شه، دا سې شه او هسې، دا دی ځان مې ترې خلاص کړ، همدا سې دې غوښتل کنه؟که بيا مې درته له خولې نه يوه خبره هم واورېده نو ستاد سرحال به هم زما دګيرې پشان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تورمار

له خوبه چې راپاڅېده سترګې یې ومښلې او په خپل ځای کېناسته ،خپل سوری سوری ټکری یې راکش او پر سریې سم کړ، څوځایه پینه شوې کلوشې یې پر پښو کړې روانه شوه او بلې کېږدۍ ته ننوته ،ترښایسته ځنډ وروسته یې بېګانی جواری او یو کلوله پیاز په پلو کې واچول او له کیږدۍ څخه راووته ،خوب یې لا له سترګو پوره نه وه الوتی او لکه ټال ځنګېده .لکړه یې راواخسته او رمه یې روانه کړه .صبرو چې پایندۍ ولیده نو په بادام ګل یې غږ کړه بادامیه ومرګ دې یو سه تادخوب ګوډی هغه ده پایندۍ خپل مالونه راخوشې کړل او ته لاپروت یې بادام هم ژر راپورته او دچوپال په طرف روان شو موریې ورته جواری او لږ پنېرپه دستمال کې وتړل پتکی یې غاړه کې واچاوه او په مال پسې شوه،دوی دواړو به هره ورځ په ګډه خپل وري او سېرلي دغر لپاره دغره لمنې ته بېول ،پایندۍ بل ورور یا خور نه درلود موریې یوکال دکډو په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل یوه لیوني اوښ د سینې لاندې کړې او وژلې یې وه ،پلار یې بل
واده وکړ دې کورته د میرې له راتګ سره سم د پایندې د بد مرغې
ورځې شروع شوې ،ډېره بده رویه به یې ورسره کوله سهار به یې ورته
مالونه مخکې کړل او بېګاته به په تیاره ستړې ستومانه او خوبولې
راغله کله به مړه(ډ که ګېډه ) او کله هم وږې ویده شوه ،اوس یې پلار
هم هغه پخوانۍ مینه نه ورکوله هغه ته به یې چې مېرمنې څنګه
(ډول واهه )دی به ورته ګډېده.
غرمه شوه بادام او پایندې خپل جواری وخوړ دلمرپیتاوي ته ناست
وو ،لمر یې پرهډوکو ښه ولګېده نو ځکه خو یې د پاچاهۍ خوب هم
مېلمه شو ،رښتیا ده چې خوب راشي بالښت نه غواړي ،رمه یې
لمرته پنډه شوې وه ،هغه ژېړ مازدیګر له خوبه راپورته شوه مالونه
یې کتېدلي وو ،ژر یې بادام هم راببیدار کړ او دمال په راټولولو یې
پیل وکړ ،خود پایندې یو سېرلی نه وو اخواد بخوا یې په نژدې
ځایونو کې ډېر وکتل پیدا یې نکړ،بادام پایندې ته کړه راځه چې
اوس ولاړ شوه سبا به یې په رڼا وګورو خو پایندې ته د میرې خبر
نېغې سترګو ته ودرېدې:که دې کوم وری یا سېرلی ورک کړ نو
ستا به هم همغه حال وي.
نه نه !زه نشم تلای زه یې ګورم که پیدا یې نکړم او کورته ولاړه شم نو
ابۍ به مې مړه کړي ،خود بادام له اصرار وروسته زړه نازړه روانه
شوه ، ماښام تېروو چې پایندې کېږدې ته ورسېده د میرې له وېرې
یې پټ پټ د کېږدې پېڅول پورته کړ او غلې پر بوته،دسحر له رڼا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم غره ته روانه شوه ،او د سېرلي په لټه يې پيل وکړ ډېر زيات يې ولټاوه خو پيدا يې نکړ ،له لمرختو سره بادام هم خپله او هم د پاينديې رمه غره ته را پورته کړه ،بادام ښېغمه شپېلۍ وهله چې ناڅاپه يې پرپايندۍ پام شو چې په يوه غټه پرخه پرته ده بادام فکروکړ چې ګواکې هغه بياويده ده نو يې له همدې ځايه ورته ناري کړې پاڅېږه لېونۍ سېرلي دې ولټوه که پيدا دې نکړ نو ميره به دې ووهي خو پاينديې لا هماغسې پرته وه ، ده ورته په ټوکه وويل د المروګوره او ستا خوب؛ ګوره چې اوس دې څومره کشوم ،شپېلۍ يې په تخرګ کې ونيوله،پرخې (لويې تيږې) ته پورته شو ، د هغې ښي لاس يې ونيوه او ټکان يې ورکړ له همدې سره يو تور مار د پايندۍ له ډډې په ښنېدو شو ،خو پايندۍ له خوبه پورته نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

کوچنی وم لامې د مینې په نوم د کوم شي خوند نه وڅکلی، خو کله کله به مې ترڅان له لویو هلکانو څخه اورېدل، چې یو له بل نه به یې پوښتنې کولې ایا مینه دې کړېده ؟ کله مئین شوی یې؟ په چا مئین یې ؟.....او نور په هېڅ هم نه وم خبر، یوه ورځ مې واورېدل چې انی(نیا ) مې له پاکستان څخه افغانستان ته راغلې او په ننګرهار کې د خپل ورور په کور کې تم شوې ده، ددې خبر له اورېدلو سره سم راباندې غوباړی ولګېده، له مور څخه د هغې ترڅنګ د روتلو اجازه وغوښته، نه یې پرېښودم خو ډېره مې خوله ورته ورانه ،ورانه کړه چې بلاخره مې رضا کړه، زمانیا پرماډېره ګرانه وه؛ زه هم پرې ډېر ګران وم،بې حده ناز به یې راکاوه،ددې لپاره چې زه یې ترټولو مشر لمسی وم ماته یې تل د مور مینه راکوله،حتی تر دې چې له خپلوزامنو(زما ماماګانو ) څخه هم زه ورته ډېر ګران وم، مور مې راته ویل چې هسې هم هغه راڅي نو ته څه کوي، خو ما دواړه پښې یوې موزې ته برابرې کړې ،غوښتل مې چې هرڅنګه وي یو ځل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایـد ځان تـر ځنـګ وروړسـوم، روان شـوم او ننګرهـار تـه مـې ځـان ورساوه کله چې هغه ځای ته ورسېدم کوم چې زه خبر وم چې انـې مـې هلته ده ، له رسېدو سره مې د هغې پوښتنه وکړه راته وویل شـول چـې هغه خو فلاني کره تللې ده ، هغه خلک هم زموږ خپلوان وو ،خـو مـالا تر دې دمه نه پېژندل،کاش چې د برختي مې پېژندلي وای،نابېره ور روان شوم ، هرڅومره چې راته وویل شول چې اوس راځي خو چاته یې وایـې،ورغلم کورتـه داخل شـوم ، کلـه چې د انـې مـې رابانـدې فکـر شو ، اول خو حیرانـه شـوه چې داسې څنګـه کېـدلای شـي،چې زه دې هلته ورشم،لکه د یو خوب پشان ورته معلومیده ، بیایې د فکر لړلـې وشـلوله او زمـا پـه لـور یـې را وځغاستل،زه یـې پـه خپلـه غېـږه کـې ونغـاړلم، دومـره یـې ښـکل کـړم چـې اوتـر یـې کړم،نـور یـې لـه ځانســرنژدې کېنولم،دکـور ځښـتـنـي هـم سـتړي مشـي راسـره وکړه،دکـورنـۍ حـال او احـوال یـې راڅخـه وپوښـت،هغې زمـا مور پلار او نوره کورنۍ پېژندله خو نه پوهېږم ولـې مـا ددوی پـه هکلـه لـه دې مخکـې څـه نـه وو اورېدلي،پـه شـرم ګیـره فضـاکې ناسـت وم،اولاندې د سترنجۍ له تارونو څخه مې دیوه دشلولو هڅه کولـه، سرمې ټیټ وو ، چې د سلام غږمې سرراپورته کړ ګورم چې کـوټې تـه یـوه نجلـۍ چـې دچـایو چاینـک او پتنـوس یـې پـه لاسـوکې ورا ننوته،نه پوهېږم نجلۍ وه که دانسان پـه جامـه کې کومـه فرښته لـه اسـمان نـه راکـوزه شـوې وه،، داسې ښایسـت لا مـالیـدلی نـه وو ، کـه رښتیاوووایم لا تر اوسه مې هم بیا هغه شان انساني جوړښت ونه لید ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي په ليدو مې انۍ رانه هېره شوه، يواځې انۍ نه بلکې تر خپل ځان پورې هرڅه رانه ورک شول، او سترګې مې ددې په مخ کې وګنډلې، خوکله چې دې سترګې راواړولې او زما مخې ته يې پياله کېښوده نوزما سترګې يې خجالته کړې، لمړی ځل مې د مينې محبت، اوښکلا په نوم خوږه هوا د زړه په نريو پردو کې داسې وچلېده چې خواږه ساړه مې حس کړل او يوه سندريزه انګازه يې پيل کړه، نو هله پوه شوم چې په رښتيا هم دمينې او عشق خوږوالی له بل هر خوند سره ډېر توپيرلري، دنجلۍ تورو غټو سترګو، نريو وروځو، ګلابي نريو شونډو، غونډې زنې، اوږدو وېښتانو او په اندازه برابر قداوقامت هغې ته حيران کړی وم، هسې قدرتي سينګار شوې وه ،خو زماخوشبختي دلته وه چې د انۍ تر شامې ناست وم او دهغې د مور راته فکر نه و، کنه څه فکر به يې کاوه، له ځان سره مې ويل چې اوس به زه هم همزولوته وايم چې ما هم مينه کړې ده ،په همدې فکرونوکې وم کې وم چې انۍ مې راباندې اواز وکړ.

ګرانه ! تالا تر اوسه له پيالې نه يو غړپ هم ندی کړی؟ لکه چې ډېره ګرمه ده؟

دمينې له ډک سمندرنه يې په داسې حال کې را بهر کړم چې لامې تنده نه وه ماته ،سترګې مې سره وروستې او بيرته مې خلاصې کړې.

نه نه ادې ! همداسې.

تاته خو معلومه ده چې زه عادت لرم چې يخ چای څښنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجلۍ له ځانسره مسکۍ شوه ،دټوکې په ډول يې راغبرګه کړه، اوبه پکې ا چوې؟
ژبه مې په شونډو تېره کړه خو داپخپله دومره وچه شوې وه چې په خوله کې نه اوښته را وښته.
نه کومه خبره نده ،ما وويل کنه چې زه ګرم چاى نه څښم، ددې جرئت ته نور هم ويده شوم.
خو اى کاش چې نن مې انۍ تر ډېرځنډ همدلته پاتې شوې واى،افسوس چې هسې يې ونکړل،دنجلۍ مورته يې مخ کړ، مورې اوس ځو ،رخصت يې واخست، په دې کار سره يې زما په زړه کې د ځان لپاره مينه يوځه راکمه کړه، غوصه مې ورته راغله خو هېڅ مې نه شول ويلى،له کوره دوتلو په وخت کې مې زه له انۍ نه وروسته شوم، ځوځله مې وروسته وکتل،چې دادکوټې په مخ کې لاس تر زنې ولاړه وه،او په مورې پسې يې کتل زما له کتلو سره به يې شرمګينه خندا په شونډو لکه دبرق پشان تېره شوه.
کله چې ولاړو نو مې انۍ ته وويل:اوس بايد مورې ولاړ شو زمورېکره، هغې وويل چې سبابه ولاړ شو، اوس خو ډېره ناوخته ده، خوما نه غوښتل په هغه ځاى کې چې زړه مې نا ارامه وي پاتې شو، زماله ټينګېدو سره هغه هم رضا شوه،ويل يې ښه نو چې ته ډېر ضد کوې راځه چې ځو ،روان شولو، نژدې ماښام و چې کورته را ورسېدو، د شپې تر ناوخته پورې موسره خبرې اترې وکړې،کله چې خپل بستر ته ولاړم او ستر ګې مې سره ورغلې،بيا نويو ې رنګينې اوکاملاً نوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـړۍ تــه ، چــې لــه دې څخـه مخکـې مـې دداسـې نـړۍ تصـور هـم نشو کولای داخل شوم، شنه باغونه، شنې جلګې، په ویالو کې سپینې داوبنکو پشان رواني اوبه، دشپېلۍ غږونه، دترنم انګازې ،او ددې هرڅه په منځ کې هماغـه انجلۍ پـه داسې انداز کې چې کوچیانۍ اوږدې جامې یـې پـه تـن وې، دمنګـي لـه غـاړې یـې لاس را تـاو کړی وواودیوې بدرۍ جمالي په شان زماپه طرف په ناز او نخرو راروانه وه ،نو ترسـهاره پـه هماغـه رنګینیوکې وم خو بیاهم نه پوهېږم ولـې داسې وختونـه ډېـر ژر تېرېږي ،ډېرژر سـهار شـو کلـه چـې پـلار مـې راباندې اواز وکړ چې لمونځ تـه پـاڅېږم نـو ډېره زیاتـه غوصـه راغلـه ،لـه خوبـه را بیـدار شـوم ،لمـونځ مـې وکـړ ، دچـای څښـلو وروسـته د مکتب وخت را ورسېد ، هغه لمانـه هېڅ نـه هېرېده ،نـن مـې غوښـتل چـې لـه انـۍ څخـه مـې دهغـې پـه اړه وپوښـتم، نـوم یـې تـرې یـاد کړم، دپلارنوم، او داچې موږ له دوی سره څه ریشته لرو؟

په څه بهانه مې ځان له مکتب نه پټ کړ، لس بجې بـه وې چې کورتـه راغلم، پـلار مـې هـم پـه کـور کـې نـه و ،مـور مـې دکورپـه کـارونو کـې بوختـه وه، انـۍ مـې پـه کـټ ناسـته وه، ورغلـم، او ترڅنـګ یـې غلـی کېناستم، ورته مې وویل موری ! یوه خبره وکړم؟

ویې ویل:لیونیه ولې ماتاته کله دخبرې وخت نـدی درکـړی چـې اوس اجازه غواړې؟

نه داسې خـــــو کله ندې شوې خوبیاهم کنه دانسـان فکـر تـل یـو شان نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هم راته متوجه شوه نه وو ایه ګُله څه راته وایې؟
مورې ! هغه پرون چې ته ورکره تللې وې هغه کور د چا دی؟
ولې چادرته څه ویلي که څنګه؟
نه هسې پوښتنه مې وکړه.
ایا هغوی په رښتـــــیا هم زموږ خپلوان دي؟
هو.
زما پوزه یې نچوړې کړه، نو په دې خبره کې څه دي چې تا ویل.
هغه څه پوهېده چې په دې خبره کې ډېر څه شته.
هسې مورجانې بیا کله هلته ځې؟
لکه چې انې مې نوره زما په مقصد پوه شوې وي؛ یو ځل یې راته وخندل او له غوږنه یې ونیوم، څنګه چل دی لکه چې (زیبا ) درنه زړه وړی وړه؟
اهـ څومره ښکلی نوم یې دی زیبا.
دا خبره مې له خولې په غیر اختیاري ډول ووته، ژر مې ځانته فکرشو، هوهو زیبا هغه د کوثر ماما لور هم زیبا نومېږي.
خو انې مې راته وویل چې هغه دې له زړه نه وباسه، ما چې نور هېڅ ویل نه شول زغملی؛ نو مې ورته وویل مورجانې هغه زما ډېره خوښه شوله، خیر دی ته خو مې له ادې او پلارسره خبره وکړه او زه باور لرم چې هغوی ستا خبره نه غورځوي، او ستا هره پرېکړه مني او په دې هم باوري شوی یم، چې هغه خلک به هم درته انکار ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې وخندل ولیونیه زه وایم چې هغه دې له فکر نه وباسه؛ ما وویل ته ولې داسې وایې؟
ایا ته زما لپاره دومره هم نشې کولای؟
هغې راته وویل ته ولې ځان نه پوهوې هغه اوس دبل چا عزت دی.
څه دبل چا ! ستا مطلب دی چې هغه یې ورکړېده؟
هو !د زېبا کوژدنه خو هغه وخت شوې چې هغه لا څلور کلنه وه !!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکمې مودې ملګرې

ویاړمن: اُف خدای دې په دې بهرنۍ نړۍ هم اور پورې کړي ، چې ځوک ورشي نو نورخو دمرغۍ شیدې شي خوهغه شته ایمان هم ترې کډه وکړي.
اوښکه: په حیرانتیا سره : اخرپرابلوم څه دی ماخوهم پوهه کړه کنه.
ویاړمن: نه اوس نو داسلام وه چې تاماته وکړ داخودې هم پرما اوهم پرسلام مسخرې وکړې ، ولې سم نه وایي چې السلام علیکم ؟
اوښکه: اوهو سمه ده، سمه ده هغه څه ورته وایي هو رښتیا شیخ صیبه نوربه داغلتي نه رپیټ کېږي اوس خودې دا تروه تنده جوړه کړه اوسم کښنه چې خبرې وکړو.
ویاړمن: ښه کېنم خو په یوه شرط.
اوښکه: د څه شي شرط ښه ته به بیاوایي چې ماته انګریزي رازده کړه .
ویاړمن:وایم زما توبه لدې انګرېسۍ نه زه پخپله هروخت تاته وایم چې په دې سوچه پښتوکې دا دسروکافروخبرې مه راګډوه خوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیاهم یکې یوه یوه لکه په وریجوکې دمې پشان راولې،شرط مې داده چې ته به نن ماته هرومرو دهغه سمون کیسه کوې.

اوښکه: هاهاهاسمون نه seman سپمن.

ویاړمن: بس هرڅه چې ده.

اوښکه:زه خووایم ویاړمنه چې رازه له دې تېروکیسونه به تېرشو اوپه نویو خبروبه فکروکړو.

ویاړمن:نوبیازمایې دخدای پامان زه درنه ولاړم ځکه چې ته پرما دومره بآورنلرې نوبیازه هم ستاعبس خبروته وخت نلرم بس دلته کېنه خبرې کوه اوخپله ورته خانده هسې هم په خپلوخبرودې بره مئېنه یې.

اوښکه: ښه ده بابا ! ! راځه درته کوم یې مه خفه کېږه وایم په ضدکې خومکمل سپمن یې ،ښه نو غوږدې ونیسه.

ویاړمن:دادی دواړه غوږونه مې ونیول.

اوښکه: زماخبرې واره داسې درته وایم خوزه هم یوشرط لرم اوهغه داچې زماپه خبره کې به نه راغوټه کېږې سمه ده؟

ویاړمن: هو سمه ده بس داسې فکر وکړه چې زه له همدا اوس نه ګونګی شوم.

اوښکه: کیسه خوداسې ده چې کله په افغانستان کې دلوړوزده کړو دوزارت لخوانه ماته ستوډنټ سکالرشیپ راکړشو او زه یوه امریکایې پوهنتون ته وروپېژندل شوم ،نوکله چې زه هلته ورسېدم ،زه کاملاً تنهاوم یواځې زه یکې افغانه وم ،نوزما په ډېرکم وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې زړه تنګ شو ،کله به مې زړه غوښتل چې راځه بېرته ولاړه شم افغانستان ته اوکله به مې ویل چې هلته به خلک څه وایي، خوپه هرحال یوه ورځ د پوهنتون په چمن کې په سیټ ناسته وم مطالعه مې کوله چې مخې ته مې دوه نفره امریکایان ودرېدل چې په همدې پوهنتون کې محصلین وو ،ماهغوی ته هېلووویل خوهغوی هېڅ ځواب رانکړاوماته یې نېغ نېغ کتل ماورته وویل چې خیرخوبه وي ؟ یوه راته وویل:مورږ غواړو تاله ځان سره بوځو سایټ سینګ ته (چکر )ته ماوویل نه زه داکارنشم کولا خو هغوی غوښتل ماله ځانه سره په زوربوځي یوه زه له لاسه وینوم اوکش یم کړم وه یې ویل دا افغانستان ندی راځه چې ځوزړه به د ي خوشحاله شي اوخوند به واخلو ،زه له دوی سره په کش اوګیر کې وم چې ناڅاپه له کوم طرف نه یوبل هلک راپیدا شو چې لدې نه مخکې ماله ده سره نه پېژندل،هغه هلک یې له لاسه ونیوه او ټکان یې ورته وکړویې ویل که دا افغانستان ندی نو دنځاکلپ هم ندی دا ددرس ځای دی نه دلوبواوچکر،هلکان همدا سې په خپله مخه ولاړل ،دی هم روان شوه ما له ده څخه مننه وکړه ،ده په روانه کې وویل دڅه شي مننه ددې په خاطر چې ته مې ددغوهلکانو څخه وژغورلې ؟ ما وویل هو ،ویې خندل اوروان شو ،دڅوورځوپه تېرید سره مابیادی په پوهنتون کې ولید چې په سیټ ناست و او کتاب یې کوت ،زه ورنږدې شوم سلام مې پرې وکړ هغه دکېناستلو وویل ،ماهم همدا شان غوښتل ،چې ددې موقع پیدا کړم چې له ده څخه دده اودده دکورنۍ په اړه وپوښتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

،ترڅنګ يې کېناستم ،ښه نو ستانوم سېمن ،په کوم ځآی کې اوسې ،په همدې ښارکې(کليفورنيا )اصلاً؟ملت افغان ! ! څه هو هغه زمادهرې خبرې ځواب ډېر دقيق اوژر راکاوه خوزه دده په خبره ډيره متعجبه شوم چې ملت مې افغان ده ،ما وويل ګوره ټوکې مکوه ،نه ټوکې نه کوم رښتيا وايم دکور ادرس او دمبايل نمبريې راکړ راته يې وويل چې ته کولی شې د هرمشکل په وخت کې ماسره په دې نمبرتماس نيولی شې ،هغه ډېرې خبرې نکولې په کم وخت کې زماتر ټولو ښه ملګرې شو ،يوځای به موstudy کوله خو موږ داوړو بېلې بېلې پوهنځۍ لوستې ،خو لنډه يې درته ووايم وخت تېرېده مابه نورله ده څخه ډېرې پوښتنې نکولې بس هماغه ددرس او پوهنتون خبرې به موکولې دې لړۍ نژدې اته مياشتې وخت ونيوه ،يوځل څو ورځې مسلسل رانغی مادهغه موبايل ته زنګ وواهه خو شمېره بنده وه باربار مې کوشش وکړ مګر فايده يې ونکړه خير نن ورځ تېره شوه سبا دپوهنتون له وخت نه وروسته دهغه دادرس په رهنمايۍ دهغوی کورته ورغلم کوريې په يوه ډېره ښکلې ودانۍ کې و يوه امريکايي کوڅې ماشوم نه ومې وپوښتل چې د سېمن دوی کورکه راوښيي ،هلک چپ طرف ته ګوته نيغه کړه that’s there home زه ورننږدې شوم ددروازې زنګ ته مې فشار ورکړ يو سړی له کوره رابهرشو په انګليسي يې وويل تاسو څوک؟ماوويل داد سېمن کوردی دسړی په سترګوکې اوښکې ورغړېدې yesخوماته داهرڅه ډېرعجيب ښکاره شول دداخل ته ددننوتلو ايشاره يې راته وکړه خو زه حيرانه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي ماته کتل او اوښکې يې په مخ راروانې وې ،په دې وخت کې يوه پلونډه غټه ښځه او دوه نجونې چې غربي لباسونه يې په تن وو راغلې ،ما دوی ته وويل چې ايا دا په رښتيا د سپمن کوردی ؟ هغې ښځې يو ناڅاپه پرما راخيزکړغبږ يې رانه تاوه کړه او له خولې څخه يې يوه داسې چيغه ووته چې زه يې بيخي وارخطا کړم نو ومې ويل اخر داسې څه چل شوی دی چې تاسو ټول په سرو ستر ګو ياست هغوی وويل he live us alone(هغه موږ يوائې پرېښودو )او بيا يې چيغې کړې ،پلار يې زما خواته رانږدې شو !ايا ته ماته دځآن په هلکه معلومات راکولی شې؟او له سپمن سره څه پېژند ګلوي لرې ،له څېرې خودې داسې معلومېږي لکه له افغانستان څخه چې راغلې يې ! !هو همداسې ده زه له فغانستان څخه راغلې يم او دلته پوهنتون وايم او سپمن زما ملګری دی هغه داخوورځې نه راځي خيرخوبه وي اوتاسو ولې داسې غمجن ياست ، اوس خو پوره معلومات راکړی ،چې په هغه څه چل شوی دی ،له لاسه يې ونيوم ،کوټې ته يې بوتلم هغې کوټې ته چې سپمن به پکې مطالعه کوله هلته د سپمن قسم قسم عکسونه ،درو پشي ګانې ،نکتايانې ،بوټونه اوراز راز سامانونه ايښې وو زه يې په کوچ کېنولم ،او کيسه يې راته وکړه چې سپمن درې ورځې مخکې له کوره د برېه تلوار کې ووته غوښتل يې چې پوهنتون ته ولاړ شي موږ پرې د برټينګار وکړ چې احتياط وکړي خو دالله له طرفه مقرره شوه بيانه بدلېږي په لاره کې يې اکسيډنټ کړی وه او د شفاخانې نه ماته ټيليفون وشو چې بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژرور شم کله چې هلته ورسېدم د سېمن اخري شېبې وې ،دلته شونډې په غاښونو کې وچيچلې خو خپله ژړا يې راقابو نشوه کړای له سترګو يې داوښکو باران شروع شو ،ماهم ژړل ،خپلو خبرو ته يې ادامه ورکړه اوپه ډېر وسختو حالاتو کې يې زما په لاس کې لاکت کېښود ،لاکت يې راښکاره کړ په هغې کې زما نوم په انګليسي ليکل شوی وه (اوښکه) ماددې لاکت په ليدلو ځان قابو نشوای کړای اوله خولې ځخه مې بې اختياره چيغه ووته سېمن سېمن خو هغه زما پرسر لاس راکش کړ او تصلي يې راکړه ،چې خير دی داهرڅه دهغه زات له طرفه وي چې مونږ ته هرڅه راکوي او بېرته يې اخلي ،په هرحال يې شکر ،ماته ددې دي خبرو ډېره تصلي راکړه او دده دې صبراوحوصلې ته حيرانه پاته شوم ،ماورته وويل چې زه کولی شم د سېمن قبرته ورشم ؟زه اوسيماچې د سېمن کشره خور وه له پلار سره يې په کوچني موټرکې سپاره شوه چې ډېر بوري هم سيماکوله له کورڅخه دوه کيلومتره لرې فاصله کې يوه لويه اوسپنيزه چهارديوالۍ ته ورسيدو چې په عمومي دروازه يې په انګليسي ليکل شوي وه afghan's graveyard(دافغانانو هديره )ماپه ډېره حيرانتيا ورته کتل چې سيماله لاسه ونيولم راځه بويې تلم يو نوي قبرت يې چې په رنګارنګ ز رکو پوښل شوی وه ودرولم ماته بيا ډېره ژړا راغله ښه شېبه مې وژړل خو چې ددوی صبرته مې وکتل نو ځان مې راقابو کړ يوڅو شېبې ورته ولاړوو نورترې راوان شولو په لاره کې د سېمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار لماڅخه دنوم او ځای پوښتنه وکړه ما ورته وویل چې زه افغانه یم او نوم مې اوښکه ده هغه ماته په ځیرځیر راوکتل اوبیا یې جېب ته لاس کړ هغه لاکټ یې راوو یسته ، کله به یې په لاکټ کې لیکل شوي نوم ته کتل او کله یې ماته، یو ځل یې زما سرپه غېږکې ونیوه او زړه ته یې نږدې کړم، پرتندي یې ښکل کړم او لاکټ یې راپه غاړه کړ ،راته یې وویل چې ته به هروخت راځې زموږ کورته موږ ستاپه سترګو کی دخپل زوی مینه وینو ،خو په دې ځای چې کې زمالپاره ډېرعجیب ول هغه ددوی صبراو حوصله چې په ډېر کم وخت کې یې غوښتل چې خپل دزړه ټوټه هېرکړي ،خوزما هېڅ له خیاله نه وځي او دا لاکټ چې ته زما په غاړه وینې داهماغه لاکټ دی چې نن یې هم له ماسره د سپمن مینه ژوندۍ ساتلې ده.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**